# د بادشاهانو اول کِتاب

## پېژندګلو

اول بادشاهان د حضرت داؤد علیه السلام مرګ او د هغهٔ د زوئ حضرت سلیمان علیه السلام بادشاهۍ سره شروع کیږی. حضرت سلیمان علیه السلام د دُنیا د نورو ټولو بادشاهانو نه زیات مالداره او د ټولو نه زیات د حِکمت خاوند وو. خو حضرت سلیمان علیه السلام چې بهرنیو ښځو سره ودونه وکړل او د هغوئ د رسم و رِواج سره یې واسطه راغله نو د خلقو دپاره یې یو دلیل پېدا کړو چې د یو واحد خُدائ پاک نه واوړی. اول بادشاهان په یروشلم کښې د مالِک خُدائ د کور د جوړولو بیان کوی او د صحیح عبادت اهمیت ته اِشاره کوی. په دې کِتاب کښې د خُدائ پاک وفاداری داسې ښکاره کیږی چې پېغمبران رالېږی او خصوصاً الیاس نبی چې خلقو ته خبردارے ورکوی چې د نورو خُدایانو عبادت مهٔ کوئ. دا کِتاب مونږ ته ښائی چې بُتانو ته د عبادت کولو نتیجې څومره د تباهۍ باعث ګرځی. دا د فرد واحد او د قومونو د تباهۍ سبب جوړیږی. د حفظ کولو دپاره ۳۹:۸ آیت ”یواځې تهٔ د انسان د زړهٔ په خیالونو پوهېږې. د هر چا سره هغه سلوک کوه چې څنګه یې حقدار وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد بوډاتوب

١ ١ داؤد اوس د ډېر عُمر سړے وو، کۀ په هغۀ باندې به
ډېرې بسترې واچولے شوې نو هغه به بيا هم نۀ گرمېدو. ٢
خپلو آفسرانو هغۀ ته ووئيل، ”بادشاه سلامت، مونږ به يوه
پېغله ولټوُو چې تا سره وى او ستا خِدمت کوى. هغه به ستا
په څنګ کښې څملى او تا به گرم ساتى.“ ٣ هغوئ په ټولو
بنى اِسرائيلو کښې يوې ښُکلې پېغلې پسې وګرځېدل او په
شونيم کښې يې يوه داسې جينۍ پيدا کړه چې نوم يې
ابى‌شاګ وو او بادشاه له يې راوستله. ٤ هغه ډېره ښائسته
وه او د بادشاه خِدمت يې کولو او د هغۀ خيال يې ساتلو، خو
د ښځې په توګه يې نۀ استعمالوله.

## د ادونياه په تخت د کښېناستو دعوىٰ کول

٥-٦ چې ابى‌سلوم مړ شو نو د داؤد او حجيت مشرے
ژوندے زوئ ادونياه وو. هغه ډېر ښائسته سړے وو. داؤد د
هغۀ سره هيڅ کله سختى نۀ وه کړې، هغۀ خپل ځان اوچتولو
او وئيل يې چې، ”زۀ به بادشاه يم.“ هغۀ د ځان دپاره د جنګى
ګاډو، آسونو او د پنځوسو سړو بندوبست کړے وو چې د
حِفاظت دپاره ورسره وى. ٧ هغۀ يوآب (چې د هغۀ مور
ضروياه وه) او د ابياتار اِمام سره خبره وکړه او هغوئ په
دې راضى شول چې د هغۀ د خبرې ملګرتيا وکړى. ٨ خو
صدوق اِمام، د يهويدع زوئ بناياه، ناتن پيغمبر، سِمعى،
ريعى او د داؤد محافظان د ادونياه په طرف نۀ وُو. ٩ يوه
ورځ ادونياه د عين‌راجل چينې سره نزدې، د مار د ګټ سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ګډانو، غوَیانو او د څربو سخو قربانی پېش کړه. هغهٔ د
داؤد بادشاه نورو زامنو او د بادشاه وزیرانو او آفسرانو له
دعوت ورکړو کوم چې د یهوداه وُو چې د قربانۍ دې
مېلمستیا له راشی، ۱۰ خو هغهٔ خپل ناسکه ورور سلیمان،
ناتن پېغمبر، بنایاه او د بادشاه محافظانو له دعوت ورنهٔ کړو.

## د حضرت سلیمان بادشاه جوړېدل

۱۱ ناتن د سلیمان مور بتسبع له لاړو او د هغې نه یې
تپوس وکړو، "تهٔ خبر نهٔ یې څهٔ چې د حجیت زوئ ادونیاه
خپل ځان بادشاه جوړ کړے دے؟ او داؤد د دې نه خبر هم
نهٔ دے. ۱۲ کهٔ تهٔ خپل ژوند او خپل زوئ سلیمان بچ کول
غواړې نو زهٔ به یوه مشوره درکړم. ۱۳ داؤد بادشاه له فوراً
لاړه شه او تپوس ترې نه وکړه چې، بادشاه سلامت، تا زما
سره دا پوخ لوظ نهٔ وو کړے څهٔ چې زما زوئ سلیمان به
ستا نه پس بادشاه جوړوې؟ نو دا ادونیاه ولې بادشاه شو؟"
۱۴ او ناتن دا هم وفرمائیل، "چې کله تهٔ د داؤد بادشاه سره
خبرې کوې، نو زهٔ به درشم او ستا ټولې خبرې به رښتیا
کړم." ۱۵ نو بتسبع د بادشاه مِلاوېدو له د بادشاه کوټې ته
ورغله. هغه ډېر بوډا شوے وو او شونیمی ښځې ابی‌شاګ د
بادشاه خِدمت کولو. ۱۶ بتسبع د بادشاه په مخکښې ټیټه
شوه او په زمکه پړمخې پرېوته او هغهٔ ترې نه تپوس وکړو،
"زهٔ ستا دپاره څهٔ وکړم؟" ۱۷ هغې ورته ووئیل، "بادشاه
سلامت، تا د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک په نوم زما سره
پوخ لوظ کړے وو چې زما زوئ سلیمان به ستا نه پس
بادشاه وی او ستا په تخت باندې به ناست وی. ۱۸ خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګوره، ادونیاه بادشاه شوے دے او صاحِبه، تهٔ د دې نه خبر
هم نهٔ يې. ۱۹ هغهٔ د ډېرو غوَيانو، ګډو او څربو سخو قربانى
پېش کړې ده او هغهٔ ستا زامنو، ابياتار اِمام او ستا د لښکر
مشر يوآب له د مېلمستيا دعوت ورکړے دے، خو هغهٔ ستا
زوئ سليمان له دعوت نهٔ دے ورکړے. ۲۰ بادشاه
سلامت، د بنى اِسرائيلو ټول خلق ستا په طمع دى چې هغوئ
ته ووائې چې ستا نه پس به څوک بادشاه جوړيږى. ۲۱ کهٔ
تهٔ داسې ونهٔ کړې نو چې تهٔ خنګه وفات شې نو ما سره او
زما د زوئ سليمان سره به د مجرمانو په شان سلوک
کيږى." ۲۲ د هغې خبرې جارى وې چې ناتن محل ته
راورسېدو. ۲۳ بادشاه خبر شو چې پېغمبر هلته دے، ناتن
لاړو او د بادشاه په مخکښې ټيټ شو او پړمخې پرېوتو. ۲۴
بيا هغهٔ وفرمائيل، "بادشاه سلامت، تا دا اِعلان کړے دے
چې ستا نه پس به ادونياه بادشاه وى؟ ۲۵ هغه نن تلے دے
او د غوَيانو، ګډو او د څربو سخو قربانى يې پېش کړې ده.
هغهٔ ستا ټولو زامنو، ستا د لښکر مشر يوآب او ابياتار اِمام له
دعوت ورکړے دے او وګوره هغوئ د هغهٔ سره په روټۍ
کښې شريک دى او چغې وهى چې ادونياه بادشاه زندهباد.
۲۶ خو بادشاه سلامت، هغهٔ ما، صدوق اِمام، بناياه او
سليمان له دعوت رانهٔ کړو. ۲۷ بادشاه سلامت، تا د دې
مېلمستيا اجازت ورکړے دے؟ خپلو وزيرانو او آفسرانو ته
دې هم ونهٔ وئيل چې ستا نه پس به بادشاه څوک وى؟" ۲۸
داؤد بادشاه وفرمائيل، "بتسبع ته ووايئ چې دننه راشى." نو
راغله او د هغهٔ په مخکښې ودرېده. ۲۹ بيا هغهٔ ورته
وفرمائيل، "زهٔ تا ته د ژوندى مالِک خُدائ په نوم قسم کوم،
چې هغهٔ زهٔ د ټولو مصيبتونو نه بچ کړے يم، ۳۰ نن به زهٔ تا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره هغه لوظ پوره کوم چې ما درسره د مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو د خُدائ پاک په نوم کړے دے، چې ستا زوئ
سليمان به زما نه پس هم نن د بادشاهۍ په تخت کښېنی.“
٣١ بت‌سبع ورته ټيټه شوه، پړمخې پرېوتله او وې وئيل،
”بادشاه سلامت دې تل تر تله ژوندے وی.“ ٣٢ بيا داؤد
بادشاه صدوق اِمام، ناتن پېغمبر او د يهويدع بناياه
راغوښتل. کله چې هغوئ دننه راغلل، ٣٣ نو هغهٔ ورته
وفرمائيل، ”زما د دربار آفسران د ځان سره بوځئ، زما زوئ
سليمان دې زما په قچره باندې سور شی او لاندې د جيحون
چينې پورې د هغهٔ ملګرتيا وکړئ، ٣٤ چرته چې صدوق
اِمام او ناتن پېغمبر هغه د بنی اِسرائيلو د بادشاه په توګه سر
په تېلو غوړ کړی نو بيا بيګل وغږوئ او چغې کړئ چې
سليمان بادشاه زنده‌باد. ٣٥ په هغهٔ پسې واپس دلته راشئ
چې کله هغه زما په تخت باندې د کښېناستو دپاره راځی. هغه
به زما نه پس بادشاه وی، ځکه چې هغه ما خوښ کړے دے
چې د اِسرائيل او يهوداه بادشاه شی.“ ٣٦ بناياه ورته ووئيل،
”هم داسې به وشی او مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې دا
خبره يقينی کړی. ٣٧ بادشاه سلامت، څنګه چې مالِک
خُدائ ستا مل دے نو د سليمان دې هم مل شی او د هغهٔ
بادشاهی دې ستا نه هم زياته بختوره کړی.“ ٣٨ نو صدوق،
ناتن او بناياه روان شول او د داؤد محافظان يې د ځان سره
کړل. سليمان د داؤد بادشاه په قچره سور وو او د جيحون
چينې پورې يې د هغهٔ ملګرتيا وکړه. ٣٩ صدوق د زيتُونو
هغه تېل واخستل چې کوم يې د مالِک خُدائ د حضور د
خېمې نه راوړی وُو او د سليمان سر يې په تېلو غوړ کړو.
هغوئ بيګل وغږولو او ټولو خلقو چغه کړه، ”سليمان بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زندهباد.“ ۴۰ بيا ټول خلق ورپسې روان شول، د خوشحالۍ
نه يې چغې وهلې او شپېلۍ يې غږولې، دومره زيات شور يې
کولو چې زمکه يې خوځوله. ۴۱ کله چې ادونياه او د هغهٔ
ټولو مېلمنو روټۍ ختموله، نو هغوئ شور واورېدو. او کله
چې يوآب د بيګل آواز واورېدو نو تپوس يې وکړو، ”په ښار
کښې د دې شور څهٔ مطلب دے؟“ ۴۲ هغهٔ لا خبره ختمه
کړې نهٔ وه چې د ابياتار اِمام زوئ يونتن راورسېدو. ادونياه
ورته ووئيل، ”دننه راشه، ستا په شان ښهٔ سړے به خامخا يو
ښهٔ زېرے راوړی.“ ۴۳ يونتن ورته ووئيل، ”نه، دا خبره
نشته داؤد سليمان بادشاه جوړ کړے دے. ۴۴ هغهٔ صدوق،
ناتن، بناياه او شاهی محافظان راوغوښتل چې د هغهٔ ملګرتيا
وکړی. هغوئ هغه د بادشاه په قچره باندې سور کړو، ۴۵
صدوق او ناتن هغه د جيحون چينې سره د بادشاه په توګه
مقرر کړو. بيا هغوئ ښار ته لاړل، د خوشحالۍ نه يې دا چغې
وهلې چې اوس خلق په جوش کښې دی. دا هغه شور دے
چې تهٔ يې اورې. ۴۶ نو سليمان اوس بادشاه شوے دے او
د بادشاهۍ په تخت ناست دے. ۴۷ بله خبره دا چې د دربار
آفسران خپل بادشاه داؤد له عزت ورکولو دپاره دننه ورغلل
او ورته يې ووئيل، ستا خُدائ پاک دې سليمان ستا نه هم
زيات مشهور کړی او د سليمان بادشاهی دې ستا نه هم زياته
بختوره شی. بيا داؤد بادشاه په خپل کټ کښې د عبادت
دپاره ټيټ شو. ۴۸ او بادشاه دا هم وفرمائيل، راځئ، د
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک ثناء صِفت وکړُو،
چې هغهٔ زما د اولاد نه يو کس زما نه پس بادشاه جوړ کړو
او هغهٔ زهٔ ژوندے پرېښودم چې دا وګورم.“ ۴۹ بيا د ادونياه
ټول مېلمانهٔ وېرېدل، هغوئ پاڅېدل او لاړل، هر يو په خپله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخه لاړو. ۵۰ ادونیاه چې د سلیمان نه سخت په یره کښې
وو، هغه د مالِک خُدائ د حضور خېمې ته تیز لاړو او د خپل
ژوند بچ کولو دپاره د قربانګاه ښکر یې ونیول. ۵۱ سلیمان
بادشاه خبر شو چې ادونیاه د هغهٔ نه ویرېدو او د قربانګاه
ښکر یې ونیول او ادونیاه وئیل، "وړومبې خبره دا ده چې
سلیمان بادشاه ما ته قسم وکړی چې هغه به ما نهٔ وژنی."
۵۲ سلیمان ورته وفرمائیل، "کهٔ هغه وفادار وی، نو د هغهٔ د
سر یو وېښتهٔ به هم نهٔ ضائع کیږی، خو کهٔ هغه لانجې
جوړوی، نو مړ به شی." ۵۳ سلیمان بادشاه ادونیاه
راغوښتو او د قربانګاه نه راکوز کړے شو. ادونیاه بادشاه
له لاړو او د هغهٔ په مخکښې تیټ شو او بادشاه هغهٔ ته
وفرمائیل، "تهٔ کور ته ځان ورسوه."

## د حضرت داؤد حضرت سلیمان ته وصیت

٢ ١ کله چې داؤد د مرګ په حالت کښې وو، نو هغهٔ
خپل زوئ سلیمان راوغوښتلو او وصیت یې ورته وکړو، ٢
"زما وخت پوره دے، تکړه سړے شه او حوصله مضبوطه
کړه. ٣ او هغه څهٔ کوه چې مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک
یې حُکم درکوی. او د هغهٔ ټول قانون او حُکمونه منه، لکه
څنګه چې د موسیٰ په شریعت کښې لیکلے شوی دی، بیا
چې چرته هم ځې نو په هر کار کښې به کامیاب یې. ٤ کهٔ
تهٔ د هغهٔ فرمانبرداری کوې نو مالِک خُدائ به هغه لوظ پوره
کړی چې ما ته یې فرمائیلی وُو چې زما اولاد به تر هغې پورې
په بنی اِسرائیلو بادشاهی کوی چې هغوئ په وفادارئ سره د
زړهٔ د اخلاصه د هغهٔ حُکمونه منی. ٥ د دې نه علاوه تا ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پته ده چې يوآب زما سره څۀ وکړل چې د بنی اِسرائيلو د
لښکر دوه مشران يې ووژل، يعنې د نير زوئ ابنير او د يتر
زوئ عماسا. تا ته ياد دی چې هغوئ يې د امن په وخت کښې
د بدل اخستلو دپاره ووژل. يوآب بې‌ګناه سری ووژل او چې
څۀ يې کړی وُو نو ذمه واری يې په خپل سر ده. ٦ د خپل
عقل نه کار واخله، هغه مۀ پرېږده چې سپين‌ږيرے شی او په
خپل مرګ مړ شی. ٧ خو د جِلعاد د برزلی زامنو ته خپله
مِهربانی وښايه او د هغوئ خيال وساته، ځکه چې زۀ کله ستا
ورور ابی‌سلوم نه تښتېدم نو هغوئ په ما مهربانه وُو. ٨ په
بنيامين کښې د بحوريم ښار د جيرا زوئ سِمعی هم دے. کله
چې زۀ محنايم ته تلم نو هغۀ ما ته سختې ښېرې کولې، خو
چې کله هغه د اُردن سيند سره ما سره مِلاو شو، نو ما د
مالِک خُدائ په نوم د سِمعی سره پوخ لوظ وکړو چې زۀ به
هغه نۀ وژنم. ٩ تر څو چې دې سزا نۀ وی ورکړې چې هغه
پرې نۀ ږدې. ځکه چې تۀ د حِکمت خاوند يې او تا ته به پته
ولګی چې څۀ کول په کار دی، او تۀ به دا خبره يقينی کوې
چې هغه په سخت مرګ مړ شی.“

## د حضرت داؤد مرګ

١٠ نو داؤد وفات شو او د داؤد په ښار کښې ښخ شو. ١١
څلويښت کاله هغه د بنی اِسرائيلو بادشاه وو، اووۀ کاله يې په
حبرون کښې او درې ديرش کاله يې په يروشلم کښې
بادشاهی وکړه. ١٢ سليمان د خپل پلار داؤد نه پس بادشاه
شو او د هغۀ بادشاهی مضبوطه قائمه شوه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ادونیاه مرګ

۱۳ بیا ادونیاه چې د هغهٔ مور حجیت وه، بتسبع له لاړه
چې هغه د سلیمان مور وه. هغې ترې نه تپوس وکړو، "تهٔ د
خېر دپاره راغلې؟" هغهٔ ورته ووئیل، "آو." ۱۴ هغهٔ بیا دا هم
ووئیل، "زهٔ تا ته یو عرض کوم." هغې ورته ووئیل، "څهٔ دی،
ووایه؟" ۱۵ هغهٔ ورته ووئیل، "تا ته پته ده چې بادشاهی زما
حق وو او ټولو بنی اِسرائیلو غوښتل چې زهٔ بادشاه جوړ شم.
خو خبره بدله شوه او زما ورور بادشاه شو، ځکه چې دا د
مالِک خُدائ مرضی وه. ۱۶ او اوس زهٔ یو عرض کول
غواړم، مِهربانی وکړه چې اِنکار ونهٔ کړې." بتسبع ورته
ووئیل، "ووایه." ۱۷ هغهٔ ورته ووئیل، "مِهربانی وکړه چې
سلیمان بادشاه ته ووایه، ما ته پته ده چې هغه به تا ته اِنکار نهٔ
کوی، چې هغه ما پرېږدی چې شونیمې ښځه ابی‌شاګ وادهٔ
کړم." ۱۸ هغې ورته ووئیل، "ټیک ده، زهٔ به د بادشاه سره
ستا دپاره خبره وکړم." ۱۹ نو بتسبع بادشاه له لاړه چې د
هغهٔ سره د ادونیاه دپاره خبره وکړی. بادشاه پاڅېدو چې
خپلې مور ته سټرې مشی وکړی او د هغې په مخکښې ټیټ
شو. بیا هغه په خپل تخت کښېناستو او د هغې دپاره یې بل
تخت راوړو چې د هغهٔ ښی طرف ته هغه پرې کښېنی. ۲۰
هغې ورته ووئیل، "زهٔ غواړم چې تهٔ زما سره یوه معمولی
شان نېکی وکړې، مِهربانی وکړه چې ما ته اِنکار ونهٔ کړې."
هغهٔ ورته وفرمائیل، "زما مورې، څهٔ وئیل غواړې، زهٔ به تا ته
اِنکار نهٔ کوم." ۲۱ هغې ورته ووئیل، "خپل ورور ادونیاه
پرېږده چې د ابی‌شاګ سره وادهٔ وکړی." ۲۲ بادشاه ترې نه
تپوس وکړو، "تهٔ ما ته دا څنګه وائې چې ابی‌شاګ ادونیاه له

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړم؟ کېدے شی دا هم راته ووائې چې هغۀ له تخت هم
ورکړه، ځکه چې هغه خو زما مشر ورور دے او ابیاتار اِمام
او یوآب د هغۀ په طرف دی.“ ۲۳ بیا سلیمان د مالِک خُدائ
په نوم یو پوخ لوظ وکړو، ”کۀ ما ادونیاه ژوندے پرېښودو نو
خُدائ پاک دې ما ووژنی. ۲۴ مالِک خُدائ زۀ د خپل پلار
داؤد په تخت مقرر کړے او کښېنولے یم، هغۀ خپله وعده
پوره کړې ده او ما او زما اولاد له یې بادشاهی راکړې ده. زۀ
په مالِک خُدائ قسم کوم چې نن به ادونیاه وژلے شی.“ ۲۵
نو سلیمان بنایاه له حُکم ورکړو، هغه لاړو او ادونیاه یې
ووژلو.

## د ابیاتار شړل او د یوآب مرګ

۲۶ بیا سلیمان ابیاتار اِمام ته وفرمائیل، ”تۀ په عنتوت کښې
خپل مُلک ته لاړ شه. تۀ د مرګ حقدار یې، خو زۀ به تا اوس
نۀ وژنم، ځکه چې تۀ کله زما د پلار داؤد سره وې نو د مالِک
خُدائ د لوظ صندوق ذمه وار وې او تۀ د هغۀ سره په ټولو
تکلیفونو کښې شریک وې.“ ۲۷ بیا سلیمان ابیاتار د مالِک
خُدائ د اِمامت د خِدمت نه لرې کړو، نو داسې چې مالِک
خُدائ په سیلا کښې د عیلی اِمام او د هغۀ د اولاد په حقله څۀ
فرمائیلی وُو هغه یې رښتیا کړل. ۲۸ یوآب په مخکښې
بغاوت کښې د ابی‌سلوم ملګرتیا نۀ وه کړې، خو د ادونیاه د
بغاوت ملګرتیا یې کړې وه. کله چې یوآب د ادونیاه د مرګ
نه خبر شو، نو یوآب د مالِک خُدائ د حضور خیمې ته
وتښتېدو او د قربان‌ګاه ښکر یې ونیول. ۲۹ کله چې سلیمان
خبر شو چې یوآب قربان‌ګاه ته تښتېدلے دے نو سلیمان یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېغام وړونکے ورولېږلو چې تپوس ترې نه وکړی چې
قربانګاه ته ولې تښتېدلے يې. يوآب ورته ووئيل چې زۀ
مالِک خُدائ له ځکه راتښتېدلے يم چې زۀ د سليمان نه
يرېدم. نو سليمان بادشاه بناياه ورولېږلو چې يوآب ووژنی.
۳۰ بناياه د مالِک خُدائ د حضور خېمې ته لاړو او يوآب ته
يې ووئيل، ”بادشاه تا ته حُکم کوی چې بهر راووځه.“ يوآب
ورته ووئيل، ”نۀ، زۀ به دلته مرم.“ بناياه واپس بادشاه له لاړو
او چې يوآب څۀ وئيلی وُو هغه يې ورته ووئيل. ۳۱ سليمان
ورته ووئيل ”هم هغه شان وکړه چې څنګه هغه وائی. هغه
ووژنه او ښخ يې کړه، نو داسې ما او زما د پلار کور د هغه
ګناه نه پاک کړه چې کومه بېګناه وينه يوآب توئ کړې وه
۳۲ او مالِک خُدائ به د دې قتلونو په وجه يوآب له سزا
ورکړی، کوم يې چې زما د پلار داؤد په ناخبرۍ کښې کړی
وُو. يوآب دوه بېګناه سړی ووژل چې د هغۀ نه ښۀ وُو يعنې،
ابنير چې د بنی اِسرائيلو د لښکر مشر وو او عماسا چې د
يهوداه د لښکر مشر وو. ۳۳ د هغوئ د قتل ټوله سزا به په
يوآب او د هغۀ د اولاد په غاړه د تل دپاره وی. خو مالِک
خُدائ به داؤد، د هغۀ اولاد، خاندان او د هغۀ بادشاهۍ له تل
خېر ورکوی.“ ۳۴ نو بناياه د مالِک خُدائ د حضور خېمې
له لاړو او يوآب يې ووژلو او هغه په صحرا کښې د خپل کور
سره ښخ کړے شو. ۳۵ نو بادشاه د يوآب په ځائ بناياه د
فوج مشر جوړ کړو او صدوق اِمام يې د ابياتار په ځائ مشر
جوړ کړو.

## د سِمعی مرګ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ نو بادشاه سِمعی راوغوښتو او ورته یې وفرمائیل، ”دلته
په یروشلم کښې د ځان دپاره کور جوړ کړه. په هغې کښې
اوسیږه او د دې ښار نه چرته هم مهٔ ځه. ۳۷ کهٔ تهٔ کله هم
لاړ شې او د قِدرون ولې نه واوړې نو دا پخه خبره ده چې تهٔ
به خامخا مړ شې او خُون به ستا په خپله غاړه وی.“ ۳۸
سِمعی ورته ووئیل، ”بادشاه سلامت، تا ډېره ښهٔ خبره وکړه،
تهٔ چې څهٔ غواړې نو زهٔ به هم هغه کوم.“ نو هغه تر ډېر وخت
پورې په یروشلم کښې اوسېدو. ۳۹ درې کاله وروستو، د
سِمعی دوه غلامان د جات بادشاه د معکه زوئ اکیس له
وتښتېدل. نو چې سِمعی خبر شو چې هغوئ په جات کښې
دی، ۴۰ نو هغهٔ خپل خر کته کړو او په جات کښې اکیس
بادشاه له لاړو، چې خپل غلامان ولټوی. هغوئ یې پېدا کړل
او واپس یې خپل کور ته راوستل. ۴۱ کله چې سلیمان خبر
شو چې سِمعی څهٔ کړی وُو، ۴۲ نو سِمعی یې راوغوښتو او
ورته یې وفرمائیل، ”ستا نه ما د مالِک خُدائ په نوم لوظ نهٔ
وو اخستے چې تهٔ به د یروشلم نه نهٔ وځې؟ او ما سخت
خبردارے درکړو کهٔ تا کله هم داسې وکړل نو خامخا به مړ
شې. ولې تهٔ په دې باندې ما سره راضی شوے نهٔ وې څهٔ
چې زما حُکم به منې؟ ۴۳ نو بیا تا ولې د مالِک خُدائ سره
خپله وعده ماته کړې ده او زما د حُکم نافرمانی دې کړې ده؟
۴۴ تا ته د هغه ټولو بدو عملونو ډېره ښهٔ پته ده چې تا زما
پلار داؤد سره کړی دی. مالِک خُدائ به د دې په بدل کښې
سزا درکړی. ۴۵ خو هغه به ما له برکت راکړی او د داؤد
بادشاهی به د همېشه دپاره په امن کښې کړی.“ ۴۶ بیا
بادشاه بنایاه له حُکم ورکړو او بنایاه لاړو او سِمعی یې
ووژلو. بادشاهی اوس په پوره توګه د سلیمان په قابو کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وه.

## د حضرت سليمان د حِکمت دپاره دُعا غوښتل

٣ ١ سليمان د مِصر بادشاه فِرعون سره اِتحاد وکړو او
د هغۀ لور يې وادۀ کړه. هغه يې د داؤد ښار ته راوستله او تر
هغې پورې هلته اوسېدله چې ترڅو پورې هغۀ خپل محل، د
مالِک خُدائ کور او د يروشلم ګېرچاپېره دېوال جوړول ختم
کړی نۀ وُو. ٢ د مالِک خُدائ کور تر اوسه پورې نۀ وو
جوړ شوے، نو خلقو په علاقائی عبادتخانو کښې قربانۍ
پېش کولې. ٣ سليمان د مالِک خُدائ سره مينه کوله او د
خپل پلار داؤد په خبرو يې عمل کولو، خو هغۀ هم په علاقائی
عبادتخانې کښې خوشبويۍ سوزولې او قربانۍ يې پېش کولې.
٤ يوه ورځ هغه د قربانۍ پېش کولو دپاره جبعون ته لاړو
چرته چې د قربانۍ مرکزی ځائ وو. هغۀ هلته يو زر
سوزېدونکې نذرانې پېش کړې. ٥ په هغه شپه مالِک خُدائ
هغۀ ته په خوب کښې څرګند شو او تپوس يې ترې نه وکړو،
”تۀ څۀ غواړې چې زۀ يې درکړم؟“ ٦ سليمان ورته
وفرمائيل، ”تا زما پلار خپل خِدمت کوونکی داؤد ته هميشه
ډېره مينه ښودلې ده او هغه په خپل تعلق کښې تا سره نېک،
وفادار او صادق وو. تۀ هغۀ ته خپله لويه او نۀ بدلېدونکې
مينه تر اوسه پورې ښائې چې هغۀ له دې يو زوئ ورکړو کوم
چې د هغۀ په ځائ نن په تخت ناست دے. ٧ مالِکه خُدايه،
زما خُدائ پاکه، تا زۀ د خپل پلار نه پس بادشاه جوړ کړے
يم، اګر چې زۀ د يو وړوکی ماشوم په شان يم او په هيڅ هم
نۀ پوهېږم. ٨ زۀ دلته د هغه خلقو په مينځ کښې يم چې تا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان دپاره غوره کړی دی. هغه قوم دومره لوئ دے
چې د شمېر نه بهر دے. ۹ نو ما له حِکمت راکړه چې ستا
په خلقو باندې په اِنصاف سره بادشاهی وکړم او د ښۀ او بد
په مینځ کښې فرق وپېژنم. ګنې زۀ به څنګه د دې جوګه شم
چې ستا په لوئ قوم باندې بادشاهی وکړم؟“ ۱۰ مالِک
خُدائ د سلیمان په دې غوښتنه باندې خوشحاله شو، ۱۱ نو
هغۀ ورته وفرمائيل، ”تا حِکمت غوښتلے دے چې په اِنصاف
سره بادشاهی وکړې او خپل اوږد عُمر، مالداری او د خپل
دشمن مرګ دې نۀ دے غوښتے، ۱۲ نو په دې وجه به زۀ
هغه څۀ وکړم چې تا غوښتی دی. زۀ به تا له دومره ډېر
حِکمت او پوهه درکړم چې نۀ به چا ته مخکښې مِلاو شوې
وی او نۀ به تا نه وروستو چا ته مِلاو شی. ۱۳ زۀ به تا له
هغه څۀ هم درکړم چې تا نۀ دی غوښتی، ترڅو پورې چې تۀ
ژوندے یې نو تۀ به دولتمند او عزتمند یې، نو داسې تۀ به د
ټولو بادشاهانو نه لوئ بادشاه یې. ۱۴ او کۀ تۀ د خپل پلار
داؤد په شان زما تابعداری کوې او زما قانون او حُکمونه
پوره کوې، نو زۀ به تا له یو اوږد عُمر درکړم.“ ۱۵ سلیمان
راویښ شو او پته ورته ولګېده چې خُدائ پاک ورسره په
خوب کښې خبرې وکړې. بیا هغه یروشلم ته لاړو او د مالِک
خُدائ د لوظ صندوق په مخکښې ودرېدو او مالِک خُدائ ته
یې سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې پېش کړې. او د
خپلو درباریانو دپاره یې یوه لویه مېلمستیا وکړه.

## د حضرت سلیمان د یوې مشکلې لانجې فیصله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ یوه ورځ دوه کنجرې ښځې راغلې او سليمان بادشاه په
مخکښې يې خپل ځانونه پېش کړل. ۱۷ هغې يوې په کښې
ووئيل، "بادشاه سلامت، دا ښځه او زۀ په يو کور کښې
اوسېږو او چې دا کله هلته وه نو زما يو ماشوم پېدا شو. ۱۸
زما د زوئ د پېدا کېدو په درېمه ورځ د هغې هم يو ماشوم
پېدا شو. په هغه کور کښې صِرف زۀ او هغه وُو او بل هيڅ
څوک هم موجود نۀ وُو. ۱۹ نو يوه شپه هغه په غلطئ سره
هغې خپل ماشوم د اړخ لاندې کړو او د هغۀ ساه يې بنده
کړه. ۲۰ هغه د شپې پاڅېده، چې کله زۀ اوده وم نو هغې
زما نه ماشوم واخستلو او په خپل څنګ کښې يې واچولو،
بيا هغې هغه مړ ماشوم زما په کټ کښې کېښودو. ۲۱ په
ورپسې سحر کله چې زۀ پاڅېدم او خپل ماشوم له مې تے
ورکولو، نو ومې ليدل چې دا خو مړ دے. ما په رڼا کښې ښۀ
په غور سره ورته وکتل او پته راته ولګېده چې دا خو زما
ماشوم نۀ دے." ۲۲ خو هغه بلې ښځې ووئيل، "نه، ژوندے
ماشوم زما دے او دا مړ ماشوم ستا دے." نو هغه وړومبۍ
ښځې جواب ورکړو، "نه، مړ ماشوم ستا دے او ژوندے
ماشوم زما دے." نو داسې هغوئ د بادشاه په وړاندې بحث
شروع کړو. ۲۳ نو سليمان بادشاه وفرمائيل، "تاسو دواړه
دا دعوې کوئ چې ژوندے ماشوم زما دے او مړ ماشوم
زما نۀ دے." ۲۴ نو هغۀ وفرمائيل چې تُوره راوړه او چې
کله تُوره راوړے شوه، ۲۵ نو هغۀ وفرمائيل، "دا ژوندے
ماشوم دوه ټوټې کړه او هرې يوې له نيم نيم ورکړه." ۲۶ د
کومې مور چې زوئ ژوندے وو او زړۀ يې د زوئ د مينې نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ړک وو، نو هغې بادشاه ته ووئیل، ”بادشاه سلامت، دا ماشوم
مۀ وژنه او هغې له يې ورکړه.“ خو هغې بلې ښځې ووئیل، ”دا
ماشوم مونږ یوې له هم مۀ راکوه او دوه ټوټې يې کړه.“ ٢٧
سلیمان وفرمائیل، ”ماشوم مۀ وژنه. او هغه ښځې له يې
ورکړه چې کومه وائی چې مۀ يې وژنه. هغه يې اصلی مور
ده.“ ٢٨ کله چې ټول بنی اِسرائیلیان د سلیمان د فېصلې نه
خبر شول، نو د هغۀ رُعب وربانديې پرېوتو، ځکه چې هغوئ
ته نوره پته ولګېده چې خُدائ پاک هغۀ له حِکمت ورکړے
دے چې په اِنصاف سره لانجې هوارې کړی.

## د حضرت سلیمان آفسران

۴ ١ سلیمان د ټولو بنی اِسرائیلو بادشاه وو، ٢ او دا
کسان د هغۀ لوئ آفسران وُو، د صدوق زوئ عزریاه اِمام،
٣ د دربار منشیان، د سیسه زامن الیحورف او اخیاه،
تاریخ لیکونکی، د اخیلود زوئ یهوسفط، ۴ د لښکر مشر، د
یهویدع زوئ بنایاه، اِمامان، صدوق او ابیاتار، ۵ د ضِلعې
د حکمرانانو مشر، د ناتن زوئ عزریاه، شاهی مشیر، د ناتن
زوئ زبود اِمام، ۶ د محل مشر، اخیسر، د هغه مزدورانو
مشر چې په زور کار ترې نه اخستے شو، د عبدا زوئ
ادونرام. ٧ سلیمان د بنی اِسرائیلو په مُلک کښې دولس
سړی د ضِلعې حکمران مقرر کړل. هغوئ د بادشاه او د هغۀ
د خاندان او درباریانو دپاره د خوراک بندوبست کولو. هر یو
سړے په کال کښې د یوې میاشتې ذمه وار وو. ٨ دا د هغه
دولسو آفسرانو او د هغه ضِلعو نومونه دی چې هغوئ د کومو
آفسران وُو. بِن‌حُور، د اِفرائیم د غرونو مُلک، ٩ بِن‌دِقر،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقص، سعلبيم، بيت‌شمس، ايلون، او بيت‌حنان، ١٠
بِن‌حصد، د اربوت او شوکه ښارونو او د حِفر د ټولې علاقې،
١١ بِن‌ابيناداب چا چې د سليمان لور طافت وادۀ کړې وه، د
دور د ټولې علاقې، ١٢ د اخيلود زوئ بعنه، د تعنک او
مِجدو د ښارونو او بيت‌شان ته نزدې د ټولې علاقې، ضرتان
ښار ته نزدې، د يزرعيل ښار جنوبى برخه او د ابيل‌محوله او
يقمعام ښار پورې، ١٣ بِن‌جبر، په رامات‌جِلعاد کښې د هغه
کلو چې د يائير د قبيلې وُو، يائير د منسى اولاد وو، په بسن
کښې د ارجوب علاقه، چې ټول شپېتۀ لوئ ښارونه وُو، چې
پاخۀ دېوالونه او په دروازو کښې يې د زېړو سيخونه لرل، ١٤
د عدو زوئ اخيناداب، د محنايم د علاقې، ١٥ اخيمعض، چا
چې د سليمان يوه بله لور باسمت وادۀ کړې وه، د نفتالى
علاقې، ١٦ د حوسى زوئ بعنه، د آشر علاقه او د بعلوت
ښار، ١٧ د فروح زوئ يهوسفط، د يساکار علاقه، ١٨ د ايله
زوئ سِمعى، د بنيامين علاقه، ١٩ د اورى زوئ جابر، د
جِلعاد علاقه چې په دې باندې امورى بادشاه سيحون او د
بسن بادشاه عوج بادشاهى کړې وه. د دې دولسو نه علاوه په
دې ټول مُلک باندې يو حکمران وو.

## د حضرت سليمان خوشحاله او آباده علاقه

٢٠ د يهوداه او د اِسرائيل خلق د سمندر په غاړه د شګو په
شان بې‌شمېره وُو، هغوئ خوراک څښاک کولو او خوشحاله
وُو. ٢١ د سليمان په بادشاهۍ کښې د فرات سيند نه واخله
تر فلستيانو مُلک او د مِصر د حد پولې پورې ټول قومونه
شامل وُو. هغوئ به هغۀ له محصُول ورکولو او چې ترڅو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندے وُو نو د هغهٔ خِدمت يې کولو. ۲۲ هغوئ سليمان له
هره ورځ تقريباً پينځهٔ زره کلو د ښو اوړو او لس زره کېلو
مېده بندوبست کولو، ۲۳ لس په غله باندې ساتلی ځاروی،
شل په څرېدو ساتلی ځاروی او سل ګډې، چې ورسره
هوسۍ، باره سينګۍ، غرځۍ او ځاربهٔ چرګان هم وُو. ۲۴
سليمان د فرات سيند نمرپرېواتهٔ طرف ته د تِفسَح نه واخله د
غزه ښار پورې په ټول مُلک بادشاهی کوله. او هغه د خپلو
ټولو ګاونډی مُلکونو سره په امن کښې وو. ۲۵ چې تر کومې
پورې هغه ژوندے وو نو د يهوداه او د اِسرائيل خلق په امن
سره اوسېدل، هر خاندان د انګورو باغونه او د اينځرو ونې
لرلې. ۲۶ سليمان د خپلو جنګی ګاډو د آسونو دپاره
څلوېښت زره اخورونه لرل او د خپلو فوجيانو دپاره يې
دولس زره آسونه لرل. ۲۷ هغه دولسو حکمرانانو به هر يو په
خپله خپله مياشت کښې سليمان بادشاه او د هغهٔ ټولو دپاره
د خوراک بندوبست کولو چې چا د هغهٔ د دسترخوان نه
خوراک کولو، هغوئ به د هر څيز داسې بندوبست کولو چې
د يو څيز کمے به هم نهٔ وو. ۲۸ هر يو حکمران خپله برخه
اوربشې او بوس هم هلته لېږل چرته چې ضرورت وو، دا د
جنګی ګاډو د آسونو او د نورو آسونو دپاره وُو. ۲۹ خُدائ
پاک سليمان له لوئ حِکمت، عقل او دومره پوهه ورکړې وه
چې د حِساب نه بهر وه. ۳۰ سليمان د نمرخاتهٔ د ټولو
هوښيارانو او د مِصر د هوښيارو سړو نه زيات هوښيار وو.
۳۱ هغه د ټولو خلقو نه زيات هوښيار وو، هغه د ازراحی
ايتان، د محول د زامنو هيمان، کلکُول او دردع نه زيات
هوښيار وو او د هغهٔ مشهورتيا په ګېرچاپېره ټولو مُلکونو
کښې خوره شوه. ۳۲ هغهٔ درې زره متلونه او يو زر او پينځهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سندرې جوړې کړې. ۳۳ هغهٔ د ونو او بوټو په حقله خبرې
کولې، د لبنان د دِیار نه واخله تر ویلنی پورې چې په دېوالونو
باندې کیږی، هغهٔ د ځناورو، مارغانو، په خېټه ښوئېدونکو
ځیزونو او کبانو په حقله خبرې کولې. ۳۴ د ټولې دُنیا
بادشاهان د سلیمان د حِکمت نه خبر شول او خلق یې
ورلېږل چې د هغهٔ خبرې واورى.

## د حضرت سلیمان د مالِک خُدائ د کور جوړولو تیارے کول

۵ ۱ د صور بادشاه حیرام د داؤد همېشه ملګرے وو او
چې کله هغه خبر شو چې سلیمان د خپل پلار داؤد نه پس
بادشاه جوړ شوے دے نو هغهٔ له یې سفیران ورولېږل. ۲
سلیمان حیرام ته دا پېغام ولېږلو، ۳ "تا ته پته ده چې زما
پلار داؤد هر وخت د هغه ګېرچاپېره مُلکونو د دشمنانو سره
جنګونه کول نو په دې وجه هغهٔ د مالِک خُدائ د هغهٔ خُدائ
پاک دپاره یو کور تر هغې پورې نهٔ شو جوړولے چې مالِک
خُدائ هغهٔ له په خپلو دشمنانو باندې فتح نهٔ وه ورکړې. ۴
خو اوس مالِک خُدائ زما خُدائ پاک زما ټول سرحدونه په
امن کښې کړی دی. نهٔ زما دشمنان شته او نهٔ د حملې څهٔ
خطره شته. ۵ مالِک خُدائ زما د پلار داؤد سره وعده
کړې وه چې ستا زوئ، کوم چې ستا نه پس بادشاه جوړوم،
هغه به زما دپاره یو کور جوړ کړی. او اوس ما دا فېصله
کړې ده چې د مالِک خُدائ زما د خُدائ پاک د عبادت دپاره
به هغه کور جوړ کړم. ۶ نو خپل سړی لبنان ته ولېږه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما دپاره د دِیار ونې ووهی. زما سړی به د هغوئ سره کار
کوی او چې تهٔ څهٔ فیصله وکړې نو زهٔ به ستا سړو له هم
هغه هومره مزدوری ورکوم. لکه چې تا ته ښهٔ پته ده چې په
مونږ کښې د صیدانیانو په شان د لرګو پرې کولو والا تکړه
کسان نشته.“ ۷ حیرام ته چې کله د سلیمان پېغام مِلاو
شو نو ډېر زیات خوشحاله شو او هغهٔ ووئیل، ”د مالِک
خُدائ ثناء صِفت دې وی چې هغهٔ نن داؤد له یو هوښیار
زوئ ورکړے دے چې د هغهٔ په ځائ د دې عظیم قوم بادشاه
شی.“ ۸ بیا حیرام سلیمان له دا پېغام ولېږلو، ”ما ته ستا
پېغام مِلاو شوے دے او چې څهٔ دې فرمائیلی دی د هغې
کولو ته تیار یم. زهٔ به د دِیار او د نختر د ونو بندوبست
وکړم. ۹ زما سړی به لرګی د لبنان نه سمندر ته راوړی او
هغوئ به دا د یو بل سره د کشتئ په شان وتړی او چې کوم
ځائ تاسو خوښ کړئ نو هغه ځائ ته به یې په اوبو کښې
ورسوی. زما سړی به دا هلته کولاو کړی او ستا سړو ته به
یې حواله کړی. او تاسو له په کار دی چې زما د محل خلقو
له د خوراک بندوبست وکړئ.“ ۱۰ نو حیرام سلیمان له د
هغه ټولو د دِیار او د نختر د لرګو بندوبست وکړو چې هغهٔ
غوښتی وُو، ۱۱ او سلیمان حیرام له دوه زره ټنه غنم او
څلور لاکه کلو سوچه د زیتُونو تېل ورکړل نو د هغهٔ د محل د
خلقو د هر کال د خوراک بندوبست وشو. ۱۲ مالِک خُدائ
خپله وعده پوره کړه او سلیمان له یې حِکمت ورکړو. او د
حیرام او سلیمان په مینځ کښې امن شو او د یو بل سره یې
تړون وکړو. ۱۳ سلیمان د ټولو بنی اِسرائیلو نه دېرش زره
مزدوران راغونډ کړل، ۱۴ او ادونرام یې د هغوئ مشر مقرر
کړو. هغهٔ هغوئ د لسو زرو په درې قبیلو کښې تقسیم کړل او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرې قبيلې به يوه مياشت په لبنان کښې او دوه مياشتې په
کور کښې تېرولې. ۱۵ سليمان د غرونو په مُلک کښې اتيا
زره سړى لرل چې کاڼى يې راويستل او اويا زره سړو دا
راوړل، ۱۶ او هغۀ درې زره او درې سوه مشران مقرر کړل
چې د هغوئ د کار مشرى کوى. ۱۷ د سليمان د حُکم په
مطابق هغوئ د مالِک خُدائ کور د بنياد دپاره ښائسته او
لوئ کاڼى تيار کړل. ۱۸ د سليمان او د حيرام سړو او د
جبل د ښار سړو د خُدائ پاک کور د جوړولو دپاره کاڼى او
لرګى تيار کړل.

## د حضرت سليمان د مالِک خُدائ د کور جوړول

۶ ۱ د بنى اِسرائيلو د مِصر نه د راوتلو څلور سوه او اتيا
کاله پس، په بنى اِسرائيلو باندې د سليمان د بادشاهۍ په
څلورم کال، په دويمه يعنې د زيو په مياشت کښې، سليمان د
مالِک خُدائ په کور باندې کار شروع کړو. ۲ دننه دا
تقريباً ديرش ګزه اوږده، لس ګزه پلنه او پينځلس ګزه اوچته
وه. ۳ د ننوتو کوټه تقريباً پينځۀ ګزه پلنه او لس ګزه اوږده
وه، هغه مقدس ځائ هم دغه هومره پلن وو. ۴ د هغه کور
په ديوالونو باندې تنګې کړکۍ لګېدلې وې. ۵ هغۀ د خُدائ
پاک د کور په دوو طرفونو او شاته نورې کوټې جوړې کړې.
۶ د دې کوټو درې درې منزلونه ؤو. لاندينۍ کوټه تقريباً
دوه نيمه ګزه پلنه، دويمه کوټه درې ګزه پلنه او آخرى کوټه
درې نيم ګزه پلنه وه. د مالِک خُدائ د کور په ديوالونو کښې
سورى نۀ ؤو جوړ کړے شوى، څۀ کاڼى بهر راوتى ؤو چې د
چت تيرونه ورباندې پراتۀ ؤو او په ديوال کښې دننه نۀ لګېدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ د کومو کاڼو نه چې د مالِک خُدائ کور جوړ شوے وو
هغه په کان کښې تيار شوى وُو، نو چې کله هغه کور
جوړېدو، نو د څټکو، تېشو، يا د اوسپنو د نورو آوزارو آواز د
خُدائ پاک په کور کښې نۀ وو اورېدلے شوے. ٨ د
لاندينى منزل دروازه د مالِک خُدائ د کور جنوبى طرف ته
وه، چې دوېم او درېم چت ته يې پوړۍ ختلې وې. ٩ نو
سليمان بادشاه د هغه کور جوړول ختم کړل. هغۀ ورله يو
چت جوړ کړو چې د تيرونو او د دِيار د تختو نه جوړ وو.
١٠ هغۀ د کور په درې طرفونو باندې کوټې جوړې کړې،
چې د کور د دېوالونو سره د دِيار په تيرونو باندې مِلاو وې.
هره يوه کوټه دوه نيمه ګزه اوچته وه. ١١ د مالِک خُدائ
کلام په سليمان نازل شو چې، ١٢ ”تۀ د مالِک خُدائ کور
جوړوې نو ياد ساته چې زما په ټول قانون او حُکمونو باندې
په عمل کوې، نو زۀ به ستا دپاره هغه څۀ وکړم چې ما ستا د
پلار داؤد سره د هغې وعده کړې ده. ١٣ زۀ به د خپلو خلقو
بنى اِسرائيلو سره په دې کور کښې اوسېږم او زۀ به هيڅکله
هغوئ پرې نۀ ږدم.“ ١٤ نو سليمان د هغه کور جوړول پوره
کړل.

## د مالِک خُدائ د کور دننه ښائسته کېدل

١٥ دننه دېوالونه د ببخ نه واخله تر چته پورې د دِيار په تختو
پټ کړے شوى وُو او فرش يې د نختر نه جوړ وو. ١٦ دننه
کوټه چې زيات مقدس ځائ بللے شو هغه د مالِک خُدائ د
کور شاته جوړه وه. هغه تقريباً لس ګزه اوږده وه او د دِيار
تختې يې د فرش نه تر چت پورې رسېدلې وې. ١٧ د زيات

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدس ځائ په مخکښې لويه کوټه تقريباً شل ګزه اوږده وه.
۱۸ د دِيار تختې د کدو او د ګلونو په ګُلکارئ باندې ښائسته
کړے شوې وې، دننه ټوله حِصه په دِيار پټه وه او د دېوال
کاڼي نۀ ښکارېدل. ۱۹ د هغه کور شاته يوه دننئ کوټه
جوړه شوې وه، چرته چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق
کېښودے شو. ۲۰ دننئ کوټه لس ګزه اوږده، لس ګزه پلنه
او لس ګزه اوچته وه، چې ټوله په سوچه سرو زرو پټه وه.
قربان‌ګاه د دِيار په تختو باندې پټه وه. ۲۱ د مالِک خُدائ د
کور دننئ برخه په سرو زرو باندې پټه وه او د زيات مقدس
ځائ د ننوتلو دروازې د حِفاظت دپاره د سوچه سرو زرو
زنځيرونه لګولی شوی وُو. ۲۲ د هغه کور ټوله دننئ حِصه
په سرو زرو پټه وه او په زيات مقدس ځائ کښې قربان‌ګاه
هم په سرو زور پټه وه. ۲۳ د وزرو والا دوه مخلوق د زيتُونو
لرګی نه جوړ وُو او په زيات مقدس ځائ کښې ايښودے
شوی وُو، چې هر يو تقريباً پينځۀ ګزه لوړ وو. ۲۴-۲۶
دواړه يو هومره او په يو شکل وُو. د هر يو تقريباً درې ګزه
اوږدۀ وزر وُو، نو د يو وزر د يو سر نه د بل وزر د سر پورې
فاصله پينځۀ ګزه وه. ۲۷ دا په زيات مقدس ځائ کښې
څنګ په څنګ ايښودلے شوی وُو، نو داسې د دې خوارۀ
وزرونه د يو بل سره د کوټې په مينځ کښې لګېدل او هغه نور
دوه وزرونه د دېوالونو سره لګېدل. ۲۸ د وزرو والا دواړه
مخلوق په سرو زرو باندې پټ وُو. ۲۹ د مينځنئ کوټې او
دننئ کوټې ټول دېوالونه د وزرو والا مخلوق، د کجورو ونو
او د ګلونو په ګُلکارئ ښائسته کړے شوی وُو. ۳۰ او دننے
او بهرنے فرش هم په سرو زرو باندې پټ وو. ۳۱ د زيتُونو
لرګی نه جوړې دوه دروازې د زيات مقدس ځائ په خولۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې لګولے شوې وې، د دروازې د چوکاټ بازوګان پينځهٔ
مخيز وُو. ۳۲ دروازې د وزرو والا مخلوق باندې، د کجورو
ونو او د غړيدلو شوو ګلونو په ګُلکارئ باندې ښائسته
کړے شوې وې. دا ټول ځيزونه په سرو زرو باندې پټ کړے
شوی وُو. ۳۳ مينځنئ کوټې ته ننوتو دروازې د چوکاټ
دپاره د زيتُونو د لرګی نه څلور مخيز بازوګان جوړ کړے
شوی وُو. ۳۴ د نختر د لرګی نه دوه دروازې هم جوړې
کړے شوې وې چې دې دروازو به په مينځ کښې هم د
کولاويدو او بنديدو قبضې لرلې. ۳۵ او دا دروازې د وزرو
والا مخلوق، د کجورو ونو او غړيدلو شوو ګلونو په ګُلکارئ
باندې ښائسته کړے شوې وې، چې په سرو زرو يو شان پټې
وې. ۳۶ د مالِک خُدائ د کور په مخکښې يو دننئے دربار
جوړ کړے شوے وو چې د کانړی هرې دريمې ردې نه پس يې
د دِيار د لرګی تيرونه وُو. ۳۷ د مالِک خُدائ د کور بنياد د
سليمان د بادشاهئ په څلورم کال په دويمه يعنې د زيو په
مياشت کښې ايښودے شوے وو. ۳۸ په اتمه يعنې د بول په
مياشت کښې، د سليمان د بادشاهئ په يوولسم کال هغه کور
په پوره توګه هم هغه شان جوړ شو، چې څنګه د دې منصوبه
جوړه شوې وه. د دې په جوړيدو باندې د سليمان اووهٔ کاله
لګيدلی وُو.

## د حضرت سليمان محل

٧ ۱ سليمان د خپل ځان دپاره هم يو محل جوړ کړو او
په دې باندې ديارلس کاله ولګيدل. ۲-۳ هغه محل چې ”د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لبنان ځنګل“ بللے شو تقريباً پنځوس ګزه اوږد، پينځويشت
ګزه پلن او پينځلس ګزه اوچت وو. د دې څلور قطاره د دِيار
ستنې وې چې په هر قطار کښې پينځلس وې، چې د دِيار
تيرونه پرې پراتۀ وُو. چت يې د دِيار وو، چې هغه تيرونه په
ستنو باندې ولاړ وُو. ۴ دواړو طرفونو ته په دېوالونو باندې
درې قطاره کړکۍ وې. ۵ د دروازو او کړکو څلور ګوټه
چوکاټونه وُو او په درې قطارونو کښې يو بل ته مخامخ وُو.
۶ سليمان د ستنو يو دربار جوړ کړو، چې پينځۀ اويا فټه
اوږد او پينځۀ څلويښت فټه پلن وو. د دې مخامخ يوه د ستنو
برانډه او مخې ته يې يو دالان وو. ۷ هغۀ د تخت کوټه هم
جوړه کړه چې د اِنصاف دربار هم بللے شو، چرته چې
سليمان لانجې هوارولې، چې د فرش نه تر سره پورې يې د
دِيار تختې لرلې. ۸ د اِنصاف د دربار نه وروستو په يو بل
دربار کښې، د سليمان خپلې کوټې هم د نورو کوټو په شان
وې. هغۀ د خپلې ښځې، د فِرعون د لور دپاره هم هغه شان
کور جوړ کړو. ۹ ټول عمارتونه او لوئ دربار د بېخ نه د
چت لاندې حِصې پورې د ښو کاڼو نه جوړ وو. کاڼی په ناپ
پرې کړے شوی وُو، بهرنی او دننني مخونه يې په آرا برابر
کړے شوی وُو. ۱۰ بنيادونه يې د غټو او ښو کاڼو نه جوړ
وُو، چې څۀ په کښې پينځۀ ګزه او څۀ څلور ګزه اوږدۀ وُو.
۱۱ د دې دپاسه نور ښۀ کاڼی وُو چې په ناپ پرې کړے
شوی وُو او د دِيار تيرونه وُو. ۱۲ د محل دربار، د مالِک
خُدائ د کور دننني دربار او دې ته د ننوتو کوټې داسې
دېوالونه لرل چې د پرې کړے شوو کاڼو د هرې درېمې ردې
نه پس د دِيار يو تير په کښې لګېدلے وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حيرام ذمه واري

۱۳ سليمان بادشاه يو سړے راوغوښتو چې نوم يې حيرام
وو، هغه کاريګر د صور په ښار کښې اوسېدو، چې د زېړو په
کار کښې ماهِر وو. ۱۴ د هغهٔ پلار د صور د علاقې د زېړو
ماهِر وو، او مور يې د نفتالی قبيلې يوه کونډه وه. حيرام يو
تکړه او تجربه‌کار ماهِر وو. هغهٔ د سليمان دعوت قبول کړو
چې د زېړو د ټول کار مشر شی.

## د زېړو دوه ستنې

۱۵ حيرام دوه د زېړو ستنې جوړې کړې چې هره يوه تقريباً
نههٔ ګزه لوړه او شپږ ګزه ګېرچاپېره غټه وه او دا يې د مالِک
خُدائ د کور د ننوتلو په ځائ کښې ولګولې. ۱۶ هغهٔ د ستنو
دپاره دوه د زېړو سرونه هم جوړ کړل، چې هر يو اووهٔ نيم
فټه لوړ وو. ۱۷ د هرې ستنې سر د ترلی شوی زنځيرونو په
شکلونو باندې ښائسته کړے شوے وو، ۱۸ او دوه قطاره د
انارو هم. ۱۹ د ستنې پاسنی برخه د نيلوفر د ګل په شان وه
چې دوه ګزه لوړه وه، ۲۰ او په يوه ګول حِصه کښې لګولې
شوې وه چې دا د زنځير د شکل دپاسه وه. د ستنو په سرونو
کښې ګېرچاپېره په دوو قطارونو کښې دوه سوه انار وُو. ۲۱
حيرام د زېړو دوه ستنې د خُدائ پاک د کور د ننوتو ځائ په
مخکښې ولګولې، د جنوب په طرف باندې د هغې نوم يکين
وو او چې د شمال په طرف باندې وه د هغې نوم بوعز وو.
۲۲ د ستنو سرونه د نيلوفر د ګلونو په شان وُو. نو داسې د
ستنو کار مکمل شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د زېړو ډيگى

۲۳ بيا حيرام د زېړو يوه گول ډيگى جوړه کړه چې تقريباً
درې گزه ډُوبه وه، مينځ يې پينځهٔ گزه وو او گېرچاپېره غټ
والے يې پينځلس گزه وو. ۲۴ د ډيگى گېرچاپېره په بهرنى
تووله څنډه باندې دوه قطاره چې په هر فُټ کښې شپږ شپږ د
زېړو کدوان وُو، چې د ټولې ډيگى سره يوه توکړه جوړه
شوې وه. ۲۵ ډيگى د زېړو دولسو غوَيانو په شا باندې پراته
وه چې مخونه يې بهر وُو، چې په څلورو طرفونو باندې درې
درې وُو. ۲۶ د ډيگى دېوالونه درې اِنچى غټ وُو. د دې
څنډه د پيالى د څنډې په شان وه، چې د نيلوفر د گلونو پاڼو
په شان ښکارېده. په ډيگى کښې تقريباً څلوېښت زره ليټره
اوبهٔ راتلې.

## د زېړو گاډى

۲۷ حيرام د زېړو لس گاډى هم جوړې کړې، چې هره يوه
تقريباً دوه گزه اوږده، دوه گزه پلنه او يو نيم گز اوچته وه.
۲۸ دا د څلور گوټه تختو نه جوړې وې چې په چوکاټونو
کښې لگولے شوې وې، ۲۹ چې په دې تختو باندې د زمرو،
غوَيانو او د وزرو والا مخلوق نمونې جوړ وُو، په چوکاټونو
باندې بره او لاندې گول گُلکارى شوې وه. ۳۰ د هرې گاډى
څلور د زېړو پايې او د زېړو سيخونه وُو. په هره گاډى کښې
يو ښانک د زېړو په څلورو تختو باندې لگېدلے وو، دا چوکى
په گول گُلکارى باندې ښائسته کړے شوې وې. ۳۱ د هرې
گاډى په سر د ښانک دپاره يو گول چوکاټ وو. دا د گاډى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په سر اتلس اِنچې بره او اووۀ اِنچې لاندې تلے وو او
ګېرچاپېره ګُلکارى وربانديې شوې وه. د ګاډو تختې ګول نۀ
بلکې ځلور ګوټه وې. ۳۲ ځلور پايې شپږويشت اِنچې
اوچتې وې، دا د تختو لاندې وې او سيخونه د ګاډو سره يوه
ټُکړه شوى وُو. ۳۳ د دې پايې د جنګى ګاډو د پايو په شان
وې، د دې سيخونه، ريمونه، د ريمونو تيلۍ او مينځنۍ حِصې
هر څۀ د زېړو وُو. ۳۴ د هرې ګاډۍ په ځلورو ګوټونو کښې
ځلور ستنې وې، چې د ګاډۍ سره يوه ټُکړه وې. ۳۵ د هرې
ګاډۍ دپاسه ګېرچاپېره نهۀ اِنچې پلنې پټۍ وې، د دې ستنې او
تختې د ګاډۍ سره يوه ټُکړه وې. ۳۶ ستنې او تختې د وزرو
والا مخلوق، زمرو او د کجورو ونو په شکلونو باندې ښائسته
کړے شوې وې، چې چرته هم خالى ځائ وو نو ګول
ګُلکارى وربانديې شوې وه. ۳۷ لس واړه ګاډۍ داسې
جوړې کړے شوې وې چې ټولې يو شان، په يو ناپ او يو
شکل وې. ۳۸ حيرام د لسو ګاډو دپاره يو يو ښانک جوړ
کړو. چې د هر يو مينځ تقريباً دوه ګزه وو او اتۀ سوه ليټره
اوبۀ په کښې راتلې. ۳۹ هغۀ پينځۀ ګاډۍ د خُدائ پاک د
کور جنوبى طرف ته ودرولې او نورې پينځۀ يې شمالى طرف
ته ودرولې، هغه ډيګى يې نمرخاتۀ جنوبى طرف ته کېښودله.

## د مالِک خُدائ د کور د سامان تفصيل

۴۰-۴۵ حيرام لوښى، بېلچې او جامونه هم جوړ کړل. هغۀ د
مالِک خُدائ د کور هغه ټول کار پوره کړو چې د سليمان
دپاره يې کولو. هغۀ دا څيزونه جوړ کړل، دوه ستنې، د ستنو
دپاره دوه د جامونو په شان سرونه، په هر يو باندې ترلى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوی زنځیرونه، څلور سوه د زیړو انار، چې د زنځیرونو نه ګېرچاپېره هر طرف سل سل په دوه قطاره کښې وُو، لس ګاډۍ، لس ښانکونه، ډیګۍ، دولس غوَیان چې ډیګۍ وربانديِ پرته وه، لوښی، بېلچې او جامونه. حیرام چې سلیمان بادشاه له د مالِک خُدائ د کور دپاره کومې سامان جوړ کړو هغه ټول د ځلېدونکی زیړو وو. ۴۶ سلیمان بادشاه دا هر څۀ د اُردن په مېدان، د سُکات او د ضرتان په مینځ کښې د ختې په قالب کښې جوړ کړل. ۴۷ سلیمان د زیړو دا خیزونه تللی نۀ وُو، ځکه چې دا ډېر زیات وُو، نو د دې وزن کله هم معلوم نۀ کړے شو. ۴۸ سلیمان د مالِک خُدائ د کور دپاره د سرو زرو دا سامان هم جوړ کړو، قربانګاه، خُدائ پاک ته د پېش کړے شوې روټۍ مېز، ۴۹ لس ډیوټ چې د زیات مقدس ځائ په مخکښې لګېدلی وُو، چې پينځۀ په جنوبی طرف او پينځۀ په شمالی طرف باندې وُو، ګلونه، ډیوې او چمتې، ۵۰ پیالۍ، د ډیوو سرپوښونه، جامونه، د خوشبویۍ لوښی او د بلو سکارو د وړلو دپاره لوښی، او د زیات مقدس ځائ د دروازو دپاره قبضې او د مالِک خُدائ د کور بهرنۍ دروازې. دا ټول سامان د سوچه سرو زرو نه جوړ وو. ۵۱ کله چې سلیمان بادشاه د مالِک خُدائ د کور ټول کار ختم کړو، نو هغۀ د مالِک خُدائ دکور په خزانو کښې هغه ټول خیزونه کېښودل چې د هغۀ پلار داؤد مالِک خُدائ ته وقف کړی وُو. يعنې سپین زر، سرۀ زر او نور سامان.

## د لوظ صندوق د مالِک خُدائ کور ته راوړل کېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ (١) بيا سليمان بادشاه د بنى اِسرائيلو مشران او د ډلو
ټول مشران راوغوښتل چې يروشلم ته راشى او د لوظ
صندوق د داؤد د ښار صيون نه د مالِک خُدائ کور ته
يوسى. (٢) په اوومه يعنې د ايتانيم مياشت هغوئ ټول د
سليمان بادشاه په وړاندې د جونګړو د اختر په وخت کښې
راغونډ شول. (٣) کله چې ټول مشران راغونډ وُو، نو اِمامانو
د لوظ صندوق اوچت کړو (٤) او د مالِک خُدائ کور ته يې
يوړو. ليويانو او اِمامانو د مالِک خُدائ د حضور خېمه او د
هغې ټول مقدس سامان هم د مالِک خُدائ کور ته يوړو. (٥)
سليمان بادشاه او د بنى اِسرائيلو ټول قوم د لوظ صندوق په
وړاندې راغونډ شول او په دومره لوئ شمېر کښې ګډې او
څاروى يې قربانى کړل چې د شمېر نه بهر وُو. (٦) بيا
اِمامانو د مالِک خُدائ د لوظ صندوق د هغۀ کور ته دننه کړو
او په زيات مقدس ځائ کښې يې دننه د وزرو والا مخلوق د
وزرو لاندې کېښودو. (٧) د وزرو والا مخلوق وزر د صندوق
او د دې د وړلو بازوګانو دپاسه خوارۀ وُو. (٨) بازوګان
دومره اوږدۀ وُو چې هغه خلقو ته ښکاريدل څوک چې زيات
مقدس ځائ ته مخامخ ولاړ وو، خو د بهر نه نۀ ښکاريدل.
(هغه بازوګان تر نن ورځې پورې هلته دى.) (٩) د لوظ
صندوق کښې دننه د کاڼو هغه دوو تختو نه بغير هيڅ هم نۀ وُو
چې موسىٰ د سينا د غرۀ سره په کښې ايښې وې، په کوم
وخت کښې چې بنى اِسرائيل د مِصر مُلک نه راووتل او
مالِک خُدائ د هغوئ سره يو لوظ وکړو. (١٠) چې کله
اِمامان د مقدس ځائ نه راوتل، نو د مالِک خُدائ کور د
وريځې نه ډک شو، (١١) نو اِمامانو د وريځې په وجه خپل
خِدمت نۀ شو تر سره کولے ځکه چې د مالِک خُدائ کور د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د جلال نه ډک شوے وو. ١٢ بيا سليمان دُعا وغوښته،
”اے مالِکه خُدايه، تا فرمائيلی دی چې تهٔ به په تکه توره وريځ
کښې موجود يې. ١٣ خو ما ستا دپاره يو عالی شان کور
جوړ کړے دے، يو داسې ځائ چې تل به په کښې اوسيږې.“

## د حضرت سليمان خلقو ته تقرير کول

١٤ کله چې د قوم خلق هلته ولاړ وُو، نو سليمان بادشاه مخ
وروا ړولو او د هغوئ دپاره يې د خُدائ پاک نه برکت
وغوښتلو. ١٥ هغهٔ وفرمائيل، ”د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک ثناء صِفت دې وی. هغهٔ هغه وعده پوره کړه چې
زما پلار داؤد سره يې کړې وه، چې کله هغهٔ وفرمائيل، ١٦
د کوم وخت نه چې ما خپل خلق د مِصر نه راويستلی دی،
نو ما د بنی اِسرائيلو په ټول مُلک کښې يو ښار هم نهٔ دے
خوښ کړے چرته به چې هغه کور جوړيږی چې هلته به زما
عبادت کيږی. خو داؤده، زهٔ تا خوښوم چې زما په خلقو
بادشاهی کوې.“ ١٧ او سليمان خپله خبره جاری وساتله،
”زما پلار داؤد دا غوښتل چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک د عبادت دپاره يو کور جوړ کړی، ١٨ خو مالِک
خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل، چې ستا اراده ښهٔ وه چې زما د نوم
د درناوی دپاره يو کور جوړ کړې، ١٩ خو تهٔ به دا جوړ نهٔ
کړې. هغه به ستا زوئ، ستا خپل زوئ وی چې زما د نوم
دپاره به کور جوړ کړی. ٢٠ او اوس مالِک خُدائ خپله
وعده پوره کړې ده. زهٔ د خپل پلار داؤد په ځائ د بنی
اِسرائيلو په تخت ناست يم لکه څنګه چې مالِک خُدائ وعده
کړې وه او ما د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د خُدائ پاک د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت دپاره هغه کور جوړ کړے دے. ۲۱ ما په هغه کور
کښې د لوظ صندوق دپاره د يو ځائ بندوبست کړے دے
چې په هغې کښې د مالِک خُدائ د تړون هغه تختې پرتې دی
چې د کوم لوظ هغۀ زمونږ د پلار نيکۀ سره کړے وو چې کله
يې د مِصر نه راوويستل.“

## د حضرت سليمان دُعا

۲۲ نو د بنى اِسرائيلو د قوم په موجودګئ کښې سليمان لاړو
او د مالِک خُدائ د قربان‌ګاه په مخکښې ودرېدو، هلته يې د
آسمان طرف ته خپل لاسونه اوچت کړل ۲۳ او دُعا يې
وکړه، ”مالِکه خُدايه، د بنى اِسرائيلو خُدايه پاکه. پاس په
آسمان کښې او لاندې په زمکه ستا په شان خُدائ نشته، د
خپلو خلقو سره ستا لوظ پوره کړه څوک چې د زړۀ د
اخلاصه ستا تابعدارى کوى او هغوئ ته خپله مينه وښايه.
۲۴ تا چې زما پلار داؤد سره کومه وعده کړې وه نو هغه
دې پوره کړې ده، نن هره خبره پوره شوې ده. ۲۵ او مالِکه
خُدايه د بنى اِسرائيلو خُدايه پاکه، زۀ تا ته سوال کوم چې تۀ
به هغه بله وعده هم پوره کړې چې تا زما د پلار سره کړې وه
چې کله دې هغۀ ته وفرمائيل چې د هغۀ اولاد نه به همېشه يو
کس داسې وى چې په بنى اِسرائيلو به بادشاهى کوى، کۀ د
هغۀ اولاد هم د هغۀ په شان صحيح فرمانبردارى کوله. ۲۶
نو، اے د بنى اِسرائيلو خُدايه پاکه، هغه هر څۀ دې رښتيا شى
چې د څۀ وعده تا د خپل خِدمت کوونکى يعنې زما د پلار
داؤد سره کړې ده. ۲۷ خو اے خُدايه پاکه، تۀ په زمکه
باندې نۀ شې اوسېدې، ځکه چې ټول آسمان ستا د ځائېدو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره کافی نۀ دے، نو دا کور به څنګه کافی وی چې کوم ما
جوړ کړے دے؟ ۲۸ خو اے مالِکه خُدایه زما خُدایه پاکه،
زۀ ستا خِدمت کوونکے یم. زما دُعا واوره او زۀ چې کوم
سوال کوم نو هغه منظور کړه. ۲۹ خو په دې کور شپه او
ورځ نظر وساته، دا ځائ چې تا د عبادت دپاره خوښ کړے
دے. مخ مې دې کور ته کړو او زما سوال واوره. ۳۰ د
خپل خِدمت کوونکی دُعا او د خپلو بنی اِسرائیلو خلقو دُعا
واوره په هغه وخت کښې چې کله هغوئ دې ځائ ته مخ
کوی. په آسمان کښې په خپل کور کښې زمونږ سوال اوره او
مونږ معاف کوه. ۳۱ کله چې په یو کس اِلزام ولګی چې د
بل چا سره یې بد کړی دی او په دې کور کښې ستا قربان‌ګاه
ته راوستلے شی چې قسم وکړی چې هغه بې‌ګناه دے، ۳۲
نو اے مالِکه خُدایه، په آسمان کښې اوره او د خپلو خِدمت
کوونکو عدالت کوه. مجرم له هم هغه شان سزا ورکوه چې
څنګه یې حقدار وی او چې څوک بې‌ګناه وی نو د هغۀ
صفائی کوه. ۳۳ کله چې ستا خلق بنی اِسرائیلیان د خپلو
دشمنانو نه شکست وخوری ځکه چې هغوئ به ستا خِلاف
ګناه کړې وی، چې کله هغوئ تا ته راوګرځی او بیا په تا
توکل وکړی او په دې کور کښې تا ته سوال وکړی، ۳۴ نو په
آسمان کښې د هغوئ سوال اوره. د خپلو خلقو ګناهونه
معاف کوه او هغه مُلک ته یې واپس راوله چې کوم تا د
هغوئ پلار نیکۀ له ورکړے وو. ۳۵ کله چې تۀ باران ایسار
کړې ځکه چې ستا خلقو به ستا خِلاف ګناه کړې وی او بیا
چې کله هغوئ توبه ویاسی او مخ دې کور ته کړی، ځکه چې
تا سزا ورکړې وه، ۳۶ نو په آسمان کښې د هغوئ سوال
اوره. د بادشاه او د خپلو خلقو بنی اِسرائیلو ګناهونه معاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوه. هغوئ ته د عمل نېغه لاره ښايه. اے مالِکه خُدايه، د
خپلو خلقو په دې زمکه باندې باران وروه، کوم چې تا خپلو
خلقو له په پوخ ميراث کښې ورکړے دے. ۳۷ کله چې په
مُلک کښې قحط يا وبا وی، يا په سوزېدونکې هواګانو او يا د
قحطیٔ مُولخانو په ذريعه فصلونه تباه شی، يا ستا د خلقو په
ښارونو باندې دشمنانو حمله کړې وی، يا په هغوئ باندې څهٔ
افت يا بيماری راشی، ۳۸ نو بيا د هغوئ دُعاګانې اوره. کهٔ
ستا خلقو بنی اِسرائيلو نه څوک هم د زړهٔ د اخلاصه توبه
وباسی او خپل لاسونه د دُعا دپاره دې کور ته اوچت کړی،
۳۹ نو د هغوئ سوال اوره. د هغوئ دُعا په آسمان کښې په
خپل کور کښې اوره، هغوئ معاف کوه او مدد يې کوه.
يواځې تهٔ د انسان د زړهٔ په خيالونو پوهېږې. د هر چا سره
هغه سلوک کوه چې څنګه يې حقدار وی، ۴۰ نو ستا خلق
به ټول عُمر ستا تابعداری کوی چې په هغه مُلک کښې
اوسيږی چې تا د هغوئ پلار نيکهٔ له ورکړے دے. ۴۱-۴۲
نو بيا کله چې د بل مُلک خلق کوم چې ستا د قوم بنی
اِسرائيلو نه نهٔ وی او ستا د شُهرت او د هغه لويو کارونو نه
خبر شی چې تا د خپلو خلقو دپاره کړی دی او ستا د عبادت
دپاره د لرې نه راشی او دې کور طرف دُعا وکړی، ۴۳ نو د
هغهٔ سوال اوره. په آسمان کښې چرته چې تهٔ اوسيږې د هغهٔ
سوال اوره او چې څهٔ غواړی نو هغه ورله ورکړه، نو داسې د
دُنيا ټول قومونه به تا وپېژنی او ستا تابعداری به کوی، لکه
چې ستا خلق بنی اِسرائيليان يې کوی. نو هغوئ ته به پته
ولګی چې دا کور چې کوم ما جوړ کړے دے هغې پورې ستا
نوم تړلے شوے دے. ۴۴ کله چې تهٔ خپلو خلقو له د تلو
حُکم ورکړې چې د خپلو دشمنانو خِلاف جنګ وکړی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ تا ته سوال وکړی، چې دې ښار ته چې تا خوښ کړے
دے او چې دې کور ته يې مخ وی چې ستا د عبادت دپاره ما
جوړ کړے دے، ۴۵ نو د هغوئ سوال اوره. په آسمان کښې
هغوئ ته غوږ اېږده او هغوئ له فتح ورکوه. ۴۶ کله چې
ستا خلق ستا خِلاف ګناه وکړی (داسې هيڅ څوک هم نشته
چې ګناه نۀ کوی)، او تۀ په غصه کښې هغوئ پرېږدې چې
دشمن شکست ورکړی او هغوئ يې خپل مُلک ته قېديان
بوځی، کۀ هغه مُلک لرې هم وی، ۴۷ خو د خپلو خلقو
سوال اوره. کۀ هغوئ د جلاوطنئ په مُلک کښې توبه وباسی
او تا ته سوال وکړی او دا اِقرار وکړی، چې هغوئ څومره
ګناهګار او بدعمله دی، نو اے مالِکه خُدايه، د هغوئ سوال
اوره. ۴۸ خو کۀ د دشمن په مُلک کښې هغوئ په رښتيا او
خلوص سره توبه وباسی او تا ته سوال وکړی او مخ يې دې
مُلک ته وی چې تا زمونږ پلار نيکۀ له ورکړے دے، هغه ښار
چې تا خوښ کړے دے او دا کور چې ما ستا دپاره جوړ
کړے دے، ۴۹ نو د هغوئ دُعا ته غوږ نيسه. په آسمان
کښې په خپل کور کښې د هغوئ سوال اوره او د هغوئ مدد
کوه. ۵۰ د خپلو خلقو ټول ګناهونه او ستا خِلاف سرکشئ
معاف کوه او هغه دشمنان ورباندې مِهربانه کړه، کومو چې
جلاوطن کړی وُو. ۵۱ هغوئ بيا هم ستا خپل خلق دی، هغه
ميراث، چې تا د مِصر مُلک نه راوويستل چې سم سور اور
وو. ۵۲ مالِکه خُدايه، تۀ په بنی اِسرائيلو او ستا خِدمت
کوونکی باندې هميشه د رحم نظر کوه او چې کله هم هغوئ
تا ته د مدد چغه وهی نو د هغوئ سوال اوره. ۵۳ تا هغوئ د
ټولو قومونو نه خوښ کړل چې ستا خپل خلق شی لکه څنګه
چې تا د خپل خِدمت کوونکی موسیٰ په ذريعه هغوئ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائيلی وُو کله چې تا زمونږ پلار نيکهٔ د مِصر نه راويستل.“

## آخرى دُعا

۵۴ کله چې سليمان مالِک خُدائ ته دُعا ختمه کړه، نو هغه
د قربانګاه په وړاندې پاڅېدو، چرته چې په سجده شوے وو
او لاسونه يې آسمان ته اوچت کړی وُو. ۵۵ هغه پاڅېدو او
په اوچت آواز يې د بنى اِسرائيلو ټول قوم دپاره د خُدائ پاک
نه برکت وغوښتو چې هلته راغونډ وُو. او هغهٔ وفرمائيل، ۵۶
”د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وى چې هغهٔ خپلو خلقو له
امن ورکړے دے، لکه څنګه چې هغهٔ وعده کړې وه. هغه په
خپلو ټولو ﭙَخو وعدو کښې پاتې نهٔ دے راغلے کومې يې چې
د خپل خِدمت کوونکى موسىٰ په ذريعه يې کړې وې. ۵۷
مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک دې زمونږ مل وى، لکه څنګه
چې هغه زمونږ د پلار نيکهٔ مل وو، هغه دې زمونږ نه هيڅکله
نهٔ ځى او نهٔ دې مونږ پرېږدى، ۵۸ چې هغه زمونږ ارادې
بدلې کړى، نو چې مونږ هر څهٔ کوُو د هغهٔ مرضى پوره کوُو
او د هغهٔ ټول قانون او حُکمونه منو چې زمونږ پلار نيکهٔ له يې
ورکړى وُو. ۵۹ مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک دې هر
وخت دا خبرې يادې ساتى چې ما هغهٔ ته کړې دى. هغه دې
د خپلو خلقو بنى اِسرائيلو او زما مدد وکړى، لکه څنګه چې
د هرې ورځې ضرورتونه لرو. ۶۰ نو د دُنيا ټولو قومونو ته
به پته ولګى چې صِرف مالِک خُدائ، خُدائ پاک دے او بل
يو خُدائ هم نشته. ۶۱ تاسو يعنې د هغهٔ خلق دې د مالِک
خُدائ زمونږ د خُدائ پاک پوره وفادار وى، چې د هغهٔ په
ټول قانون او حُکمونو باندې هم هغه شان عمل کوئ لکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنګه چې نن کوئ.“

## د مالِک خُدائ د کور وقف کېدل

٦٢ سليمان بادشاه او د هغۀ سره ټولو بنى اِسرائيلو مالِک
خُدائ ته نذرانې پېش کړې. ٦٣ سليمان دوويشت زره
څاروى او يو لاک شل زره ګډې د سلامتىٔ نذرانې په توګه
پېش کړې. نو داسې بادشاه او د بنى اِسرائيلو ټولو خلقو د
مالِک خُدائ کور وقف کړو. ٦٤ هم په هغه ورځ هغۀ د
دربار مرکزى حِصه هم وقف کړه، کومه حِصه چې د مالِک
خُدائ کور ته مخامخ وه. هغۀ هلته پوره سوزېدونکې نذرانې،
د غلې نذرانې، او د سلامتىٔ نذرانو دپاره د څاروو وازګه پېش
کړه. هغۀ داسې په دې وجه وکړل چې د زېړو قربانګاه د دې
ټولو نذرانو دپاره ډېره وړه وه. ٦٥ سليمان بادشاه او د بنى
اِسرائيلو ټولو خلقو اووۀ ورځې د جونګړو اختر وکړو. هلته
يوه لويه ګڼه وه چې په شمال کښې د حمات درې نه واخله په
جنوب کښې د مِصر سرحد پورې وه. ٦٦ په اتمه ورځ
سليمان خلق رُخصت کړل. هغوئ ټولو د هغۀ صِفت کولو
او د هغه ټولو برکتونو په وجه خوشحاله کورونو ته لاړل چې
کوم برکتونه مالِک خُدائ خپل خِدمت کوونکى داؤد او د
هغۀ خلقو بنى اِسرائيلو له ورکړى وُو.

## د خُدائ پاک حضرت سليمان ته بيا څرګندېدل

٩ ١ کله چې سليمان بادشاه د مالِک خُدائ کور، خپل
محل او د هغه هر څۀ جوړول ختم کړل چې څۀ يې جوړول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوښتل، ٢ نو مالِک خُدائ پہ دويم ځل هغهٔ ته راڅرګند
شو، لکه څنګه چې هغه په جبعون کښې څرګند شوے وو.
٣ مالِک خُدائ هغهٔ ته وفرمائيل، ”ما ستا دُعا اورېدلې ده،
کومه چې تا زما په وړاندې کړې ده. کوم کور چې تا جوړ
کړے دے هغه زهٔ مقدس کوم او هغه به داسې ځائ وی چې
هميشه به هلته زما عبادت کيږی. زما به په دې نظر وی او
هميشه به زړهٔ کښې اوسی. ٤ او کهٔ تا په صداقت او د زړهٔ
د اخلاصه زما خِدمت کولو لکه چې ستا پلار داؤد کولو او تا
زما قانون او هغه هر څهٔ منل چې ما يې حُکم درکړے دے،
٥ نو زهٔ به خپله هغه وعده پوره کړم چې ما ستا پلار داؤد
سره کړې وه چې ما هغهٔ ته وفرمائيل چې ستا د اولاد نه به
هميشه يو کس د بنی اِسرائيل په تخت ناست وی. ٦ خو
کهٔ تا يا ستا اولاد زما تابعداری پرېښوده، چې ما کوم قانون
او حُکمونه درکړی دی، د هغې نافرمانی مو وکړه او د نورو
خُدايانو عبادت مو وکړو، ٧ نو زهٔ به خپل خلق بنی
اِسرائيليان د هغه مُلک نه لرې کړم کوم چې ما ورکړے دے.
او زهٔ به دا کور هم پرېږدم چې ما د خپل عبادت دپاره مقدس
کړے دے. ټول قومونه به د بنی اِسرائيلو په مُلک پورې خندا
کوی او سپک به ورته ګوری. ٨ دا کور به د کنډر يو
ډېرے شی او چې هر څوک هم ورباندې تېرېږی نو ويه
لړزيږی او حيران به شی. هغوئ به تپوس کوی چې مالِک
خُدائ په دې مُلک او کور باندې داسې ولې کړی دی. ٩ نو
خلق به وائی چې هغوئ مالِک خُدائ پرېښے وو، چا چې د
هغوئ پلار نيکهٔ د مِصر نه راوويستل. هغوئ نور خُدايان
راټينګ کړل او د هغوئ عبادت او خِدمت يې وکړو. نو دا
ځکه مالِک خُدائ ورباندې دا تباهی راوستې ده.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت سليمان د حيرام سره تړون

۱۰ د سليمان د مالِک خُدائ په کور او خپل محل باندې
شل کاله ولګېدل. ۱۱ د صور بادشاه حيرام هغهٔ له دِيار او د
نختر لرګو او د هغه ټولو سرو زرو بندوبست وکړو چې هغهٔ
د دې کار دپاره غوښتى وُو. کله چې دا کار ختم شو، نو
سليمان بادشاه حيرام له د ګليل په علاقه کښې شل ښارونه
ورکړل. ۱۲ حيرام بادشاه د هغه ښارونو ليدو له لاړو کوم
چې سليمان ورکړى وُو، خو د هغهٔ خوښ نهٔ شول. ۱۳ نو
هغهٔ سليمان ته ووئيل، ”زما وروره، دا څهٔ رنګه ښارونه دى
چې تا ما له راکړى دى؟“ نو په دې وجه تر اوسه پورې د هغه
ځائ نوم کابول دے. ۱۴ حيرام سليمان له د څلورو زرو
کلو نه زيات سرهٔ زر لېږلى وُو.

## د حضرت سليمان نورې کارنامې

۱۵ سليمان بادشاه په مزدورانو باندې د مالِک خُدائ کور،
محل، په غرهٔ باندې پټى او د يروشلم دېوال جوړ کړو. په
هغوئ يې د حصور، مِجدو او جزر ښارونه هم بيا جوړ کړل.
۱۶ د مِصر بادشاه فِرعون په جزر حمله کړې وه او دا يې
قبضه کړے وو، د هغې اوسېدونکى يې ووژل او په ښار يې
اور بل کړو. بيا هغهٔ دا خپلې لور له د وادهٔ په جهيز کښې په
هغه وخت ورکړو چې سليمان ودوله، ۱۷ سليمان د جزر
ښار او لاندينے بيت‌حورون هم بيا جوړ کړو، ۱۸ ورسره
بعلات، د يهوداه په صحرا کښې تامار، ۱۹ د ګودامونه والا
ښارونه، د هغهٔ د آسونو او جنګى ګاډو دپاره ښارونه او چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په یروشلم، لبنان او خپله ټوله بادشاهۍ کښې يې څۀ هم
جوړول غوښتل نو هغه يې جوړ کړل. ۲۰-۲۱ سليمان د
کنعان خلقو د اولاد نه مزدوران جوړ کړل، کوم چې بنی
اِسرائيلو د مُلک قبضه کولو په وخت نۀ وُو وژلی. په دې
کښې اموريان، حِتيان، فرزيان، حِويان او يبوسيان وُو، چې
د هغوئ اولاد تر اوسه پورې غلامان دی. ۲۲ سليمان د بنی
اِسرائيلو نه غلامان جوړ نۀ کړل، هغوئ د فوجيانو، مشرانو،
فوجی آفسرانو، د ګاډو مشرانو او د آسونو والا په توګه
خِدمت کولو. ۲۳ په هغه مزدورانو باندې پينځۀ سوه او
پنځوس آفسران مقرر کړے شوی وُو چې کومو مزدورانو د
سليمان په منصوبو باندې کار کولو. ۲۴ سليمان په غرۀ
باندې پټی د هغې نه پس جوړ کړل چې د هغۀ ښځه د مِصر د
بادشاه فِرعون لور، د داؤد د ښار نه هغه محل ته تلې وه چې
د هغې دپاره يې جوړ کړے وو. ۲۵ سليمان به په کال کښې
درې ځل سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې په هغه
قربانګاه پېش کولې چې کومه يې مالِک خُدائ ته جوړه
کړې وه. هغۀ مالِک خُدائ ته خوشبوئی هم سوزوله. او داسې
هغۀ د مالِک خُدائ کور جوړول پوره کړل. ۲۶ سليمان
بادشاه په عصيون‌جابر کښې ډېر سمندری جهازُونه هم جوړ
کړل، عصيون‌جابر د ادوم په علاقه کښې د بحرِقُلزم په غاړه
دے او ايلات ته نزدې دے. ۲۷ حيرام بادشاه يو څو تکړه
جهاز چلوونکی ورولېږل چې د سليمان د سړو مدد وکړی.
۲۸ هغوئ د اوفير مُلک ته سفر وکړو او د هغه ځائ نه يې
څوارلسو زرو کلو نه زيات سرۀ زر سليمان له راوړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د شیبا د مَلِکه سره د حضرت سلیمان ملاقات

١٠ (١) د شیبا مَلِکه د سلیمان د شُهرت نه خبر شوه، نو
راغله چې په مشکلو سوالونو سره هغه معلوم کړی. (٢) هغه
یروشلم ته د یوې لوئې قبیلې سره راغله او د اوښانو یوه لویه
قافله ورسره وه چې په مصالحو، قیمتی کاڼو او ډېر سرۀ زر
ورباندې بار وُو. کله چې هغه او سلیمان مِلاو شول، نو هغې
ورسره هغه ټولې خبرې اترې وکړې چې د هغې په ذهن کښې
وې. (٣) نو سلیمان د ټولو سوالونو جواب ورکړو، داسې یو
سوال هم نۀ وو چې هغۀ یې جواب نۀ شو ورکولے. (٤) د
شیبا مَلِکه د سلیمان په حِکمت پوهه شوه او هغه محل یې
ولیدو چې هغۀ جوړ کړے وو. (٥) هغې هغه خوراک ولیدو
چې د هغۀ په دسترخوان باندې پروت وو، د هغۀ د آفسرانو
کوټې، د هغۀ د محل د نوکرانو اِنتظام او هغه لِباس چې
هغوئ اغوستے وو، د هغۀ ساقیان یې ولیدل او هغه پوره
سوزېدونکې نذرانې یې هم ولیدې چې هغۀ به د مالِک خُدائ
په کور کښې پېش کولې. نو په دې هر څۀ باندې حقه حېرانه
شوه. (٦) هغې سلیمان بادشاه ته ووئیل، ”ما په خپل مُلک
کښې چې ستا د کارنامو او حِکمت په حقله څۀ اورېدلی وُو
نو هغه رښتیا دی. (٧) خو ما تر هغې پورې یقین نۀ کولو چې
ترڅو زۀ په خپله راغلې نۀ وم او هر څۀ مې کتلی نۀ وُو. خو
زۀ د دې په نیمه هم نۀ وم خبر، ما ته چې څۀ وئیلی شوی وُو
نو ستا حِکمت او دولت د هغې نه ډېر زیات دے. (٨) ستا
ښځې څومره خوش قسمته دی او ستا نوکران څومره خوش
قسمته دی، هغوئ هر وخت ستا په وړاندې وی او ستا د
حِکمت خبرې اورېدے شی. (٩) د مالِک خُدائ ستا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک ثناء صِفت دې وى، چې هغۀ دا ښودلى دى چې
هغه ستا نه ځومره خوشحاله دے چې تۀ يې د بنى اِسرائيلو
بادشاه جوړ کړے يې. ځکه چې د بنى اِسرائيلو سره د هغۀ
مينه د تل دپاره ده، نو هغۀ تۀ د هغوئ بادشاه جوړ کړے يې
چې د اِنصاف او صداقت نه کار واخلې.“ ۱۰ د شيبا مَلِکه
سليمان بادشاه ته هغه تُحفې پېش کړې کومې چې هغې
راوړې وې، د څلور زره کېلو نه زيات سرۀ زر او په ډېر
زيات مِقدار کښې مصالحې او قيمتى کاڼى هم. هغې چې
کومې مصالحې ورکړې هغه دومره زياتې وې چې هيڅ هم
دومره بيا ورنۀ کړې. ۱۱ د حيرام سمندرى جهازونو چې
کومې د اوفير نه سرۀ زر راوړى وُو، د هغه ځائ نه يې په ډېر
زيات مِقدار کښې د صُندل لرګى او قيمتى کاڼى هم راوړل.
۱۲ سليمان دا لرګى د مالِک خُدائ کور او محل په ستنو
کښې استعمال کړل او د دې نه يې د سندرغاړو دپاره بينجو
او ربابُونه هم جوړ کړل. دا د ټولو نه ښۀ د صُندل لرګى وُو
چې د بنى اِسرائيلو مُلک ته راوړے شوى وُو، د دې په شان
لرګے بيا نۀ دے ليدلے شوے. ۱۳ سليمان بادشاه د شيبا
مَلِکه له هغه هر څۀ ورکړل چې څۀ يې غوښتل، دا د هغه نورو
شاهى تُحفو نه علاوه وُو چې هغې له يې د سخاوت سره
ورکړې وې. بيا هغه او د هغې ډله د شيبا مُلک ته راواپس
شوه.

## د حضرت سليمان بادشاه دولت

۱۴ سليمان بادشاه ته هر کال تقريباً درويشت زره کلو سرۀ
زر مِلاويدل ۱۵ د دې نه علاوه چې سوداګرو کوم محصُول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکولو، د تجارت ګټه او چې د بنی اِسرائیلو د مُلک د ضِلعو
حاکِمانو او د عربو بادشاهانو چې کوم محصُول ورکولو هغه
هم ورته مِلاویدو. ۱۶ سلیمان دوه سوه لوئ ډالونه جوړ
کړل، چې په هر یو باندې تقریباً اووهٔ کلو د ټکولے شوو سرو
زرو پترې خېژولے شوې وُو. ۱۷ هغهٔ درې سوه واړهٔ ډالونه
هم جوړ کړل، چې په هر یو باندې تقریباً دوه کلو د ټکولے
شوو سرو زرو پترې خېژولے شوې وُو. هغهٔ دا ټول ډالونه په
هغه دربار کښې کېښودل چې نوم یې د لبنان ځنګل وو. ۱۸
هغهٔ یو لوئ تخت هم جوړ کړو چې یوه حِصه یې د هاتی په
غاښونو پټه وه او نور په سوچه سرو زرو باندې پټ وو. ۱۹-
۲۰ د تخت شپږ پوړۍ وې چې بره ورختلې وې، چې د هرې
پوړۍ په یو سر او بل سره باندې د ازمرو مجسمې وې، چې
ټول دولس ازمرې وُو. تخت شا طرف ګول وو او د دواړو
بازوګانو سره یې یو یو د ازمرې مجسمه وه. په بله یوه
بادشاهۍ کښې کله هم داسې تخت موجود نهٔ وو. ۲۱ د
سلیمان د څښلو ټولې پیالۍ د سرو زرو نه جوړې وې او د
لبنان د ځنګل په دربار کښې ټول لوښی د سوچه سرو زرو
وُو. سپین زر په کښې بیخی نهٔ وُو استعمال شوی، ځکه چې
د سلیمان په وخت کښې دا قیمتی نهٔ شو ګڼلے. ۲۲ هغهٔ
سمندری جهازُونه لرل چې د حیرام د جهازونو سره چلېدل.
هر درې کاله پس به دا راواپس کېدل، چې سرهٔ زر، سپین
زر، د هاتی غاښونه، شادوګان او طاؤسان به یې راوړل. ۲۳
سلیمان د دُنیا د نورو ټولو بادشاهانو نه زیات مالداره او د
ټولو نه زیات د حِکمت خاوند وو، ۲۴ او ټولې دُنیا به دا
غوښتل چې هغهٔ له راشی او د هغهٔ حِکمت ته غوږ ونیسی
چې خُدائ پاک هغهٔ له ورکړے دے. ۲۵ چې هر څوک به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ له راتلو نو هغهٔ له به يې څهٔ تُحفه راوړه، لکه سپين زر او
سرهٔ زر، چُوغې، وسلې، مصالحې، آسونه، او قچر. کال په
کال به داسې کېدل. ٢٦ سليمان د څوارلسو سوو جنګی
ګاډو او دولسو زرو په آسونو سوارو فوجيانو يو لوئ لښکر
جوړ کړو. هغهٔ څهٔ په يروشلم کښې وساتل او باقی نور يې په
مختلفو ښارونو کښې دېره کړل. ٢٧ د هغهٔ په بادشاهۍ کښې
سپين زر په يروشلم کښې د کاڼو په شان عام وُو او دِيار د
يهوداه غرونو په لمن کښې د چِنار په شان ډېر تېر وُو. ٢٨ د
سليمان سوداګرو د مِصر او قوعی نه آسونه اخستل ٢٩
هغوئ به يوه جنګی ګاډۍ د مِصر نه په شپږ سوه د سپينو
زرو په سيکو او آس به يې په يو نيم سل د سپينو زرو په
سيکو اخستلو او حِتی او شامی بادشاهانو له به يې د
خرڅولو دپاره آسونه او جنګی ګاډۍ لېږلې.

## د حضرت سليمان د خُدائ پاک تابعداری نهٔ کول

١١ ١ او سليمان د پردی مُلک د ډېرو ښځو سره مينه
کوله. د فِرعون د لور نه علاوه هغهٔ حِتۍ، موآبۍ، عمونۍ،
ادومۍ او صيدانۍ ښځې وادهٔ کړې. ٢ مالِک خُدائ بنی
اِسرائيلو له دا حُکم ورکړے وو چې د دې قومونو سره ودونه
مهٔ کوئ ځکه چې د دې په وجه به د بنی اِسرائيلو زړونه نورو
خُدايانو ته واوړی، خو سليمان د غېرو قومو ښځو مينه نهٔ
پرېښودله. ٣ سليمان اووهٔ سوه شهزادګۍ وادهٔ کړې او
درې سوه وينځې يې هم وې. نو هغوئ د هغهٔ زړهٔ د خُدائ
پاک نه واړولو ٤ او چې سليمان بوډا شو نو هغوئ د هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زړهٔ پردو خُدايانو ته واړولو او هغه د خپل پلار داؤد په شان د
مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک پوره وفادار پاتې نهٔ شو. ۵
هغهٔ د صيدان عستارات مجسمې او د عمون د پليت مولک
بُت عبادت يې وکړو. ۶ نو سليمان هغه څهٔ وکړل چې څهٔ
د مالِک خُدائ په نظر کښې بد وُو او هغهٔ د مالِک خُدائ پوره
تابعدارى نهٔ کوله، لکه څنګه چې د هغهٔ پلار داؤد کړې وه.
۷ هغهٔ د يروشلم نمرخاتهٔ طرف ته په غرهٔ باندې د موآب د
پليت معبود کموس او د عمون د پليت مولک بُت د عبادت
دپاره يوه عبادتخانه جوړه کړه. ۸ هغهٔ د عبادت ځايونه هم
جوړ کړل چرته به چې د هغهٔ د پردى مُلک ټولو ښځو
خوشبوئى سوزوله او خپلو خُدايانو ته به يې نذرانې پېش
کولې. ۹-۱۰ مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک دوه
ځل سليمان ته څرګند شوے وو او دا حُکم يې ورکړے وو
چې د پردو خُدايانو عبادت مهٔ کوه، خو سليمان د مالِک
خُدائ تابعدارى ونهٔ کړه او د هغهٔ نه واوړېدو. نو مالِک
خُدائ سليمان ته په قهر شو ۱۱ او ورته يې وفرمائيل، ”تا
قصداً ما سره خپل لوظ مات کړے دے او زما د حُکمونو
نافرمانى دې کړې ده، نو زهٔ به خامخا ستا نه بادشاهى اخلم
او ستا يو نوکر له به يې ورکوم. ۱۲ خو ستا د پلار داؤد په
خاطر زهٔ به داسې ستا په ژوند کښې نهٔ کوم، خو ستا د زوئ
په بادشاهئ کښې به يې وکړم. ۱۳ خو زهٔ به د هغهٔ نه ټوله
بادشاهى نهٔ اخلم، زهٔ به د خپل خِدمت کوونکى داؤد او د
خپل خوښ شوى ښار يروشلم د خاطره يوه قبيله هغهٔ ته
پرېږدم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت سليمان دشمنان

۱۴ نو مالِک خُدائ د ادوم شاهی خاندان حدد راوچت کړو
چې د سليمان خِلاف شی. ۱۵-۱۶ د دې نه ډېر وخت
وړاندې، کله چې داؤد ادوم فتح کړو او د هغهٔ د لښکر مشر
يوآب د مړو ښخولو له تلے وو نو داؤد او د هغهٔ سړی په
ادوم کښې شپږ مياشتې پاتې شول او په دې دوران کښې
هغوئ په ادوم کښې ټول نران ووژل ۱۷ خو حدد او د هغهٔ د
پلار څهٔ ادوميان نوکران مِصر ته تښتېدلی وُو. (په هغه وخت
کښې حدد ماشوم وو.) ۱۸ هغوئ ميديان پرېښودو او فاران
ته لاړل، چې هلته يو څو نور سړی ورسره ملګری شول. بيا
هغوئ مِصر ته سفر وکړو او فِرعون له لاړل، هغهٔ حدد له لږه
زمکه او کور ورکړو او د خوراک بندوبست يې ورله وکړو.
۱۹ او د فِرعون حدد دومره خوښ شو چې هغهٔ له يې د
خپلې ښځې يعنې د مَلِکې تحفنحيس خور وکړه، چې حدد يې
وادهٔ کړی. ۲۰ د هغې نه يې يو زوئ جنوبت پيدا شو، چې
هغه مَلِکې د فِرعون په محل کښې ساتلو او هلته د فِرعون د
زامنو سره اوسېدو. ۲۱ کله چې په مِصر کښې حدد ته دا
پېغام ورسېدو چې داؤد او د لښکر مشر يوآب مړهٔ شوی دی،
نو حدد فِرعون ته ووئيل، ”ما پرېږده چې زهٔ واپس خپل مُلک
ته لاړ شم.“ ۲۲ فِرعون ترې نه تپوس وکړو، ”دلته تا ته د څهٔ
کمے دے؟ چې واپس خپل کور ته تلل غواړې.“ حدد فِرعون
له جواب ورکړو، ”نه، بس ما له د تلو اجازت راکړه.“ ۲۳
خُدائ پاک د اليدع زوئ رِزون هم د سليمان خِلاف کړو.
رِزون د خپل نيک يعنې د ضوباه بادشاه هددعزر نه تښتېدلے
وو، ۲۴ او هغه د بدمعاشانو د يوې قبيلې مشر شوے وو. دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغې نه پس شوی وُو چې کله داؤد هددعزر له شکست
ورکړو. رِزون او د هغهٔ سړی لاړل او په دمشق کښې
اوسېدل، چې هلته خپلو سړو هغه په دمشق کښې بادشاه
جوړ کړو. ۲۵ د سليمان په ټول ژوند کښې رِزون د بنی
اِسرائيلو دشمن وو او د حدد په شان يې هغوئ په تکليف
کول، هغهٔ د بنی اِسرائيلو نه نفرت کولو خو په خپله يې په
شام بادشاهی کوله.

## د يربعام سره د خُدائ پاک لوظ

۲۶ يو بل سړے د نباط زوئ يربعام د سليمان بادشاه
خِلاف شو چې هغه د سليمان خپل يو آفسر وو. يربعام په
اِفرائيم کښې د صريده وو. او د يربعام د کونډې مور نوم
صروعه وو. ۲۷ دا د هغهٔ د بغاوت قيصه ده. سليمان د
يروشلم نمرخاتهٔ طرف ته بره ختلی پټی جوړول او د ښار
دېوالونه يې مرمت کول. ۲۸ يربعام يو تکړه زلمے وو او
کله چې سليمان ته پته ولګېده چې هغه څومره محنتی دے،
نو هغه يې د منسی او اِفرائيم قبيلو په علاقه کښې د هغه
مزدورانو مشر جوړ کړو. ۲۹ يوه ورځ کله چې يربعام د
يروشلم نه سفر کولو نو په لاره باندې اخياه پېغمبر ورسره
مِلاو شو، اخياه د سيلا وو. او په مېدان کښې د هغوئ نه بغېر
نور هيڅ څوک هم نهٔ وُو، اخياه نوې چُوغه اغوستې وه. ۳۰
اخياه چې کومه نوې چُوغه اغوستې وه هغه يې وويستله او
دولس ټوټې يې کړه، ۳۱ او يربعام ته يې ووئيل، ”لس ټوټې د
ځان دپاره واخله، ځکه مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک تا ته وائی چې زهٔ د سليمان نه بادشاهی اخلم او تا له به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لس قبيلې درکوم. ۳۲ سليمان به يوه قبيله زما د خِدمت
کوونکی داؤد او د يروشلم په خاطر وساتی، دا هغه ښار دے
چې د بنی اِسرائيل په ټول مُلک کښې ما خوښ کړے دے
چې زما شی. ۳۳ زهٔ داسې ځکه کوم چې سليمان زهٔ رد
کړے يم او د پردو خُدايانو عبادت يې کړے دے يعنې، د
صيدان د مجسمې عستارات، د موآب بُت کموس او د عمون
بُت مولک. سليمان زما نافرمانی کړې ده، هغهٔ زهٔ نهٔ يم رضا
کړے او لکه څنګه چې د هغهٔ پلار داؤد زما په قانون او
حُکمونو عمل کولو داسې هغهٔ نهٔ دے کړے. ۳۴ خو زهٔ به د
سليمان نه ټوله بادشاهی نهٔ اخلم او چې ترڅو ژوندے وی نو
هغه به بادشاه ساتم. زهٔ به داسې زما خِدمت کوونکی د داؤد
د خاطره کوم، کوم چې ما خوښ کړے وو او هغهٔ زما
قانون او حُکمونه منلی وُو. ۳۵ زهٔ به د سليمان د زوئ نه
بادشاهی واخلم او لس قبيلې به درته حواله کړم، ۳۶ خو زهٔ
به د سليمان زوئ ته يوه قبيله پرېږدم، نو چې زما د خِدمت
کوونکی داؤد د اولاد نه هميشه زما يو کس وی چې په
يروشلم کښې بادشاهی کوی، هغه ښار چې ما خوښ کړے
دے چې چرته به زما عبادت کيږی. ۳۷ يربعامه، زهٔ به تا د
اِسرائيل بادشاه جوړ کړم او تهٔ به په هغه ټوله علاقه بادشاهی
کوې چې ستا زړهٔ يې غواړی. ۳۸ کهٔ تهٔ زما د حُکم پوره
تابعداری کوې، زما د قانون په مطابق ژوند تېروې او زما د
حُکمونو او تعليماتو په مطابق هغه کار کوې چې زما په نظر
کښې ښهٔ وی، لکه څنګه چې زما خِدمت کوونکی داؤد کول،
نو زهٔ به هميشه ستا مل يم. زهٔ به تا د بنی اِسرائيلو بادشاه
جوړ کړم او ستا اولاد به ستا نه پس خامخا بادشاهی کوی،
لکه څنګه چې ما د داؤد دپاره کړی دی. ۳۹ د سليمان د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناه په وجه به زۀ د داؤد اولاد له سزا ورکوم، خو دا به د
هميشه دپاره نۀ وى.“ ۴۰ سليمان د يربعام د وژلو کوشش
کولو، خو يربعام د مِصر بادشاه سيساق له وتښتېدو او د
سليمان تر مرګه پورې هلته ايسار وو.

## د حضرت سليمان مرګ

۴۱ د سليمان کارنامې، د هغۀ حِکمت او چې نور څۀ يې هم
کړى وُو هغه ټول ”د سليمان شاه نامه“ نومې کِتاب کښې
ليکلے شوى دى. ۴۲ هغه څلوېښت کاله په ټولو بنى
اِسرائيلو باندې په يروشلم کښې بادشاه وو. ۴۳ هغه مړ شو
او د داؤد په ښار کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ رحُبعام د هغۀ
نه پس بادشاه شو.

## د شمالى قبيلو بغاوت

۱۲ ۱ بيا رحُبعام شِکم ته لاړو، چرته چې ټول
اِسرائيليان راغونډ شوى وُو چې دے بادشاه جوړ کړى. ۲
کله چې د نباط زوئ يربعام د دې نه خبر شو چې څوک د
سليمان بادشاه نه مِصر ته تښتېدلے وو، هغه د مِصر نه
راواپس شو. ۳ د شمالى قبيلو خلقو يربعام راوغوښتو او
بيا هغه ټول ورسره رحُبعام له لاړل او هغۀ ته يې ووئيل، ۴
”ستا پلار سليمان په مونږ باندې درانۀ بوجونه کېښودل. کۀ تۀ
دا بوجونه سپک کړې، نو مونږ به ستا وفادار خلق يُو.“ ۵
هغۀ ورته ووئيل، ”درې ورځې پس راشئ نو زۀ به تاسو له
جواب درکړم.“ نو هغوئ لاړل. ۶ رحُبعام بادشاه د هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپین ږیرو مشرانو سره مشوره وکړه کوم چې د هغهٔ د پلار
سلیمان مشوره ورکوونکی وُو. هغهٔ ترې نه تپوس وکړو،
”تاسو ما له مشوره راکړئ چې دې خلقو له څهٔ جواب
ورکړم؟“ ٧ هغوئ ورته ووئیل، ”کهٔ تهٔ نن د دې خلقو
خِدمتګار جوړ شې او د هغوئ خِدمت وکړې او خوږې
خبرې ورسره وکړې، نو هغوئ به تل ستا خِدمت کوونکی
وی.“ ٨ خو هغهٔ د مشرانو نصیحت رد کړو او هغه زلمو
له لاړو کوم چې د هغهٔ سره لوئ شوی وُو او اوس د هغهٔ
مشوره ورکوونکی وُو. ٩ هغهٔ ترې نه تپوس وکړو، ”تاسو
ما له مشوره راکړئ چې څهٔ وکړُو. مونږ هغه خلقو ته څهٔ
ووایو چې ما ته وائی چې د هغوئ بوجونه سپک کړم چې زما
پلار ورباندې ایښی دی؟“ ١٠ نو زلمو ورته ووئیل، ”څوک
چې آسان ژوند غواړی نو هغوئ ته ووایه چې، زما کچه ګوته
زما د پلار د ملا نه غټه ده. ١١ هغوئ ته ووایه چې، زما پلار
په تاسو درانهٔ بوجونه اچولی دی، خو زهٔ به دا نور هم درانهٔ
کړم. هغهٔ تاسو په کوړو وهلئ، خو زهٔ به تاسو په لړمانو سم
کړم.“ ١٢ درې ورځې وروستو یربعام او ټول خلق رحُبعام
بادشاه ته راواپس شول، لکه څنګه چې دې بادشاه ورته وئیلی
وُو. ١٣ بادشاه د مشرانو سړو مشوره رد کړه او خلقو ته یې
سختې خبرې وکړې، ١٤ هم هغه شان څنګه چې زلمو ورته
وئیلی وُو. هغهٔ ووئیل، ”زما پلار په تاسو باندې درانهٔ بوجونه
اچولی وُو، خو زهٔ به دا نور هم درانهٔ کړم. هغهٔ تاسو په کوړو
باندې وهلئ، خو زهٔ به تاسو په لړمانو باندې سموم.“ ١٥ نو
بادشاه خلقو ته غوږ ونهٔ نیولو، دا هر څهٔ ځکه بدل شول چې
دا مالِک خُدائ ته منظوره وه چې هغه خبره پوره کړی چې
مالِک خُدائ د سیلا پیغمبر اخیاه په ذریعه د نباط زوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یربعام ته کړې وه. ۱۶ کله چې ټول بنی اِسرائیلیان پوهه
شول چې بادشاه هغوئ ته غوږ نۀ نیولو، نو هغوئ ووئیل،
”مونږ د داؤد بادشاهۍ نۀ منو، د یَسی په زوئ کښې زمونږ څۀ
فائده ده. اے بنی اِسرائیلو، ځئ خپلو خېمو ته واپس لاړ شئ،
د داؤد خاندان دې خپله بادشاهی سمباله کړی.“ او بنی
اِسرائیلیان خپلو خېمو ته لاړل. ۱۷ خو رحُبعام په هغه بنی
اِسرائیلو باندې بادشاهی کوله کوم چې د یهوداه په علاقه
کښې اوسېدل. ۱۸ بیا رحُبعام بادشاه ادورام ولېږلو، کوم
چې د هغه مزدورانو مشر وو چې په زور کار ترې نه اخستے
شو، چې هغه اِسرائیل له لاړ شی، خو هغوئ هغه سنګسار
کړو. رحُبعام په تېزۍ سره په خپله جنګی ګاډۍ کښې سور
شو او یروشلم ته وتښتېدو. ۱۹ نو هم د هغه وخت نه د
اِسرائیل خلق د داؤد د شاهی خاندان خِلاف بغاوت کوی.
۲۰ کله چې اِسرائیلیان خبر شول چې یربعام د مِصر نه
راواپس شوے دے، نو هغه یې د خلقو یوې غونډې ته
راوغوښتلو او د ټول اِسرائیل بادشاه یې جوړ کړو. صِرف د
یهوداه قبیلې خلقو د داؤد اولاد منلو.

## د سمعیاه پېشګوئي

۲۱ کله چې رحُبعام یروشلم ته ورسېدو، نو هغۀ د یهوداه او
بنیامین قبیلې نه یو لاک اتیا زره ښۀ فوجیان راغونډ کړل.
هغۀ دا اراده وکړه چې د جنګ دپاره لاړ شی چې د اِسرائیل
شمالی قبیلې په خپل قابو کښې بیا راولی. ۲۲ خو خُدائ
پاک سمعیاه پیغمبر ته وفرمائیل ۲۳ چې هغه رحُبعام او د
یهوداه او د بنیامین ټولو خلقو ته دا پیغام ورسوی، ۲۴ ”په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو ورونړو یعنې اِسرائیل باندې حمله مۀ کوئ. ټول کور ته
لاړ شئ ځکه چې څۀ وشول نو هغه ما کړې دى." هغوئ ټولو
د مالِک خُدائ حُکم ومنلو او واپس کورونو ته لاړل.

## د یربعام د مالِک خُدائ نه اوړېدل

۲۵ د اِسرائیل بادشاه یربعام د اِفرائیم غرونو په مُلک شِکم
کښې د پَخو دېوالونو ښار جوړ کړو. بیا هغه لاړو او د فنوایل
ښار دپاره یې پاخۀ دېوالونه جوړ کړل. ۲۶-۲۷ هغۀ د خپل
ځان سره ووئیل، "اوس خبره داسې ده، کۀ زما خلق یروشلم
ته لاړ شی او هلته د مالِک خُدائ په کور کښې نذرانې پېش
کړی نو هغوئ به خپله وفاداری د یهوداه بادشاه رحُبعام ته
بدله کړی او ما به ووژنی." ۲۸ د مشورې اخستلو نه پس،
بادشاه دوه د سرو زرو سخی جوړ کړل او خپلو خلقو ته یې
ووئیل، "تاسو د ډېرې مودې نه د عبادت دپاره یروشلم ته
ځئ. اے اِسرائیلیانو، ستاسو خُدایان دا دی چا چې د مِصر
مُلک نه راوویستلئ." ۲۹ هغۀ د سرو زرو یو سخے په
بیت‌ایل کښې او بل په دان کښې کېښودو. ۳۰ نو داسې خلقو
گناه وکړه، ځکه چې هغوئ د عبادت دپاره بیت‌ایل او دان ته
لاړل. ۳۱ او یربعام په علاقو کښې د عبادت ځایونه هم جوړ
کړل او د هغه کورونو نه یې اِمامان خوښ کړل کوم چې د
لیوی قبیلې نه نۀ وُو.

## په بیت‌ایل کښې د عبادت حُکم ورکول

۳۲ یربعام د اتمې میاشتې په پینځلسمه ورځ په یهوداه کښې
د اختر په شان یو مذهبی اختر هم مقرر کړو. د سرو زرو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم سخی یې چې جوړ کړی وُو نو په بیت‌ایل کښې یې په
قربان‌ګاه باندې هغې ته نذرانې پېش کړې او هغهٔ هلته په
بیت‌ایل کښې د عبادت په هغه ځایونو کښې د خِدمت دپاره
اِمامان کښېنول کومې علاقائی عبادتخانې چې هغهٔ جوړې
کړې وې. ٣٣ او د اتمې میاشتې په پینځلسمه ورځ کومه
ورځ چې هغهٔ په خپله مقرره کړې وه، نو هغه بیت‌ایل ته لاړو
او هغهٔ چې د اِسرائیلیانو دپاره کوم اختر مقرر کړے وو د
هغې د مناوولو دپاره هغهٔ په قربان‌ګاه باندې یوه نذرانه پېش
کړه.

١٣ ١ د مالِک خُدائ په حُکم باندې د یهوداه قبیلې نه د
خُدائ پاک یو سړے بیت‌ایل ته لاړو او هلته په هغه وخت
ورسېدو چې یربعام نذرانې پېش کولو دپاره د قربان‌ګاه سره
ولاړ وو. ٢ د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق هغهٔ قربان‌ګاه
ته مخامخ چغه کړه، ”اے قربان‌ګاه، اے قربان‌ګاه. مالِک
خُدائ داسې فرمائی، د داؤد په خاندان کښې به یو ماشوم
پېدا شی چې د هغهٔ نوم به یوسیاه وی. هغه به په تا باندې هغه
اِمامان حلال کړی کوم چې په تا باندې نذرانې پېش کوی خو
په حقیقت کښې په علاقائی عبادتخانې کښې خِدمت کوی او
هغه به درباندې د بنیادمو هډُوکی وسوزوی.“ ٣ او پیغمبر
خبره جاری وساتله، ”دا قربان‌ګاه به ټوټې ټوټې شی او ایرې
به یې خوَرې وَرې شی. نو بیا به تا ته پته ولګی چې مالِک
خُدائ زما په ذریعه خبرې کړې دی.“ ٤ کله چې یربعام
بادشاه دا واورېدل نو هغهٔ ورته اِشاره وکړه او حُکم یې
ورکړو، ”دا سړے ونیسئ.“ نو د بادشاه لاس سمدستی شل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو او واپس يې راغونډ نۀ کړے شو. ۵ نو قربانګاه
سمدستی ټوټې ټوټې شوه او ايرې په زمکه ورغورزېدې، لکه
څنګه چې هغه پېغمبر د مالِک خُدائ په نوم پېشګوئي کړې
وه. ۶ يربعام بادشاه پېغمبر ته ووئيل، ”مالِک خُدائ ستا
خُدائ پاک ته زما دپاره دُعا وکړه او هغۀ ته سوال وکړه چې
زما لاس روغ کړی.“ نو پېغمبر مالِک خُدائ ته سوال وکړو
او د بادشاه لاس روغ شو. ۷ بيا بادشاه پېغمبر ته ووئيل،
”ما سره کور ته لاړ شه او روټۍ راسره وخوره. تا چې څۀ
کړی دی نو زۀ به د هغې اِنعام درکړم.“ ۸ خو د خُدائ
پاک سړی ورته وفرمائيل، ”کۀ تۀ ما له ستا نيم دولت هم
راکړې، نو زۀ به تا سره لاړ نۀ شم او نۀ به هلته ستا نه څۀ
وخورم او نۀ وڅښم. ۹ مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے
دے چې نۀ به څۀ خورې او نۀ څښې او چې په کومه لار
راغلے يې په هغې به واپس هم نۀ ځې.“ ۱۰ خو چې په کومه
لار هغه راغلے وو نو واپس په هغې لا نۀ ړو او په بله لار لاړو.

## د بيت‌ايل بوډا پېغمبر

۱۱ په هغه وخت کښې يو بوډا پېغمبر چې په بيت‌ايل کښې
اوسېدو، د هغۀ زامن راغلل او هغۀ ته يې هغه څۀ ووئيل چې
د يهوداه پېغمبر په هغه ورځ په بيت‌ايل کښې څۀ کړی وُو او
څۀ يې يربعام بادشاه ته فرمائيلی وُو. ۱۲ هغه بوډا پېغمبر د
هغوئ نه تپوس وکړو، ”کله چې هغه تلو نو په کومه لاره
لاړو؟“ نو هغوئ ورته هغه سړک وښودلو ۱۳ او هغۀ هغوئ
ته ووئيل چې زما دپاره خپل خر کته کړئ. نو هغوئ ورله خر
کته کړو او هغه وريانډې سور شو. ۱۴ د يهوداه په پېغمبر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پسې په هغه سړک روان وو او هغه یې ومونده چې د څېړۍ د
ونې لاندې ناست وو. هغهٔ ترې نه تپوس وکړو، "تهٔ د یهوداه
پېغمبر یې څهٔ؟" هغه سړی جواب ورکړو، "آو، زهٔ یم." ۱۵
نو بوډا پېغمبر هغهٔ ته وفرمائیل، "ما سره کور ته لاړ شه او
روټۍ وخوره." ۱۶ خو د یهوداه پېغمبر ورته وفرمائیل، "زهٔ
تا سره واپس نهٔ شم تلے او نهٔ په دې ځائ کښې تا سره
روټۍ خوړے شم او نهٔ اوبهٔ څښلے شم، ۱۷ د مالِک خُدائ
کلام په ما نازل شو چې تهٔ به هلته نهٔ روټۍ خورې او نهٔ به
اوبهٔ څښې او چې په کومه لاره تلے یې، نو په هغې به واپس
نهٔ راځې." ۱۸ نو د بیت‌ایل بوډا پېغمبر هغهٔ ته وفرمائیل، "زهٔ
هم ستا په شان پېغمبر یم او د مالِک خُدائ په حُکم ما ته یوې
فرښتې وفرمائیل چې د ځان سره دې کور ته بوځم او زهٔ ستا
مېلمستیا وکړم." خو دروغ یې ورته ووئیل. ۱۹ نو د یهوداه
پېغمبر د هغه بوډا پېغمبر سره کور ته لاړو او د هغهٔ سره یې
روټۍ وخوړه او اوبهٔ یې ورسره وڅښلې. ۲۰ چې کله هغوئ
په دسترخوان ناست وُو، نو په هغه بوډا پېغمبر باندې د مالِک
خُدائ کلام نازل شو، ۲۱ او هغهٔ د یهوداه پېغمبر ته چغه
کړه، "مالِک خُدائ تا ته فرمائی چې تا د هغهٔ نافرمانی کړې
ده او چې هغهٔ څهٔ حُکم درکړے وو هغه شان دې ونهٔ کړل.
۲۲ خو تهٔ واپس راغلې او په هغه ځائ کښې دې روټۍ
وخوړه او اوبهٔ دې وڅښلې چې هغهٔ تا ته فرمائیلی وُو چې
هلته به خوراک څښاک نهٔ کوې. نو په دې وجه تهٔ به د پلار
نیکهٔ په ادیره کښې نهٔ شې ښخولے." ۲۳ کله چې هغوئ
خوراک ختم کړو، نو هغه بوډا پېغمبر د یهوداه پېغمبر دپاره
خر کته کړو، ۲۴ هغه روان شو. په لار کښې یو زمرے
ورباندې راغلو او هغه یې ووژلو. د هغهٔ لاش په سړک پروت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو او خر او زمرے ورسره ولاړ وُو. ۲۵ څۀ سړی هلته
تېرېدل او په سړک باندې يې لاش وليدو چې زمرے ورسره
نزدې ولاړ وو. هغوئ بيت‌ايل ته لاړل او چې څۀ يې ليدلی وُو
په هغې باندې يې خلق خبر کړل. ۲۶ کله چې بوډا پېغمبر د
دې نه خبر شو، نو هغۀ وفرمائيل، ”دا هغه پېغمبر دے چې د
مالِک خُدائ نافرمانی يې کړې ده. نو دا ځکه مالِک خُدائ
زمرے ورولېږلو چې حمله پرې وکړی او مړ يې کړی، لکه
څنګه چې مالِک خُدائ فرمائيلی وُو.“ ۲۷ بيا هغۀ خپلو
زامنو ته وفرمائيل، ”زما دپاره زما خر کته کړئ.“ نو هغوئ
هم داسې وکړل، ۲۸ او هغه روان شو او د هغه پېغمبر لاش
يې وليدو چې په سړک پروت وو، چې خر او زمرے تر اوسه
پورې ورسره ولاړ وُو، ازمرى نۀ لاش خوړلے وو او نۀ يې په
خر حمله کړې وه. ۲۹ هغه بوډا پېغمبر لاش راواخستو، په
خرۀ يې کېښودو او واپس يې بيت‌ايل ته راوړو چې په دې
باندې غم وکړی او ښخ يې کړی. ۳۰ هغه يې د خپل خاندان
په قبر کښې ښخ کړو او هغه او د هغۀ زامنو په هغۀ باندې
غمژن وُو او وئيل يې چې، ”اے زما وروره ډېر افسوس
دے.“ ۳۱ چې هغه يې ښخ کړو نو پېغمبر خپلو زامنو ته
وفرمائيل، ”کله چې زۀ مړ شم، نو ما په هغه قبر کښې ښخ
کړئ چې په کوم کښې د خُدائ پاک نبی ښخ دے، او زما
لاش د هغۀ د هډوکو په خوا کښې کېږدئ. ۳۲ نو هغۀ چې د
مالِک خُدائ په حُکم کومې خبرې په بيت‌ايل کښې د
قربان‌ګاه خِلاف او د سامريه په ښارونو کښې د علاقائی
عبادتخانې خِلاف کولې نو هغه به خامخا رښتيا شی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یربعام کبیره ګناه

۳۳ خو د اِسرائیل بادشاه یربعام بیا هم د خپلو بدو عملونو
نه نهٔ اوړېدو او د هر قِسم خلقو اِمامان یې خوښول، چې په
هغه علاقائی عبادتخانې کښې خِدمت وکړی چې کومې هغهٔ
جوړې کړې وې. چې چا هم اِمام جوړېدل غوښتل نو هغه به
یې اِمام مقررولو. ۳۴ د دې ګناه په وجه د یربعام بادشاهی
ختمه شوه او د زمکې د مخ نه ورکه شوه.

## د یربعام د زوئ مرګ

۱۴ ۱ په هغه وخت کښې د یربعام بادشاه زوئ ابیاه
بیمار شو. ۲ یربعام خپلې ښځې ته ووئیل، ”خپل مخ پټ
کړه چې څوک دې ونهٔ پېژنی او سیلا ته لاړه شه چرته چې
اخیاه پیغمبر اوسیږی، چا چې فرمائیل چې زهٔ به د اِسرائیل
بادشاه جوړېږم. ۳ هغهٔ له لس غټې او څهٔ نرئ روټۍ او یو
منګے شات ورکړه. د هغهٔ نه تپوس وکړه چې په هلک باندې
به څهٔ چل کیږی.“ ۴ نو هغه په سیلا کښې د اخیاه کور ته
لاړه. د ډېر عُمر په وجه اخیاه ړوند شوے وو. ۵ مالِک
خُدائ اخیاه ته فرمائیلی وُو چې د یربعام ښځه د خپل بیمار
زوئ په حقله تپوس کولو له راروانه ده. او مالِک خُدائ
اخیاه ته وفرمائیل چې څهٔ به وائې. کله چې د یربعام ښځه
راورسېده، نو هغې داسې ښکاره کړل چې هغه ګنې بل څوک
ده. ۶ خو چې کله اخیاه ته پته ولګېده چې هغه په دروازه
باندې راننوځی، نو هغهٔ وفرمائیل، ”د یربعام ښځې دننه راشه.
تهٔ دا ولې ښکاره کوې چې ګنې بل څوک یې؟ ما سره ستا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره یو بد خبر دے. ۷ لاړه شه او یربعام ته ووایه چې
مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک هغهٔ ته فرمائی چې ما
ستا درجه د نورو خلقو نه اوچته کړه او زما د خلقو بنی
اِسرائیلو بادشاه مې جوړ کړې. ۸ د داؤد اولاد نه ما
بادشاهی واخستله او تا له مې درکړه. خو تهٔ زما د خِدمت
کوونکی داؤد په شان نهٔ يې، چې هغه زما پوره تابعدار وو،
زما حُکمونه يې منل او صِرف هغه څهٔ يې کول چې ما ورته
وئيل. ۹ تا د هغوئ نه هم لوئې گناهونه وکړل چې کومو
ستا نه مخکښې بادشاهی کوله. تا زهٔ رد کړے يم او زما
غصه دې راپارولې ده ځکه چې د عبادت دپاره دې بُتان او
مجسمې جوړې کړې دی. ۱۰ نو د دې په وجه به زهٔ ستا په
شاهی خاندان وبا راولم او ستا د اولاد ټول نران به ووژنم کهٔ
هغه آزاد وی او کهٔ غلام. او زهٔ به ستا د خاندان نه ځان
خلاص کړم، هغوئ به داسې فنا شی لکه چې څپیاکې
وسوزولے شی. ۱۱ ستا د خاندان هر یو کس چې په ښار
کښې مړ شی نو سپی به هغه وخوری او چې څوک په میدان
کښې مړ شی نو مارغان به هغه وخوری. ما مالِک خُدائ دا
فرمائیلی دی." ۱۲ او اخیاه د یربعام ښځې ته وفرمائیل،
"اوس واپس کور ته لاړه شه. چې څنگه تهٔ ښار ته ورننوځې
نو ستا زوئ به مړ شی. ۱۳ ټول بنی اِسرائیلیان به په هغهٔ
ماتم وکړی او ښخ به يې کړی. صِرف دے به د یربعام د
خاندان هغه کس وی چې په صحیح طریقه کفن دفن شوے
وی، ځکه چې صِرف د هغهٔ نه مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک رضا دے. ۱۴ مالِک خُدائ په اِسرائیل باندې يو
بادشاه مقرروی چې هغه به د یربعام د خاندان بادشاهی
ختمه کړی او دا به هم اوس اوس وشی. ۱۵ مالِک خُدائ به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اِسرائيل مُلک له سزا ورکړی او هغه به داسې وخوځوی
لکه چې په يوه وَله کښې د لوخې بوټے خوځيږی. هغه به
اِسرائيل د دې ښهٔ مُلک نه د بيخ نه وباسی کوم چې هغهٔ د
هغوئ پلار نيکهٔ له ورکړے وو او هغوئ به د فرات سيند نه
اخوا خوارهٔ وارهٔ کړی، ځکه چې هغوئ د اشيرې بُتانو
جوړولو په وجه د هغهٔ غصه راپارولې ده. ١٦ مالِک خُدائ
به اِسرائيل ځکه پريږدی چې يربعام گناه کړې ده او اِسرائيل
يې د گناه طرف ته بوتلی دی.“ ١٧ د يربعام ښځه واپس
تِرضاه ته لاړه. چې څنګه هغه کور ته دننه شوه نو هغه هلک
مړ شو. ١٨ ټول اِسرائيل په هغهٔ پسې غم وکړو او هغه يې
ښخ کړو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ د خپل خِدمت
کوونکی اخياه پيغمبر په ذريعه فرمائيلی وُو.

## د يربعام مرګ

١٩ يربعام بادشاه چې نور څهٔ هم وکړل، هغهٔ چې کوم
جنګونه کړی وُو او چې هغهٔ څنګه بادشاهی کوله نو دا هر څهٔ
د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ٢٠
يربعام دوويشت کاله بادشاهی وکړه. هغه مړ شو او ښخ شو
او د هغهٔ زوئ ندب د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه رحُبعام

٢١ د سليمان زوئ رحُبعام د يو څلويښتو کالو وو چې هغه
د يهوداه بادشاه جوړ شو او هغهٔ اوولس کاله په يروشلم کښې
بادشاهی وکړه، دا هغه ښار دے چې مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو ټولې علاقې نه خوښ کړے دے چرته چې د هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت کيږی. د رحُبعام مور نعمه د عمون وه. ۲۲ د يهوداه
خلقو د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه او د هغهٔ غصه يې
څکه راوپاروله چې د خپل پلار نيکهٔ نه زياته نافرمانی يې
وکړه. ۲۳ هغوئ د غلطو خُدايانو دپاره علاقائی عبادتخانې
جوړې کړې او د کاڼو ستنې او د اشيرې بُت نښې يې ولګولې
چې په غرونو او د شنو ونو لاندې عبادت وکړی. ۲۴ د دې
هر څهٔ نه بده خبره دا وه چې هلته سړی او ښځې وې چې د
غېرو قومونو د عبادت په ځايونو کښې يې کنجرتوب کولو. د
يهوداه خلقو هغه ټول حرام کارونه وکړل کوم چې هغه خلقو
کول څوک چې مالِک خُدائ په هغه وخت شړلی وُو چې کله
بنی اِسرائيليان په مُلک کښې مخ په وړاندې تلل. ۲۵ د
رحُبعام د بادشاهۍ په پينځم کال د مِصر بادشاه سيساق په
يروشلم حمله وکړه. ۲۶ هغهٔ د مالِک خُدائ د کور او د
محل ټولې خزانې يوړلې سره د سرو زرو هغه ډالونو چې
سليمان جوړ کړی وُو. ۲۷ د دې په ځائ رحُبعام بادشاه د
زيړو ډالونه جوړ کړل او د هغه آفسرانو په حواله يې کړل
کوم چې د محل د دروازو څوکيداران وُو. ۲۸ هر ځل به
چې بادشاه د مالِک خُدائ کور ته تلو، نو څوکيدارانو به
ډالونه وړل او بيا به يې واپس د څوکيدارانو کوټې ته راوړل.
۲۹ نور هر څهٔ چې رحُبعام بادشاه کړی وُو نو هغه د يهوداه
د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۳۰ په دې ټوله
موده کښې رحُبعام او يربعام د يو بل خِلاف په جنګ کښې
وُو. ۳۱ رحُبعام مړ شو او د داؤد د ښار په شاهی اديره
کښې ښخ شو. د هغهٔ مور نعمه وه. او د رحُبعام زوئ ابياه د
هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د یهوداه بادشاه ابیاه

۱۵ ۱ د یربعام د نباط د زوئ د بادشاهۍ په اتلسم کال،
ابیاه د یهوداه بادشاه شو، ۲ او هغهٔ په یروشلم کښې درې
کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور معکه د ابی‌سلوم لور وه. ۳
هغهٔ د خپل پلار په شان هم هغه ګناهونه وکړل او د مالِک
خُدائ د خپل خُدائ پاک وفادار نهٔ وو، لکه څنګه چې د هغهٔ
نیکهٔ داؤد وفادار وو. ۴ خو مالِک خُدائ د هغهٔ خُدائ پاک
د داؤد د خاطره ابیاه له یو زوئ ورکړو چې د هغهٔ نه پس په
یروشلم بادشاهی کوی او د دې حِفاظت کوی. ۵ مالِک
خُدائ داسې څکه وکړل چې داؤد به هغه کار کولو چې مالِک
خُدائ پرې رضا کېدو او ټول عُمر یې د حِتی اورِیاه د مسئلې
نه بغیر د هغهٔ د یو حُکم نافرمانی نهٔ وه کړې. ۶ کوم جنګ
چې د رحُبعام او یربعام په مینځ کښې شروع شوے وو نو
هغه د ابیاه په ټول ژوند کښې جاری وو. ۷ او نور هر څهٔ
چې ابیاه کړی وُو هغه د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې
لیکلے شوی دی. ۸ ابیاه مړ شو او د داؤد په ښار کښې
ښخ شو او د هغهٔ زوئ آسا د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه آسا

۹ د اِسرائیلو د بادشاه د یربعام د بادشاهۍ په شلم کال آسا
د یهوداه بادشاه شو، ۱۰ او هغهٔ یو څلوېښت کاله په یروشلم
کښې بادشاهی وکړه. د هغهٔ نیا معکه وه، چې د ابی‌سلوم لور
وه. ۱۱ آسا د خپل پلار نیکهٔ داؤد په شان هم هغه څهٔ کول
چې مالِک خُدائ ورباندې رضا کېدو. ۱۲ هغهٔ د مُلک د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بُتانو د عبادت د ځايونو نه ټول نران او ښځې کنجرې
وويستلې او هغه ټول بُتان يې لرې کړل چې د هغۀ پلار نيکۀ
جوړ کړی وُو. ۱۳ هغۀ خپله نيا معکه د ”مور مَلِکه“ د عُهدې
نه لرې کړه، ځکه چې هغې د اشيرې يو بې‌حيا بُت جوړ
کړے وو. آسا دا بُت مات کړو او د قِدرون په مېدان کښې
يې وسوزولو. ۱۴ اګر چې آسا علاقائی عبادتخانې نۀ وې تباه
کړې، خو بيا هم ټول عُمر د مالِک خُدائ وفادار وو. ۱۵ د
هغۀ پلار چې کوم څيزونه خُدائ پاک ته وقف کړی وُو نو
هغه ټول يې د مالِک خُدائ په کور کښې کېښودل، د سرو
زرو او سپينو زرو هغه څيزونه يې هم کېښودل چې هغۀ په
خپله وقف کړی وُو. ۱۶ د يهوداه بادشاه آسا او د اِسرائيل
بادشاه بعشا د خپلې بادشاهۍ په دوران کښې همېشه د يو بل
خِلاف په جنګ وُو. ۱۷ بعشا په يهوداه حمله وکړه او د راما
نه يې پاخۀ دېوالونه تاو کړل چې د يهوداه ټول تګ راتګ بند
کړی. ۱۸ نو آسا بادشاه هغه ټول سپين زر او سرۀ زر يوړل
چې د مالِک خُدائ په کور او محل په خزانو کښې پاتې وُو او
دا يې د خپلو آفسرانو په ذريعه د دې پېغام سره دمشق ته د
شام بادشاه بِن‌حدد له ولېږل چې هغه د حزيون نمسے او
طاب‌رمون زوئ وو، ۱۹ ”راځه چې زمونږ د پلار نيکۀ په
شان په خپلو کښې لوظ وکړُو. ګوره، دا سپين زر او سرۀ زر
تحفه درلېږم. نو د اِسرائيل بادشاه بعشا سره خپل اِتحاد مات
کړه، چې هغه زما د علاقې نه خپل فوجيان بهر کړی.“ ۲۰
بِن‌حدد بادشاه د آسا خبرې ته راضی شو او خپل فوجی
آفسران او د هغوئ لښکر يې ولېږلو چې د اِسرائيل په ښارونو
حمله وکړی. هغوئ عيون، دان، ابيل‌بيت‌معکه، د ګليل ډنډ ته
نزدې علاقه او د نفتالی ټوله علاقه قبضه کړه. ۲۱ کله چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بعشا بادشاه د دې نه خبر شو، نو هغۀ د راما دېوالونه پخول
پرېښودل او تِرضاه ته لاړو. ۲۲ بيا آسا بادشاه په ټوله
يهوداه کښې هر چا ته دا حُکم وکړو چې د راما نه هغه کاڼې
او لرګی يوسی چې بعشا د دې پَخو دېوالونو جوړولو دپاره
استعمالول. د دې سامان سره آسا د مصفاه او جبعه ښار
مضبوط کړو چې د بنيامين په علاقه کښې وو. ۲۳ نور هر
څۀ چې آسا بادشاه کړی وُو، د هغۀ د بهادرئ کارنامې او
کوم ښارونه يې چې جوړ کړی وُو، دا هر څۀ د يهوداه د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. خو په بوډاتوب
کښې ورباندې د پښو بيماری راغله. ۲۴ آسا مړ شو او د
داؤد د ښار په شاهی اديره کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ
يهوسفط د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د اِسرائيل بادشاه ندب

۲۵ د يهوداه بادشاه آسا د بادشاهئ په دوېم کال کښې، د
يربعام بادشاه زوئ ندب د اِسرائيل بادشاه شو او دوه کاله
يې بادشاهی وکړه. ۲۶ لکه څنګه چې د هغۀ پلار د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه کړې وه نو هغۀ هم وکړه او اِسرائيليان يې
د ګناه طرف ته بوتلل. ۲۷ د يساکار قبيلې د اخياه زوئ
بعشا د ندب خِلاف منصوبه جوړه کړه او هغه يې ووژلو، په
دې وخت کښې ندب او د هغۀ لښکر د فلستيه په مُلک کښې
د جبتون ښار محاصره کړې وو. ۲۸ د يهوداه بادشاه آسا
د بادشاهئ په درېم کال داسې وشول. او بعشا د ندب نه پس
د اِسرائيل بادشاه شو. ۲۹ څنګه چې هغه بادشاه شو نو هغۀ
د يربعام د خاندان کسان ووژل. هم هغه شان چې څنګه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ د خپل خِدمت کوونکی د سیلا پیغمبر اخیاه په
ذریعه فرمائیلی وُو، د یربعام مکمل خاندان ووژلے شو، یو
کس هم ژوندے پاتې نۀ شو. ۳۰ دا ځکه چې یربعام د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک غصه راوپاروله، دا د هغې
ګناه په وجه چې هغۀ کړې وه او اِسرائیلیان هم د ګناه طرف
ته بوتلی وُو. ۳۱ نور هر څۀ چې ندب کړی وُو نو هغه د
اِسرائیل د بادشاهانو د تاریخ په کِتاب کښې لیکلے شوی دی.
۳۲ د یهوداه بادشاه آسا او د اِسرائیل بادشاه بعشا هر وخت
د یو بل خِلاف په جنګ کښې وُو.

### د اِسرائیل بادشاه بعشا

۳۳ د یهوداه بادشاه آسا د بادشاهۍ په دریم کال د اخیاه
زوئ بعشا د ټول اِسرائیل بادشاه شو او څلیریشت کاله یې په
تِرضاه کښې بادشاهی وکړه. ۳۴ لکه څنګه چې مخکښې
یربعام بادشاه ګناه کړې وه نو هغۀ هم د مالِک خُدائ خِلاف
ګناه وکړه او اِسرائیلیان یې د ګناه طرف ته بوتلل.

۱۶ ۱ بیا د مالِک خُدائ کلام د حنانی په زوئ یاهُو
پیغمبر نازل شو او د بعشا دپاره یې دا پیغام ورکړو، ۲ ”ما
د خاورو نه اوچت کړې او د اِسرائیلیانو مشر مې جوړ کړې.
خو د یربعام په شان تا هم ګناه کړې ده او زما خلق دې د
ګناه طرف ته بوتلی دی. د هغوئ ګناهونو زما غصه راپاروِلې
ده، ۳ نو زۀ به تا او ستا خاندان تباه کړم، لکه څنګه چې
ما یربعام او د هغۀ خاندان تباه کړے وو. ۴ ستا د خاندان
هر یو کس چې په ښار کښې مړ شی نو سپی به یې وخوری او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک هم چې په مېدان کښې مړۀ شی نو مارغان به يې
وخوری.“ ۵ بعشا چې نور هر څۀ هم کړی دی سره د هغۀ
د بهادرۍ ټولو کارنامو هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ
کښې ليکلے شوی دی. ۶ بعشا مړ شو او په تِرضاه کښې
ښخ شو او د هغۀ زوئ ايله د هغۀ نه پس بادشاه شو. ۷ د
مالِک خُدائ پېغام د بعشا او د هغۀ خاندان خِلاف د ياهُو
پېغمبر په ذريعه ورکړے شوے وو ځکه چې بعشا د مالِک
خُدائ په نظر کښې ګناهونه کړی وُو. هغۀ د خپلو بدو عملونو
په وجه د مالِک خُدائ غصه راوپاروله، ځکه چې هغۀ د
يربعام مکمل خاندان وژلے وو، نو هغه د يربعام په شان
ظالم شو.

## د اِسرائيل بادشاه ايله

۸ د يهوداه بادشاه آسا د بادشاهۍ په شپږويشتم کال، د
بعشا زوئ ايله د اِسرائيل بادشاه شو او دوه کاله يې په
تِرضاه باندې بادشاهی وکړه. ۹ د هغۀ يو آفسر زِمری چې
د بادشاه د نيمو جنګی ګاډو مشر وو، د بادشاه خِلاف
منصوبه جوړه کړه. او ايله يوه ورځ په تِرضاه کښې د محل
مشر ارضه په کور کښې د ميو په نشه کښې وو. ۱۰ زِمری
کور ته ورننوتلو، ايله يې ووژلو او د هغۀ په تخت کښېناستو.
د يهوداه بادشاه آسا د بادشاهۍ په اوويشتم کال داسې
وشول. ۱۱ څنګه چې زمرے د هغۀ په تخت کښېناستو، نو
هغۀ د بعشا د خاندان ټول کسان ووژل. د هغۀ ټول نران
رشته‌دار او نران دوستان يې ووژل. ۱۲ نو چې څنګه مالِک
خُدائ د ياهُو پېغمبر په ذريعه د بعشا خِلاف فرمائيلی وُو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زِمری د بعشا مکمل خاندان ووژلو. ۱۳ د خپلې ګناه او د
بنی اِسرائیلو د ګناه طرف ته بوتلو په وجه، بعشا او د هغهٔ
زوئ ایله د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک غصه
راوپاروله. ۱۴ ایله چې نور هر څهٔ هم کړی وُو نو هغه د
اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی.

## د اِسرائیل بادشاه زِمری

۱۵ د یهوداه بادشاه آسا د بادشاهۍ په اوویشتم کال، زِمری
په تِرضاه کښې اووهٔ ورځې په اِسرائیل بادشاهی وکړه. د
اِسرائیل فوجیانو په فلستیه کښې د جبتون ښار محاصره
کړے وه، ۱۶ او کله چې هغوئ خبر شو چې زِمری د
بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړې ده او بادشاه یې وژلے
دے، نو هلته هغوئ ټولو دا اِعلان وکړو چې د هغوئ فوجی
مشر عُمری د اِسرائیل بادشاه دے. ۱۷ عُمرے او د هغهٔ
فوجیان د جبتون نه لاړل او تِرضاه یې محاصره کړو. ۱۸
کله چې زِمری ولیدل چې ښار قبضه شوے دے، نو هغه د
محل دننۍ قلعې ته لاړو، په محل یې اور بل کړو او هغه د اور
په لمبو کښې مړ شو. ۱۹ د مالِک خُدائ خِلاف د هغهٔ د
ګناهونو په وجه داسې وشول، لکه څنګه چې د هغهٔ نه
مخکښېنی یربعام د خپلې ګناه په وجه مالِک خُدائ نارضا
کړے وو او اِسرائیلیان یې د ګناه طرف ته بوتلی وُو. ۲۰
زِمری چې نور څهٔ هم کړی وُو، سره د هغهٔ د بغاوت د
منصوبې جوړولو، دا د اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې
لیکلے شوی دی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِسرائيل بادشاه عُمری

٢١ نو د دې نه پس اِسرائيليان په دوو ډلو کښې تقسيم شول،
نيمو کسانو وئيل چې د جينت زوئ تِبنى بادشاه جوړوُو او
نيم د عُمری په حق کښې وُو. ٢٢ خو د عُمری قبيلې وګټله
او د جينت زوئ تِبنى په ډله باندې بريالى شول. تِبنى ووژلے
شو او عُمری بادشاه شو. ٢٣ نو د يهوداه د آسا بادشاه د
بادشاهۍ په يو دېرشم کال، عُمری د اِسرائيل بادشاه شو او
دولس کاله يې بادشاهى وکړه، وړومبے شپږ کاله هغۀ په
تِرضاه کښې بادشاهى وکړه، ٢٤ او بيا هغۀ د سپينو زرو په
شپږ زره سيکو باندې د سامريه غر د يو سړی نه واخستلو
چې نوم يې سمر وو. عُمری د غرۀ نه پاخۀ دېوالونه تاو کړل،
هلته يې يو ښار جوړ کړو او سامريه نوم يې پرې کېښودو،
سمر د دې غر مخکښينے مالِک وو. ٢٥ عُمری د مالِک
خُدائ په نظر کښې بد کارونه کول او د مالِک خُدائ خِلاف
يې د مخکښينو بادشاهانو نه زياته ګناه وکړه. ٢٦ د يربعام
په شان، هغۀ هم د مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک
غصه راوپاروله، دا د هغۀ د خپلې ګناه او د هغه ګناه په وجه
وُو چې بنى اِسرائيليان يې د بُت پرستۍ طرف ته بوتلى وُو.
٢٧ نور هر څۀ چې عُمری کړی وُو او د هغۀ ټولې کاميابۍ د
اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ٢٨
عُمری مړ شو او په سامريه کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ
اخى‌اب د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د اِسرائيل بادشاه اخى‌اب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ د یهوداه بادشاه آسا د بادشاهۍ په اتهٔ دیرشم کال، د
عُمری زوئ اخی‌اب د اِسرائیل بادشاه شو، هغهٔ په سامریه
کښې دوویشت کاله بادشاهی وکړه. ۳۰ هغهٔ د مخکښېنو
بادشاهانو د هر یو نه زیات د مالِک خُدائ خِلاف گناه وکړه.
۳۱ هغهٔ نهٔ صرف د یربعام بادشاه گناهونه معمولی گڼل
بلکې هغهٔ د صیدانی بادشاه اِتبعل لور ایزبل هم وادهٔ کړه او د
بعل عبادت یې وکړو. ۳۲ هغهٔ په سامریه کښې د بعل دپاره
یوه عبادتخانه او یوه قربانگاه جوړه کړه او هغه یې په کښې
کېښودو. ۳۳ هغهٔ د اشیرې بُت ولګولو. د اِسرائیل د ټولو
مخکښېنو بادشاهانو نه یې زیات د مالِک خُدائ د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک غصه راوپاروله. ۳۴ د هغهٔ د بادشاهۍ
په دوران کښې د بیت‌ایل، حی‌ایل د یریحو ښار بیا جوړ کړو.
کله چې حی‌ایل د یریحو بنیاد کېښودو نو د هغهٔ مشر زوئ
ابیرام مړ شو او چې کله یې دروازې جوړې کړې نو د هغهٔ
کشر زوئ سجوب مړ شو، هم هغه شان لکه چې مالِک
خُدائ د نون زوئ یشوَع په ذریعه د دې پېشګوئي کړې وه.

## د حضرت الیاس د اوچ کالۍ پېشګوئي ورکول

۱۷ ۱ په جلِعاد کښې د تِشبی یو پېغمبر وو چې نوم یې
الیاس وو. هغهٔ اخی‌اب بادشاه ته وفرمائیل، ”زهٔ د ژوندی
مالِک خُدائ یعنې د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک خِدمت
کوونکے یم، او زهٔ د هغهٔ په نوم قسم خورم چې ترڅو زهٔ ونهٔ
وایم نو په راتلونکو کالونو کښې به باران نهٔ کیږی. او پرخه
قدرې به هم ونهٔ شی.“ ۲ بیا د مالِک خُدائ کلام په الیاس
نازل شو، ۳ ”د دې ځائ نه نمرخاتهٔ طرف ته لاړ شه او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اُردن سيند نمرخاتهٔ طرف ته د کريت ولې سره نزدې پټ
شه. ۴ تهٔ د ولې نه اوبهٔ څښه او ما کارغانو له حُکم
ورکړے دے چې هلته تا له خوراک راوړى." ۵ الياس د
مالِک خُدائ فرمانبردارى وکړه او د کريت ولې سره نزدې د
اوسېدو دپاره لاړو. ۶ کارغانو به هغهٔ له سحر او ماښام
روټۍ او غوښه راوړه او هغهٔ د ولې نه اوبهٔ څښلې. ۷ څو
څهٔ موده وروستو، په مُلک کښې د اوچ کالۍ په وجه هغه وَله
اوچه شوه.

## د صارفت د کونډې قيصه

۸ بيا د مالِک خُدائ کلام په الياس نازل شو چې، ۹
"اوس د صيدا سره نزدې د صارفت ښار ته لاړ شه او هلته
دېره شه. ما هلته يوې کونډې ته وئيلى دى چې تا له خوراک
درکوى." ۱۰ نو الياس صارفت ته لاړو او چې څنګه هغه د
ښار دروازې ته ورسېدو نو هغهٔ يوه کونډه وليده چې د اور
خشاک يې راغونډولو. نو هغه يې راوغوښته او ورته يې
وفرمائيل، "ما له په جام کښې لږې اوبهٔ راوړه چې وې
څښم." ۱۱ څنګه چې هغه اوبو راوړلو له روانه شوه، نو هغهٔ
آواز ورکړو، "ما له لږه روټۍ هم راوړه؟" ۱۲ کونډې ورته
ووئيل، "زهٔ د ژوندى مالِک خُدائ ستا د خُدائ پاک په نوم
قسم خورم چې هيڅ مې نهٔ دى پاخهٔ کړى. ما سره په منګى
کښې صِرف يو موټے اوړهٔ او په لوښى کښې يو څاڅکے
قدرې د زيتُونو تيل دى. زهٔ دلته لږ شان خشاک راټولولو له
راغلې يم چې ځان سره يې کور ته يوسم او خپل زوئ او
ځان له لږ خوراک تيار کړم. او د دې خوراک نه پس به مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د لوږې نه مړهٔ شُو.“ ۱۳ الياس ورته وفرمائيل، ”مهٔ يرېږه.
کور ته لاړه شه او چې څهٔ دې ووئيل نو هم هغه شان وکړه.
خو اول، چې تا سره څهٔ دی د هغې نه يوه وړه روټئ پخه کړه
او ما له يې لږه راوړه او بيا د خپل زوئ او ځان دپاره څهٔ
تيار کړه. ۱۴ ځکه چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک داسې فرمائی چې تر هغې به ستا په منګی کښې اوړهٔ او
په لوښی کښې تېل ختم نهٔ شی ترڅو چې ما مالِک خُدائ په
زمکه باران نهٔ وی ورولے.“ ۱۵ هغه کونډه کور ته لاړه او
هم هغه شان يې وکړل چې څهٔ ورته الياس فرمائيلی وُو. او د
هغوئ دريو واړو دپاره د ډېر وخت خوراک موجود وو. ۱۶
مالِک خُدائ هغه وعده پوره کړه چې کومه يې د الياس
پېغمبر په ذريعه کړې وه او په منګی کښې نهٔ اوړهٔ او نهٔ په
لوښی کښې تېل ختم شول. ۱۷ څهٔ موده وروستو، د هغه
کونډې ښځې زوئ بيمار شو او ورځ په ورځ هغه نور هم
خرابيدو او په آخر کښې يې ساه ورکړه. ۱۸ هغه ښځې
الياس ته ووئيل، ”د خُدائ پاک پېغمبره دا تا ما سره څهٔ
کړی دی؟ تهٔ دلته د دې دپاره راغلے يې چې خُدائ پاک ته
زما ګناهونه رایاد کړې او زما د زوئ د مرګ سبب
وګرځې؟“ ۱۹ الياس ورته وفرمائيل، ”ما له ستا زوئ
راکړه.“ بيا هغهٔ هلک د هغې د غېږې نه واخستلو او بره يې
هغه کوټې ته وخېژولو چرته چې اوسېدو. الياس هغه هلک په
خپل کټ کښې واچولو ۲۰ او مالِک خُدائ ته يې سوال
وکړو، ”اے مالِکه، زما خُدايه پاکه، تا د دې کونډې سره
دومره بد ولې وکړل؟ هغه زما سره دومره ښهٔ ده چې زما
خيال ساتی او اوس تهٔ د هغې زوئ وژنې.“ ۲۱ بيا الياس
درې ځل هغه هلک راغاړه ويستلو او مالِک خُدائ ته يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوال وکړو، "اے مالِکه، زما خُدايه پاکه، دا ماشوم دې بيا
راژوندے شی." ۲۲ مالِک خُدائ د الياس سوال واورېدو او
هلک بيا ساه اخستل شروع کړل او ژوندے شو. ۲۳ الياس
هغه هلک واپس لاندې د هغۀ مور له راوستو او هغې ته يې
وفرمائيل، "وګوره، ستا زوئ ژوندے دے." ۲۴ هغه ښځې
ورته ووئيل، "اوس ما ته پته ولګېده چې تۀ د خُدائ پاک
پېغمبر يې او ستا د خولې په ذريعه د مالِک خُدائ کلام رښتيا
دے."

## حضرت الياس او د بعل پېغمبران

۱۸ ۱ نو څۀ موده وروستو، د اوچ کالۍ په درېم کال، د
مالِک خُدائ کلام په الياس نازل شو چې، "لاړ شه او د
اخىاب بادشاه په مخکښې حاضر شه، نو زۀ به په زمکه
باران راولېږم." ۲ نو الياس روان شو. په سامريه کښې
قحط ډېر زيات سخت وو، ۳ نو اخىاب بادشاه عبدياه
راوغوښتو چې هغه يې د محل مشر وو. او عبدياه د مالِک
خُدائ ښۀ تابعدار وو، ۴ او کله چې ايزبل د مالِک خُدائ
پېغمبران وژل، نو عبدياه ترې نه سل پېغمبران بوتلل او د
پنځوسو پنځوسو په دوو ډلو کښې يې په غارونو کښې پټ
کړل او د هغوئ دپاره يې د خوراک او د اوبو بندوبست
وکړو. ۵ اخىاب عبدياه ته ووئيل، "راځه چې په ټول مُلک
کښې وګرځو او چينې او وادۍ وګورو، کېدے شی چې څۀ
واښۀ پېدا شی او قچرې او آسونه پرې ژوندی وساتلے شُو نو
زمونږ ټول څناور به نۀ مرۀ کيږی. ۶ نو زۀ به دېخوا لاړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شم او ته اخوا لاړ شه.“ او هغوئ دواړه په بېلو بېلو طرفونو
روان شول. ٧ کله چې عبدياه په لاره روان وو، نو ناڅاپه
هغه د الياس سره مِلاو شو. هغه يې وپېژندو، د هغهٔ په
مخکښې ټيټ شو او تپوس يې ترې نه وکړو، ”زما نيکه
الياسه. دا په رښتيا ته يې؟“ ٨ هغهٔ ورته وفرمائيل، ”آو، زهٔ
يم، لاړ شه او خپل نيک يعنې بادشاه ته ووايه چې الياس دلته
دے.“ ٩ عبدياه ورته ووئيل، ”ما څهٔ بد کړى دى چې ته
مې اخى‌اب بادشاه ته حواله کوې چې هغه مې ووژنى؟ ١٠
زهٔ د ژوندى مالِک خُدائ، ستا د خُدائ پاک په نوم قسم
خورم چې بادشاه په تا پسې د دُنيا ټول مُلکونه لټولى دى. کله
هم چې د يو مُلک بادشاه ووئيل چې الياس زما په مُلک کښې
نشته، نو اخى‌اب به هغه بادشاه ته وئيل چې قسم وخورى
چې الياس دلته نشته دے. ١١ او اوس ته ما ته وائې چې لاړ
شم او خپل نيک ته ووايم چې الياس دلته دے؟ ١٢ خو چې
څنګه زهٔ لاړ شم نو د مالِک خُدائ روح به تا يو نامعلوم ځائ
ته يوسى. بيا چې زهٔ اخى‌اب ته ووايم چې ته دلته يې او هغه تا
پېدا نهٔ کړى، نو هغه به ما ووژنى، باوجود د دې چې زهٔ د
هلکوالى راسې د مالِک خُدائ خِدمت کوونکے يم. ١٣ زما
نيکه، تا ته پته نشته څهٔ چې کله ايزبل د مالِک خُدائ
پېغمبران وژل نو ما د هغوئ سل پېغمبران په دوو غارونو
کښې پنځوس پنځوس پټ کړل او د خوراک او د اوبو
بندوبست مې ورله وکړو؟ ١٤ نو ته ما له څنګه حُکم راکوې
چې لاړ شم او بادشاه ته ووايم چې ته دلته يې؟ هغه به ما
ووژنى.“ ١٥ الياس ورته وفرمائيل، ”زهٔ د ژوندى ربُ الافواج
په نوم لوظ کوم د کوم چې زهٔ خِدمت کوم چې زهٔ به خپل
ځان نن بادشاه ته پېش کړم.“ ١٦ نو عبدياه اخى‌اب بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له لاړو او ورته يې ووئيل چې الياس راغلے دے. نو اخی‌اب
د الياس سره مِلاوېدو له روان شو. ١٧ کله چې اخی‌اب هغه
وليدو، نو اخی‌اب ورته ووئيل، ”د اِسرائيل د مُلک شريره، دا
په رښتيا تهٔ يې.“ ١٨ الياس ورته وفرمائيل، ”زهٔ شرير نهٔ يم،
بلکې تهٔ او ستا د پلار خاندان شرير دے. تهٔ د مالِک خُدائ د
حُکمونو نافرمانی کوې او د بعل د بُتانو عبادت کوې. ١٩
اوس ټول اِسرائيل له حُکم ورکړه چې د کرمل په غر ما سره
مِلاو شی. هغه څلور نيم سوه د بعل پېغمبران او څلور سوه د
اشيرې بُت پېغمبران هم ورسره راوله چا چې د مَلِکه ايزبل نه
خوراکونه کول.“ ٢٠ نو اخی‌اب ټول اِسرائيليان او د بعل
پېغمبران راغونډ کړل چې د کرمل په غر مِلاو شی. ٢١
الياس د خلقو په مخکښې ودرېدو او ورته يې وفرمائيل،
”ترڅو پورې به تاسو په دوو عقيدو کښې ګډ وډ يئ؟ کهٔ مالِک
خُدائ، خُدائ پاک وی، نو هغهٔ پسې روان شئ، خو کهٔ بعل
خُدائ وی، نو هغهٔ پسې روان شئ.“ خو خلقو هيڅ هم ونهٔ
وئيل. ٢٢ بيا الياس وفرمائيل، ”د مالِک خُدائ په پېغمبرانو
کښې صرف زهٔ پاتې يم، خو د بعل پېغمبران څلور نيم سوه
سړی دی. ٢٣ دوه غويان راولئ، وړومبے دې د بعل
پېغمبران خوښ کړی، حلال دې کړی، ټوټې دې کړی او
په لرګو باندې دې کېږدی، خو اور دې نهٔ بلوی. او زهٔ به د
هغه بل غويی سره هم دغه شان وکړم. ٢٤ نو تاسو خپل
خُدائ ته سوال وکړئ او زهٔ به مالِک خُدائ ته سوال وکړم
او چې په جواب کښې کوم يو خُدائ اور راولېږی، نو هغه
رښتونے خُدائ پاک دے.“ خلقو چغې کړې چې، ”تهٔ ټيک
وائې.“ ٢٥ بيا الياس د بعل پېغمبرانو ته وفرمائيل، ”تاسو ډېر
يئ نو څکه، اول تاسو يو غويے بوځئ او تيار يې کړئ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل خُدائ ته سوال وکړئ، خو په لرګو اور مهٔ بلوئ." ۲۶
چې کوم غوَیے ورله راوستلے شوے وو نو هغوئ هغه
بوتلو، تیار یې کړو او د سحر نه تر غرمې پورې یې بعل ته
سوال کولو. هغوئ چغې وهلې، "بعله، مونږ ته څهٔ ووایه."
خو هیڅ جواب نهٔ راتلو. او چې کومه قربانګاه یې جوړه
کړې وه د هغې نه ګېرچاپېره ګډېدل. ۲۷ د غرمې په وخت
الیاس وریورې ټوقې شروع کړې، "ښهٔ په زوره چغې وهئ،
ځکه چې هغه خُدائ دے. کیدے شی چې هغه د ورځې
خوبونه وینی، یا په متیازو ناست وی، یا په سفر تلے وی. یا
اودهٔ وی، راویښ یې کړئ." ۲۸ نو پیغمبرانو چغې نورې هم
تېزې کړې او د خپل رسم په مطابق یې په چاکوانو او په نېزو
خپل ځانونه دومره غوځ کړل، چې په وینه لت پت شول. ۲۹
هغوئ ټول مازیګر تر ماښامه پورې چغې وهلې او ګډې وډې
یې وئیلې، خو څهٔ جواب رانهٔ غلو او هیڅ آواز وانهٔ وریدلے
شو. ۳۰ بیا الیاس خلقو ته وفرمائیل، "ما له نزدې راشئ."
او هغوئ ټول ترې نه راغونډ شول. الیاس د مالِک خُدائ د
قربانګاه مرمت کول شروع کړل کومه چې راغورزولے
شوې وه. ۳۱ هغهٔ د یعقوب د دولسو زامنو د قبیلو دپاره یو
یو کاڼے واخستلو. یعقوب هغه څوک وو چې مالِک خُدائ د
اِسرائیل نوم ورکړے وو. ۳۲ د دې کاڼو سره هغهٔ د مالِک
خُدائ د عبادت دپاره قربانګاه جوړه کړه. هغهٔ د دې نه
ګېرچاپېره یوه کنده وکنستله، دومره لویه چې تقریباً
څوارلس لیټره اوبهٔ په کښې راتلې. ۳۳ بیا هغهٔ لرګی په
قربانګاه باندې کېښودل، غوَیے یې ټوټې ټوټې کړو او په
لرګو یې کېښودو. هغهٔ وفرمائیل، "دا څلور منګی د اوبو نه
ډک کړئ او په نذرانه او لرګو باندې یې واچوئ." نو هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم داسې وکړل، ۳۴ او هغهٔ وفرمائيل، "دا بيا وکړئ،" نو
هغوئ بيا داسې وکړل. هغهٔ بيا وفرمائيل چې داسې يو ځل بيا
وکړئ، نو هغوئ په دريم ځل هم داسې وکړل. ۳۵ اوبهٔ د
قربانګاه نه لاندې ګېرچاپېره وبهېدې او هغه کنده يې ډکه
کړه. ۳۶ د مازيګر نذرانې په وخت کښې الياس پېغمبر
قربانګاه ته نزدې شو او سوال يې وکړو، "اے مالِکه خُدايه،
د اِبراهيم، اِسحاق او د يعقوب خُدايه پاکه، نن دا ثابِته کړه
چې تهٔ د اِسرائيل خُدائ پاک يې او زهٔ ستا خِدمت کوونکے
يم او دا هر څهٔ ما ستا په حُکم کړی دی. ۳۷ مالِکه خُدايه،
زما سوال واوره، زما سوال واوره، نو چې دې خلقو ته پته
ولګی چې تهٔ، مالِک خُدائ، خُدائ پاک يې او تهٔ د هغوئ
زړونه ځان ته بيا را اړوې." ۳۸ نو مالِک خُدائ اور نازل
کړو او دې اور نذرانه، لرګی او کاڼی وسوزول، زمکه يې
اوچه کړه او په هغه کنده کښې يې اوبهٔ اوچې کړې. ۳۹ کله
چې خلقو دا وليدل، نو هغوئ پړمخې په زمکې پرېوتل او وې
وئيل، "مالِک خُدائ، خُدائ پاک دے، صِرف مالِک خُدائ،
خُدائ پاک دے." ۴۰ الياس حُکم وکړو، "د بعل پېغمبران
ونيسئ، چې يو هم درنه ونهٔ تښتی." خلقو هغه ټول ونيول او
الياس هغوئ لاندې قيسون سيند ته بوتلل او وې وژل.

## د اوچ کالۍ ختمېدل

۴۱ بيا الياس اخی‌اب بادشاه ته وفرمائيل، "اوس لاړ شه او
خوراک څښاک وکړه. زهٔ د يو دروند باران شور اورم چې
راروان دے." ۴۲ کله چې اخی‌اب د خوراک او څښاک
دپاره لاړو، نو الياس د کرمل غرهٔ سر ته وختلو، هلته هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیتېږ شو او سر يې په زمکه ولګولو. ۴۳ هغهٔ خپل نوکر ته
وفرمائيل، ”لاړ شه او د سمندر طرف ته وګوره.“ نوکر لاړو
او بيا راغلو او وې وئيل، ”ما خو هيڅ هم ونهٔ ليدل.“ الياس
اووهٔ ځل هغهٔ ته وفرمائيل چې لاړ شه او وګوره. ۴۴ په اوؤم
ځل هغه راواپس شو او وې وئيل، ”ما يوه وړه وريځ وليده
چې د سړی د لاس برابره وه او د سمندر نه راروانه وه.“
الياس خپل نوکر له حُکم ورکړو، چې، ”اخي‌اب بادشاه له لاړ
شه او هغهٔ تهووايه چې جنګی ګاډی تياره کړی، په کښې
سور شی او کور ته زر راواپس شی ګنې باران به يې رايسار
کړی.“ ۴۵ په لږ وخت کښې آسمان په تکه توره وريځ باندې
پټ شو، هوا راغله او ورسره دروند باران هم شروع شو.
اخي‌اب په خپله جنګی ګاډی کښې سور شو او يزرعيل ته
واپس روان شو. ۴۶ د مالِک خُدائ طاقت په الياس باندې
راغلو، هغهٔ خپله چُوغه په ملا پورې وتړله او تر يزرعيل پورې
يې د اخي‌اب نه وړاندې منډې وهلې.

## حضرت الياس د سينا په غرهٔ باندې

۱۹ ۱ الياس چې څهٔ کړی وُو او چې ټول پېغمبران يې
وژلی وُو نو اخي‌اب بادشاه خپلې ښځې ايزبل ته هغه هر څهٔ
ووئيل. ۲ نو هغې الياس له پېغام ورولېږلو، ”خپل خُدايان
دې ما ووژنی چې سبا په دې وخت زهٔ تا سره هغه کار ونهٔ
کړم کوم چې تا د هغه پېغمبرانو سره کړے دے.“ ۳
الياس ويرېدو او د خپل ژوند بچ کولو دپاره وتښتېدو، هغهٔ
خپل نوکر ځان سره بوتلو او په يهوداه کښې بيرسبع ته لاړو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپل نوکر يې هلته پرېښودو. ۴ الياس په بيابان کښې
ټوله ورځ مزل وکړو. هغۀ مزل بس کړو او د جارُو د ونې د
سورى لاندې کښېناستو او هغۀ غوښتل چې مړ شى. هغۀ
ووئيل، "مالِکه خُدايه، بس دے، ما ووژنه، زۀ د خپل پلار
نيکۀ نه ښۀ نۀ يم." ۵ هغه د جارُو د ونې لاندې څملاستو او
اودۀ شو. ناڅاپه يوې فرښتې هغۀ له لاس وروړو او ورته يې
وفرمائيل، "پاڅه او وخوره." ۶ هغۀ ګېرچاپېره وکتل او
يوه روټۍ يې وليده چې په ګرمو سکارو باندې پخه شوې وه
او خپل سر سره نزدې يې د اوبو يو منګے وليدو. هغۀ
خوراک څښاک وکړو او بيا څملاستو. ۷ د مالِک خُدائ
فرښته بيا راغله او په دويم ځل يې هغه پاڅولو، ورته يې
وفرمائيل، "پاڅه او وخوره، ګنې ستا دپاره به سفر ډېر ګران
وى." ۸ الياس پاڅېدو، خوراک څښاک يې وکړو او دې
خوراک هغۀ له دومره طاقت ورکړو چې سينا ته څلوېښت
ورځې مزل وکړى، کوم چې د خُدائ پاک غر دے. ۹ هلته
هغه يو غار ته ورننوتلو او شپه يې په کښې تېره کړه. او د
مالِک خُدائ کلام پرې نازل شو چې، "الياسه، تۀ دلته څۀ
کوې؟" ۱۰ هغۀ ورته وفرمائيل، "مالِکه خُدايه، ما په شوق
سره ستا خِدمت کړے دے، ما صِرف ستا خدمت کړے
دے، اے مالِک خُدايه ربُ الافواجه. خو اِسرائيليانو تا سره
خپل لوظ مات کړے دے، ستا قربانګاه يې ماتې کړې دى
او ستا پيغمبران يې وژلى دى. صِرف زۀ پاتې يم او هغوئ
زما په ژوند پسې لګېدلى دى." ۱۱ مالِک خُدائ هغۀ ته
وفرمائيل، "بهر لاړ شه او د غرۀ په سر باندې زما په وړاندې
ودرېږه." بيا مالِک خُدائ تېر شو او يوه زبردسته هوا يې
راولېږله چې هغې غرونه وشلول او کاڼى يې دړې وړې کړل،
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو مالِک خُدائ په هوا کښې نۀ وو. هوا بنده شوه او بيا
زلزله راغله، خو مالِک خُدائ په زلزله کښې هم نۀ وو. ١٢ د
زلزلې نه پس اور راغلو، خو مالِک خُدائ په اور کښې هم نۀ
وو. او د اور نه پس، يو نرمے آواز راغلو. ١٣ کله چې الياس
آواز واوريدو، نو هغۀ خپل مخ په چُوغه کښې پټ کړو، بهر
لاړو او د غار په خولۀ کښې ودريدو. او هغۀ ته يو آواز وشو
چې، ”الياسه، تۀ دلته څۀ کوې؟“ ١٤ هغه ورته وفرمائيل،
”مالِکه خُدايه، ربُ الافواجه، ما په تا باندې غيرت کړے دے.
خو اِسرائيليانو تا سره خپل لوظ مات کړے دے، ستا
قربانګاه يې ماتې کړې دی او ستا پېغمبران يې وژلی دی.
صِرف زۀ پاتې يم او هغوئ زما د وژلو کوشش هم کوی.“
١٥ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”دمشق ته نزدې بيابان ته واپس
شه، بيا ښار ته ورننوځه او حِزائيل د شام بادشاه مقرر کړه،
١٦ د نِمسی زوئ ياهُو د اِسرائيل بادشاه مقرر کړه او
ابيل‌محوله د سافط زوئ اليشع ستا نه پس پېغمبر مقرر کړه.
١٧ هر څوک چې د حِزائيل نه ژوندے خلاص شی نو د
ياهُو په ذريعه به ووژلے شی او هر څوک چې د ياهُو نه
وتښتی نو اليشع به هغه ووژنی. ١٨ خو زۀ به بيا هم په
اِسرائيل کښې اووۀ زره کسان ژوندی پرېږدم، هغه ټول چې
زما وفادار وی او بعل ته يې سجده نۀ وی کړې او هغه ټول
چې د هغوئ خُلو هغه بُت ښکل کړے نۀ وی.“

## اليشع ته بلنه

١٩ الياس لاړو او وې ليدل چې اليشع د غوَيو په يوه قلبه
باندې يوه کوله، د هغۀ نه مخکښې يوولس سرې د قلبو سره
وُو او هر يو سرې په يوه قلبه باندې يوه کوله. نو الياس خپله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېغمبرۍ چُوغه وويستله او اليشع ته يې ورواغوستله. ۲۰ نو
اليشع خپل غويَان پرېښودل، په الياس پسې يې منډه کړه او
ورته يې وفرمائيل، ”زۀ به خپل مور پلار په مخه ښه وئيلو
دپاره ښُکل کړم، نو بيا به تا سره لاړ شم.“ الياس ورته
وفرمائيل، ”ټيک ده، لاړ شه. خو چې ما ستا دپاره څۀ کړى
دى نو هغه مۀ هېروه.“ ۲۱ بيا اليشع د خپلې قلبې غويَيو له
لاړو او حلال يې کړل او د دې غوښه يې پخه کړه، د جغ نه
يې د خشاک کار واخستو. هغۀ غوښه خلقو له ورکړه او
هغوئ وخوړله. بيا هغه الياس پسې د هغۀ د نوکر په شان
لاړو.

## شام سره جنګ

۲۰ ۱ د شام بادشاه بِن‌حدد خپل ټول فوج راغونډ کړو
او دوه دېرش نورو بادشاهانو يې د خپلو آسونو او جنګى
ګاډو سره ملګرتيا کوله، هغه روان شو، سامريه يې محاصره
کړه او په دې باندې يې د حملې تيارے وکړو. ۲ هغۀ ښار
ته پيغام وړُونکى ولېږل چې د اِسرائيل بادشاه اخى‌اب ته
ووائى، ۳ ”بِن‌حدد بادشاه غواړى چې تۀ هغۀ ته خپل سپين
زر او سرۀ زر حواله کړې او خپلې ښې ښځې او بچى هم
ورکړې.“ ۴ اخى‌اب ورته ووئيل، ”بِن‌حدد ته ووايئ چې،
بادشاه سلامت، زۀ تيار يم، زۀ او زما هر څۀ ستا شول.“ ۵
وروستو پيغام وړُونکى د بِن‌حدد د دې بلې مطالبې سره بيا
راغلل، ”ما تا له خبر درلېږلے وو چې تۀ به ما ته خپل سپين
زر او سرۀ زر او خپلې ښځې او بچى حواله کوې. ۶ خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس به زۀ خپل آفسران درولېږم چې ستا محل او ستا د
آفسرانو کورونه ولټوی او چې د هغوئ څۀ هم خوښ شی نو
هغه به ترېنه را اوچت کړی. هغوئ به سبا تقريباً دا وخت
هلته وی.“ ۷ اخي‌اب بادشاه د مُلک ټول مشران راغوښتل
او ورته يې ووئيل، ”تاسو ته پته ده چې دا سړے مونږ تباه
کول غواړی. هغۀ ما له يو پېغام راولېږلو چې زما نه يې زما
ښځې، بچی، سپين زر او سرۀ زر غوښتل او ما دا خبره
ومنله.“ ۸ خو مشرانو او خلقو ورته ووئيل، ”هغه چې څۀ
وائی نو هغه کار مۀ کوه.“ ۹ نو اخي‌اب د بِن‌حدد پېغام
وړونکو ته ووئيل، ”بادشاه سلامت ته ووايئ چې ما د هغۀ
وړومبۍ مطالبه ومنله، خو دا دويمه نۀ شم منلے.“ نو پېغام
وړُونکی بِن‌حدد له د دې جواب سره واپس راغلل. ۱۰ نو د
بِن‌حدد نه يې دا پېغام راوړو، ”ما دې خُدايان ووهی او مړ مې
دې کړی کۀ د سامريه دومره خاوره هم پاتې شی چې زما
فوجيان يې په موټی کښې راواخلی.“ ۱۱ اخي‌اب بادشاه
ورته ووئيل، ”بِن‌حدد بادشاه ته ووايئ چې تکړه فوجی د
جنګ نه مخکښې نۀ بلکې وروستو لافې وهی.“ ۱۲ بِن‌حدد ته
د اخي‌اب جواب په هغه وخت کښې مِلاو شو چې هغۀ او
نورو بادشاهانو په خپلو خېمو کښې مے څښل. هغۀ خپلو
سړو له حُکم ورکړو چې په ښار باندې د حملې دپاره تيار
شئ، نو هغوئ د جنګ دپاره صفونه جوړ کړل. ۱۳ نو يو
پېغمبر اخي‌اب بادشاه له ورَغلو او ورته يې وفرمائيل، ”مالِک
خُدائ فرمائی چې تۀ دا لوئ لښکر وينې؟ هم نن به زۀ تا له په
دې باندې فتح درکړم او تا ته به پته ولګی چې زۀ مالِک
خُدائ يم.“ ۱۴ اخي‌اب ترې نه تپوس وکړو، ”د حملې
مشری به څوک کوی؟“ پېغمبر ورته وفرمائيل، ”مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائی چې د ضِلعو د حکمرانانو د مشرۍ لاندې به ځوانان
فوجیان حمله وکړی.“ بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”جنګ به
څوک شروع کړی؟“ پېغمبر ورته وفرمائیل، ”تهٔ به یې شروع
کړې.“ ۱۵ نو بادشاه زلمی فوجیان راوغوښتل چې هغوئ د
ضِلعو د حکمرانانو د مشرۍ لاندې وُو، دا ټول دوه سوه او
دوه دېرش وُو. بیا هغهٔ د اِسرائیل لښکر راوغوښتلو چې ټول
اووهٔ زره سړی وُو. ۱۶ د اِسرائیل لښکر د غرمې په وخت د
جنګ دپاره راووتل، چې په دې وخت کښې بِن‌حدد او د هغهٔ
دوه دېرش ملګرى په خپلو خېمو کښې نشه وُو. ۱۷ اول
زلمی فوجیان وړاندې لاړل. بِن‌حدد چې کوم جاسوسان
لېږلی وُو نو هغوئ ورته ووئیل چې، ”څهٔ فوجیان د سامریه
نه راروان دی.“ ۱۸ هغهٔ حُکم وکړو، ”کهٔ هغوئ د جنګ یا د
صُلحې دپاره راروان وی نو ژوندی یې ونیسئ.“ ۱۹ زلمی
فوجیانو د جنګ مشرى کوله، چې د اِسرائیل لښکر ورپسې
وو، ۲۰ او هر فوجی یو یو دشمن ووژلو. شامیان وتښتېدل،
اِسرائیلیان ورپسې وُو، خو بِن‌حدد او د هغهٔ ملګرى په آسونو
باندې وتښتېدل. ۲۱ اخی‌اب بادشاه راووتلو، په آسونو او
جنګی ګاډو باندې یې حمله وکړه او شامیانو له یې یو
مضبوط شکست ورکړو. ۲۲ بیا پېغمبر اخی‌اب بادشاه له
لاړو او ورته یې وفرمائیل، ”واپس لاړ شه او خپل فوجیان
تیار کړه او صحیح منصوبې جوړې کړه، ځکه چې د شام
بادشاه به په راتلونکی سپرلی کښې بیا حمله کوی.“

## د شامیانو دویمه حمله

۲۳ د بِن‌حدد آفسرانو هغهٔ ته ووئیل، ”د بنی اِسرائیلو خُدایان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د غرونو خُدايان دی، نو ځکه اِسرائيل مونږ له شکست
راکړو. خو کۀ مونږ د هغوئ سره په مېدانونو کښې جنګ
وکړُو نو مونږ به يقيناً هغوئ له شکست ورکړُو. ۲۴ نو هغه
دوه دېرش بادشاهان د مشرئ نه لرې کړه او د هغوئ په ځائ
فوجی مشران مقرر کړه. ۲۵ بيا د هغه لښکر هومره يو بل
لوئ لښکر راغونډ کړه کوم چې ستا نه تلی وُو او هم هغه
هومره آسونه او جنګی ګاډی ورکړه. مونږ به د اِسرائيليانو
سره په مېدانونو کښې جنګ وکړُو او دا ځل به هغوئ له
شکست ورکړُو.“ بِن‌حدد بادشاه د هغوئ خبره ومنله او هم
داسې يې وکړل. ۲۶ په وربسې سپرلی کښې هغۀ خپل سړی
راوغوښتل او د هغوئ سره افيق ښار ته روان شو چې په
اِسرائيل حمله وکړی. ۲۷ اِسرائيليان راغونډ کړے شول او
د جنګ سامان يې راواخستلو، هغوئ روان شول او شاميانو
ته مخامخ يې خيمې ولګولې. اِسرائيليان د شاميانو په مقابله
کښې د چېلو د دوو وړو رَمو په شان ښکارېدل خو د شاميانو
نه ګېرچاپېره مُلک ډک وو. ۲۸ يو پيغمبر اخی‌اب بادشاه له
لاړو او ورته يې وفرمائيل، ”مالِک خُدائ داسې فرمائی چې
شاميان وائی چې زۀ د مېدانونو نۀ، بلکې د غرونو خُدائ يم،
نو ځکه به زۀ تاسو د هغوئ په لوئ لښکر باندې بريالی کړم
او تاسو ته به پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ يم.“ ۲۹ اووۀ
ورځې شاميان او اِسرائيليان په خپلو خيمو کښې يو بل ته
مخامخ ايسار وُو. په اوومه ورځ باندې هغوئ جنګ شروع
کړو او بنی اِسرائيلو يو لاک شاميان ووژل. ۳۰ او باقی
ژوندی پاتې شوی افيق ښار ته وتښتېدل، چرته چې د هغوئ
په اوويشت زره سړو باندې د ښار دېوالونه راوغورزېدل.
بِن‌حدد هم ښار ته وتښتېدو او د يو کور په دننني کوټه کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېټ شو. ۳۱ د هغهٔ آفسران ورغلل او هغهٔ ته يې ووئيل،
”مونږ اورېدلی دی چې د اِسرائيل بادشاهان رحم کوونکی
وی. مونږ له اجازت راکړه چې د ملا نه د ټاټ جامې او د
مرئ نه پړی تاو کړُو او د اِسرائيل بادشاه له ورشُو او کېدے
شی چې هغه تا ژوندے پرېږدی.“ ۳۲ نو هغوئ د خپلې ملا
نه د ټاټ جامې او د مرئ نه پړی تاو کړل او اخی‌اب له لاړل
او ورته يې ووئيل، ”ستا خِدمت کوونکے بِن‌حدد تا ته د خپل
ژوند سوال کوی.“ اخی‌اب ورته ووئيل، ”هغه لا ژوندے دے
څهٔ؟ ټيک ده، هغه زما ورور دے.“ ۳۳ د بِن‌حدد آفسران د
يوې ښې خبرې په طمع وُو او چې کله اخی‌اب ووئيل چې
”ورور“ نو هغوئ فوراً پوهه شول او وې وئيل، ”لکه څنګه
چې تا ووئيل، بِن‌حدد ستا ورور دے.“ نو اخی‌اب حُکم
وکړو، ”هغه ما له راولئ.“ کله چې بِن‌حدد راورسېدو، نو
اخی‌اب ورته ووئيل چې د هغهٔ سره په جنګی ګاډئ کښې
سور شی. ۳۴ بِن‌حدد هغهٔ ته ووئيل، ”زما پلار چې ستا پلار
نه کوم ښارونه اخستی وُو نو هغه به تا له واپس درکړم او تهٔ
په دمشق کښې د خپل ځان دپاره يو کاروباری مرکز
جوړولے شې، لکه څنګه چې زما پلار په سامريه کښې کړی
وُو.“ اخی‌اب ورته ووئيل، ”نو په دې شرطُونو به زهٔ تا آزاد
کړم.“ اخی‌اب د هغهٔ سره يوه معاهده وکړه او بِن‌حدد يې
پرېښودو چې لاړ شی.

## د يو پيغمبر اخی‌اب ته بدرد وئيل

۳۵ د مالِک خُدائ په حُکم د پيغمبرانو د قبيلې يو کس خپل
ملګری پيغمبر ته وفرمائيل چې ما ووهه. خو هغهٔ اِنکار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو، ۳۶ نو هغۀ ورته وفرمائيل، ”تا د مالِک خُدائ د حُکم
نافرمانی کړې ده، نو په دې وجه تۀ چې څنګه زما نه لاړ شې
نو يو زمرے به دې ووژنی.“ او چې څنګه هغه لاړو نو يو
زمرے راغلو او هغه يې ووژلو. ۳۷ نو هم دغه پېغمبر يو بل
سړی له لاړو او ورته يې وفرمائيل، ”ما ووهه،“ نو دې سړی
هغه ووهلو، او دومره سخت يې ووهلو چې زخمی شو. ۳۸
پېغمبر خپل مخ په پټۍ باندې وتړلو، چې خپل شکل بدل کړی
او لاړو او د سړک په غاړه ودرېدو او د اِسرائيل د بادشاه د
تېرېدو اِنتظار يې کولو. ۳۹ کوم وخت چې بادشاه تېرېدو،
نو هغه پېغمبر ورته آواز وکړو او ورته يې وفرمائيل، ”بادشاه
سلامت، زۀ په جنګ کښې جنګېدم چې يو فوجی ما له يو
نيولے شوے دشمن راوستلو او راته يې ووئيل، دې سړی ته
ګوره، کۀ دے درنه وتښتی، نو د دې سړی په بدل کښې به
خپل ژوند ورکوې او يا به درې زره د سپينو زرو سيکې
جرمانه ورکوې. ۴۰ خو زۀ په نورو کارونو کښې مصروف
شوم او هغه سړے وتښتېدو.“ بادشاه ورته وفرمائيل، ”تا په
خپله خبره کښې خپله فېصله کړې ده او تا ته به سزا
ملاويږی.“ ۴۱ نو پېغمبر د خپل مخ نه پټۍ لرې کړه او
بادشاه هغه فوراً وپېژندو چې دا خو پېغمبر دے. ۴۲ بيا
پېغمبر بادشاه ته وفرمائيل، ”دا د مالِک خُدائ کلام دے چې
تا هغه سړی له د تښتېدو اجازت ورکړو د کوم د وژلو چې
ما حُکم درکړے وو، نو د هغۀ د ژوند په بدل کښې به خپل
ژوند ورکوې او ستا خلق به څکه تباه شی چې د هغۀ خلق يې
تښتېدو ته پرېښی دی.“ ۴۳ نو بادشاه په يره او خفګان کښې
واپس سامريه ته لاړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نبوت د انګورو باغ

21 ۞١ نو په يزرعيل کښې د سامريه د اخى‌اب بادشاه د
محل سره نزدې د انګورو يو باغ وو چې د نبوت نومې سړى
وو. ۞٢ يوه ورځ اخى‌اب نبوت ته ووئيل، ”د انګورو باغ دې
ما له راکړه، دا زما د محل سره نزدې دے او زۀ د دې زمکې
نه د سبزى باغ جوړول غواړم. زۀ به تا له د دې نه ښۀ د
انګورو باغ درکړم، يا کۀ تۀ وائې نو زۀ به د دې قيمت
درکړم.“ ۞٣ نبوت ورته ووئيل، ”د انګورو دا باغ ما ته د پلار
نيکۀ نه په ميراث کښې مِلاو شوے دے، مالِک خُدائ دې ونۀ
کړى چې زۀ دا تا له درکړم.“ ۞٤ اخى‌اب کور ته لاړو او
چې نبوت ورته څۀ وئيلى وُو په هغې باندې خفه او غصه وو.
هغه په خپل کټ کښې څملاستو، ځان يې مرَور کړو او
خوراک يې نۀ کولو. ۞٥ د هغۀ ښځه ايزبل ورغله او تپوس
يې ترې نه وکړو، ”تۀ ولې دومره خفه يې؟ او خوراک ولې نۀ
کوې؟“ ۞٦ نو هغۀ ورته ووئيل، ”دا ځکه چې نبوت يزرعيلى
ته ما ووئيل چې زۀ به درنه د انګورو باغ په پېسو واخلم، يا
کۀ غواړې نو زۀ به د دې باغ په ځائ بل باغ درکړم، خو هغۀ
راته ووئيل، چې باغ تا له نۀ درکوم.“ ۞٧ ايزبل ورته ووئيل،
”نو تۀ د اِسرائيل بادشاه يې کۀ نه؟“ د کټ نه پاڅه، ”خپل زړۀ
خوشحال کړه او خوراک وکړه. زۀ به تا له د نبوت د انګورو
باغ واخلم.“ ۞٨ بيا هغې يو څو خطونه وليکل، د اخى‌اب
دستخط يې وربانديې وکړو، د هغۀ مهر يې وربانديې ولګولو او
د هغه ښار آفسرانو او مشرانو ته يې ولېږل چرته چې نبوت
اوسېدو. ۞٩ په خطونو کښې ليکلى شوى وُو، ”اعلان وکړئ
چې خلق روژه ونيسى، خلق دې راغونډ شى او نبوت له د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عزت ځائ ورکړی. ١٠ دوه بدمعاشان د هغهٔ مخامخ
کښېنوئ چې اِلزام ورباندې ولګوی چې هغهٔ د خُدائ پاک او
بادشاه ګستاخی کړې ده. بيا هغه د ښار نه بهر بوځئ او
سنګسار يې کړئ چې مړ شی.“ ١١ نو د نبوت ښار
اوسېدونکو مشرانو او آفسرانو هم هغه شان وکړل لکه څنګه
چې ورته ايزبل په هغه خطونو کښې ليکلی وُو. ١٢ هغوئ
اعلان وکړو چې نن روژه ونيسئ، خلق راغونډ شول او نبوت
له يې د عزت ځائ ورکړو. ١٣ هغه دوو بدمعاشانو د خلقو
په مينځ کښې په هغهٔ اِلزام ولګولو چې هغهٔ د خُدائ پاک او د
بادشاه ګستاخی کړې ده، نو هغه د ښار نه بهر بوتلے شو او
سنګسار يې کړو. ١٤ نو ايزبل ته دا پېغام ولېږلے شو چې،
”نبوت سنګسار شوے دے او مړ دے.“ ١٥ څنګه چې
ايزبل ته دا پېغام مِلاو شو، نو هغې اخي‌اب ته ووئيل، ”نبوت
مړ دے نو لاړ شه او د انګورو هغه باغ قبضه کړه، چې کوم
يې په تا باندې نهٔ خرڅولو.“ ١٦ نو اخي‌اب فوراً د انګورو
باغ ته لاړو او قبضه يې کړو. ١٧ بيا د مالِک خُدائ کلام د
تِشبی پېغمبر په الياس نازل شو چې، ١٨ ”د سامريه بادشاه
اخي‌اب له لاړ شه. هغه به تهٔ د نبوت د انګورو په باغ کښې
ووينې، چې په کوم باندې قبضه کوی. ١٩ هغهٔ ته ووايه چې
زهٔ مالِک خُدائ هغهٔ ته فرمايم چې د هغه سړی د وژلو نه
پس، د هغهٔ په جائيداد قبضه هم کوې څهٔ؟ هغهٔ ته ووايه چې
زهٔ داسې فرمايم، په کوم ځائ کښې چې سپو د نبوت وينه
وڅټله نو سپی به هلته ستا وينه هم وڅټی.“ ٢٠ کله چې
اخي‌اب الياس وليدو، نو هغهٔ ورته ووئيل، ”زما دشمنه، زهٔ
دې پيدا کړم؟“ الياس ورته وفرمائيل، ”آو، تهٔ مې پيدا کړې،
تا خپل ځان هغه څهٔ ته حواله کړے دے چې د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په نظر کښې غلط دی. ۲۱ نو مالِک خُدائ تا ته فرمائی چې
زۀ په تا تباهی راولم. زۀ به تا لرې کړم او ستا د خاندان هر
يو نر کس به ختم کړم، کۀ هغه بوډا وی او کۀ ځوان وی.
۲۲ ستا خاندان به د نباط زوئ يربعام بادشاه په شان او د
اخياه د زوئ بعشا بادشاه د خاندان په شان شی، ځکه چې
اِسرائيليان دې د ګناه طرف ته بوتلی دی نو تا زما غصه
راپارولې ده. ۲۳ او مالِک خُدائ د ايزبل په حقله فرمائی
چې د يزرعيل په ښار کښې به سپی د هغې لاش وخوری. ۲۴
ستا هر يو خپلوان چې په ښار کښې مړ شی نو سپی به يې
وخوری او څوک چې په مېدان کښې مړۀ شی نو مارغان به
يې وخوری.“ ۲۵ د اخی‌اب په شان داسې هيڅ څوک هم نۀ
وُو چې د مالِک خُدائ په نظر کښې يې دومره بد عمل کړے
وو او خپلې ښځې ايزبل ورباندې دا کار کړے دے. ۲۶ هغۀ
ډېر د بې‌شرمئ ګناهونه وکړل چې د بُتانو عبادت يې وکړو،
لکه څنګه چې اموريانو کړی وُو، کوم چې مالِک خُدائ په
هغه وخت کښې د هغه مُلک نه شړلی وُو چې بنی اِسرائيل مخ
په وړاندې تلل. ۲۷ کله چې اخی‌اب د الياس دا خبرې
واورېدې، نو اخی‌اب خپلې جامې وشلولې او وې ويستلې او
د ټاټ جامې يې واغوستلې. هغۀ خوراک نۀ کولو، د ټاټ په
جامو کښې اودۀ کېدو او سر وهلے بر وهلے ګرځېدو. ۲۸
د مالِک خُدائ کلام په الياس پېغمبر نازل شو چې، ۲۹ ”تا
ته پته لګېدلې ده څۀ چې اخی‌اب ما ته خپل ځان څومره
عاجز کړے دے؟ نو چې ترڅو پورې هغه ژوندے وی نو زۀ
به په هغۀ تباهی نۀ راولم، خو د هغۀ د خپل زوئ په ژوند کښې
به زۀ د اخی‌اب په خاندان باندې تباهی راولم.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ميکاياه پېغمبر اخي‌اب له خبردارے ورکول

۲۲ ۱ د اِسرائيل او د شام په مينځ کښې درې کاله امن
وو، ۲ خو په درېم کال د يهوداه بادشاه يهوسفط د اِسرائيل
بادشاه اخي‌اب سره مِلاوېدو دپاره لاړو. ۳ اخي‌اب د خپلو
آفسرانو نه تپوس وکړو، ”مونږ د شام د بادشاه نه د
رامات‌جِلعاد ښار واپس ولې وانۀ خستلو؟ دا خو زمونږ
دے.“ ۴ او اخي‌اب د يهوسفط نه تپوس وکړو، ”تۀ به ما
سره لاړ شې څۀ چې په رامات‌جِلعاد حمله وکړُو؟“ يهوسفط
ورته ووئيل، ”لکه څنګه چې زۀ ستا ملګرے يم، نو داسې زما
فوجيان ستا خپل فوجيان دی او زما آسونه ستا خپل آسونه
دی.“ ۵ او يهوسفط دا هم ووئيل، ”خو راځه چې اول د
مالِک خُدائ سره مشوره وکړُو.“ ۶ نو اخي‌اب تقريباً
څلور سوه پېغمبران راغونډ کړل، او تپوس يې ترې نه وکړو،
”ما له په رامات‌جِلعاد باندې حمله کول په کار دی او کۀ نه؟“
هغوئ ورته ووئيل، ”آو، حمله پرې وکړه، مالِک خُدائ به فتح
درکړی.“ ۷ خو يهوسفط ترې نه تپوس وکړو، ”داسې يو بل
پېغمبر نشته څۀ چې د هغۀ په ذريعه مونږ د مالِک خُدائ سره
مشوره وکړُو؟“ ۸ اخي‌اب ورته ووئيل، ”يو بل پېغمبر هم
شته چې د اِمله زوئ ميکاياه دے. خو زۀ د هغۀ نه نفرت
کوم، ځکه چې هغۀ زما دپاره هيڅکله هم ښۀ پېشګوئي نۀ ده
کړې، هميشه بده پېشګوئي راکوی.“ يهوسفط ورته ووئيل،
”بادشاه سلامت، داسې مۀ وايه.“ ۹ نو اخي‌اب د دربار يو
آفسر راوغوښتلو او ورته يې ووئيل چې لاړ شه او ميکاياه
فوراً راوله. ۱۰ د اِسرائيل بادشاه اخي‌اب او د يهوداه بادشاه
يهوسفط خپلې شاهی چُوغې اغوستې وې او د سامريه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دروازې نه بهر په درمند کښې په خپلو تختُونو باندې ناست
وُو او ټولو پېغمبرانو د هغوئ په حضور کښې پېشګويانې
ورکولې. ۱۱ په هغوئ کښې د کنعانه زوئ صدقياه د
اوسپنې ښکر جوړ کړل او اخىاب ته يې ووئيل، ”مالِک
خُدائ داسې فرمائى، د دې سره به تهٔ د شاميانو خِلاف جنګ
وکړې او تباه به يې کړې.“ ۱۲ هغه نورو ټولو پېغمبرانو هم
دغه شان وفرمائيل، ”رامات‌جِلعاد ته روان شه او تهٔ به
کامياب شې، مالِک خُدائ به تا له فتح درکړى.“ ۱۳ په دې
دوران کښې چې کوم آفسر د ميکاياه راوستو له تلے وو نو
هغهٔ ميکاياه ته ووئيل، ”ګوره، نورو ټولو پېغمبرانو د بادشاه د
کاميابۍ پېشګوئې ورکړې ده، نو لاړ شه او هم هغه خبرې
ورته وکړه.“ ۱۴ خو ميکاياه ورته وفرمائيل، ”زهٔ د ژوندى
مالِک خُدائ په نوم دا لوظ کوم چې هغه ما ته څهٔ وائى نو زهٔ
به هم هغه ووايم.“ ۱۵ کله چې هغه د بادشاه په مخکښې
حاضر شو، نو بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”ميکاياه، ما او
يهوسفط له په رامات‌جِلعاد باندې حمله کول په کار دى او کهٔ
نه؟“ ميکاياه ورته د چل سره ووئيل، ”آو، حمله ورباندې
وکړئ، بې‌شکه تاسو به بريالى شئ. مالِک خُدائ به تاسو له
فتح درکړى.“ ۱۶ خو اخىاب ووئيل، ”ما درته څو ځلې
وئيلى دى؟ چې کله تهٔ ما ته د مالِک خُدائ په نوم خبرې
کوې، نو رښتيا وايه.“ ۱۷ ميکاياه ورته وفرمائيل، ”ما په
خوب کښې د اِسرائيل لښکر په غرونو باندې داسې خور
وکتلو لکه چې د شپون نه بغير ګډې خورې ورې وى. او
مالِک خُدائ وفرمائيل چې د دې سړو مشر نشته، نو پرېږده
چې هغوئ په خير سره کورونو ته لاړ شى.“ ۱۸ اخىاب
يهوسفط ته ووئيل، ”ما تا ته نهٔ دى وئيلى څهٔ چې هغه زما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ښهٔ پېشګوئي نهٔ اوروی؟ د هغهٔ پېشګوئي تل بده وی.“
۱۹ میکایاه دا هم وفرمائیل چې، ”مالِک خُدائ ته غوږ
ونیسه چې هغه څهٔ فرمائی. ما په آسمان کښې مالِک خُدائ
ولیدو چې په خپل تخت باندې ناست وو او خپلې ټولې
فرښتې یې ښی او ګس طرف ته ولاړې وې. ۲۰ مالِک خُدائ
تپوس وکړو چې، اخی‌اب به څوک دوکه کړی چې لاړ شی او
په رامات‌جِلعاد کښې ووژلے شی؟ نو څهٔ فرښتو یو څهٔ
وفرمائیل او نورو بل څهٔ وفرمائیل، ۲۱ نو یوه ترې نه
راوړاندې شوه، مالِک خُدائ ته ورنزدې شوه او وې فرمائیل،
زهٔ به هغه دوکه کړم. ۲۲ مالِک خُدائ ترې نه تپوس وکړو
چې، څنګه؟ نو هغه روح ورته ووئیل چې، زهٔ به لاړ شم او د
اخی‌اب په ټولو پېغمبرانو به دروغ ووایم. نو مالِک خُدائ
ورته وفرمائیل چې، لاړ شه او هغه دوکه کړه. تهٔ به کامیاب
شې. ۲۳ مالِک خُدائ ستا پېغمبران دې ته جوړ کړی دی
چې دروغ ووائی ځکه هغهٔ په خپله دا فېصله کړې ده چې په
تا تباهی راشی.“ ۲۴ بیا صدقیاه پېغمبر میکایاه له ورنزدې
شو، په مخ یې څپېړه ورکړه او تپوس یې ترې نه وکړو، ”ستا
خیال دا دے څهٔ چې د مالِک خُدائ روح زما نه تلے دے او
تا سره یې خبرې کړې دی؟“ ۲۵ میکایاه ورته وفرمائیل، ”تا
ته به پته ولګی چې کله تهٔ د پټېدو دپاره یوې شاتنۍ کوټې ته
لاړ شې.“ ۲۶ بیا اخی‌اب خپل یو آفسر له حُکم ورکړو،
”میکایاه ګرفتار کړه او د ښار حکمران امون او یوآس
شهزاده له یې بوځه. ۲۷ هغوئ ته ووایه چې دې په قېدخانه
کښې واچوی او د لږې شان روټۍ او اوبو نه بغېر دې هیڅ هم
نهٔ ورکوی ترڅو پورې چې زهٔ په خېر سره واپس نهٔ یم
راغلے.“ ۲۸ میکایاه وفرمائیل، ”کهٔ تهٔ په خېر سره واپس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راشي، نو مالِک خُدائ به زما په ذریعه کلام نۀ وی کړے.“
او میکایاه دا هم وفرمائیل چې، ”زۀ څۀ وایم نو دا به یاد
ساتئ.“

## د اخی‌اب مرګ

۲۹ بیا د اِسرائیل بادشاه اخی‌اب او د یهوداه بادشاه
یهوسفط لاړل چې په رامات‌جِلعاد ښار حمله وکړی. ۳۰
اخی‌اب یهوسفط ته ووئیل، ”څنګه چې مونږ جنګ له لاړ شُو،
نو زۀ به خپل ځان بدل کړم، خو تۀ خپل شاهی لِباس
واغونده.“ نو د اِسرائیل بادشاه په بدل لِباس کښې جنګ له
لاړو. ۳۱ د شام بادشاه د خپلو دوه دېرشو جنګی ګاډو
فوجی مشرانو له حُکم ورکړے وو چې د اِسرائیل د بادشاه نه
بغیر به په هیچا باندې حمله نۀ کوئ. ۳۲ نو چې کله هغوئ
یهوسفط بادشاه ولیدو، نو د هغوئ ټولو خیال دا وو چې ګنې
هغه د اِسرائیلو بادشاه دے، نو هغوئ په هغۀ باندې د حملې
کولو دپاره راوګرځېدل. خو چې کله هغۀ چغه کړه، ۳۳ نو
هغوئ ته پته لګېده چې هغه د اِسرائیل بادشاه نۀ دے، نو
هغوئ ترې نه راواپس شول. ۳۴ خو یو شامی فوجی یو
غشے هسې وویشتلو او په دې باندې اخی‌اب د خپلې زغرې
د جوړ په مینځ کښې ولګېدو. نو اخی‌اب د خپلې جنګی ګاډۍ
چلوونکی ته آواز وکړو، ”زۀ زخمی شوم، واپس شه او د
جنګ نه ووځه.“ ۳۵ جنګ ټوله ورځ سخت وو، او اخی‌اب
بادشاه په خپله جنګی ګاډۍ کښې ایسار وو، تکیه یې وهلې وه
او شامیانو ته یې مخ وو. د هغۀ د زخم نه وینه بهېدله او وینې
د جنګی ګاډۍ تخت پېټ کړو او په ماښام کښې هغه مړ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ د نمرېړيواتو په وخت کښې د اِسرائيل په لښکر کښې
چغې جوړې شوې چې، ”تباه شُو، هر سړے دې خپل ځان
کور ته ورسی.“ ۳۷ نو اخىاب مړ شو. د هغهٔ لاش سامريه
ته يوړلے شو او ښخ کړے شو. ۳۸ د هغهٔ جنگى گاډی د
سامريه ډنډ سره صفا کړے شوه، چرته چې کنجرو لامبل نو
هلته سپو د هغهٔ وينې وڅټلې، لکه څنگه چې مالِک خُدائ
فرمائيلى وُو چې داسې به کيږی. ۳۹ اخىاب بادشاه چې
نور هر څهٔ هم کړی وُو، سره د هغه حِساب کِتاب چې د هغهٔ
محل د هاتى په غاښونو ښائسته کړے شوے وو او چې کوم
ټول ښارونه يې جوړ کړی وُو، دا هر څهٔ د اِسرائيل د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۴۰ نو د هغهٔ د
مرگ نه پس د هغهٔ په ځائ د هغهٔ زوئ اخزياه بادشاه شو.

## د يهوداه بادشاه يهوسفط

۴۱ د اِسرائيل د بادشاه اخىاب د بادشاهۍ په څلورم کال، د
آسا زوئ يهوسفط د يهوداه بادشاه جوړ شو. ۴۲ په دې
وخت کښې هغه د پينځو ديرشو کالو وو او پينځويشت کاله
يې په يروشلم باندې بادشاهى وکړه. د هغهٔ مور عزوبه د
سِلحى لور وه. ۴۳ د خپل پلار آسا په شان، هغهٔ هم هغه کار
کولو چې کوم د مالِک خُدائ په نظر کښې صحيح وو، خو
علاقائى عبادتخانې تباه شوې نهٔ وې او خلقو هلته نذرانې پېش
کولې او خوشبوئى يې سوزوله. ۴۴ يهوسفط د اِسرائيل د
بادشاه سره هم صُلح وکړه. ۴۵ يهوسفط چې نور هر څهٔ هم
کړی دی، د هغهٔ ټولې بهادرۍ او جنگونه، دا هر څهٔ د يهوداه
د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۴۶ هغهٔ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُلک نه هغه نران کنجران وشړل کومو چې د غېرو قومونو په
قربانګاه باندې خِدمت کولو چې هغوئ د هغهٔ د پلار آسا د
وخت نه دا کار نهٔ وو پرېښے. ۴۷ د ادوم په مُلک کښې
بادشاه نهٔ وو، په دې باندې يو خليفه حکومت کولو کوم چې
د يهوداه بادشاه مقرر کړے وو. ۴۸ يهوسفط بادشاه تجارتی
سمندری جهازُونه جوړ کړل چې د اوفير مُلک نه سرهٔ زر
راوړی، خو دا په عصيون‌جابر کښې مات شول او هيڅکله لا
نهٔ ړل. ۴۹ نو په هغه وخت د اخى‌اب زوئ اخزياه يهوسفط
ته ووئيل چې، ”زما سړی دې ستاسو د سړو سره سمندری
جهازُونه چلوی،“ خو يهوسفط دې ته راضی نهٔ شو. ۵۰
يهوسفط مړ شو او د داؤد په ښار کښې په شاهی اديره کښې
ښخ شو او د هغهٔ زوئ يهورام د هغهٔ نه پس بادشاه شو.

## د اِسرائيل بادشاه اخزياه

۵۱ د يهوداه بادشاه يهوسفط د بادشاهۍ په اوولسم کال، د
اخى‌اب زوئ اخزياه د اِسرائيل بادشاه جوړ شو او هغهٔ په
سامريه باندې دوه کاله بادشاهی وکړه. ۵۲ هغهٔ مالِک
خُدائ نارضا کړو او د خپل پلار اخى‌اب، د خپلې مور ايزبل
او د يربعام بادشاه په بد مثال باندې يې عمل وکړو، چا چې
اِسرائيليان د ګناه طرف ته بوتلی وُو. ۵۳ هغهٔ د بعل عبادت
او خِدمت وکړو، لکه څنګه چې مخکښې د هغهٔ پلار کړے
وو. هغهٔ د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک غصه
راوپاروله.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.